# د تصوف په اړه ځينې حقايق

حکمتيار

# د تصوف په اړه ځيني حقايق

حكمتيار

فهرست

| عنوان | صفحه |
|---|---|


د ناشر وینا........................................................ ٥
د تصوف په اړه ځیني حقایق.................................... ١٠
د جن سوره:....................................................... ١١
تقوی، بر او احسان: .......................................... ١٥
محکمات او متشابهات: ........................................ ١٨
شهود:.............................................................. ٢٤
وجد او مستي: ..................................................... ٢٧
خضر علیه السلام : ............................................... ٣١
د ولایت نور:...................................................... ٧٠
اهل العلم، اهل الذکر او اهل الخبر:........................ ٧١
علم الیقین، عین الیقین او حق الیقین:..................... ٧٤
په ژوند کې د عرش، جنت او دوزخ لیدل: ................ ٧٧
آیا اولیاء الله په غیب پوهېږي؟:.............................. ٧٩
د الله تعالی عطاء خنګه ده؟:................................ ١٠٣
اهل بیت: ........................................................ ١١٢
د شیعه وو په اړه یوه رؤیا: ................................... ١١٥
د اهل بیت مناقب:............................................. ١١٦
اهل بیت، آل او اولاد: ....................................... ١٢٦

د مرگ له ځای او نېټې خبرېدا:............................................. ۱۲٦
علیه السلام او رضی الله عنه:................................................ ۱۲۸
آیا په قرآن کې ټول احکام نشته؟........................................... ۱۲۹
نهج البلاغه:.......................................................................... ۱۳۲
د Q ټلویزیوني چینل په اړه:................................................. ۱۳۵
تتمه:..................................................................................... ۱٤۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر وینا

الحمد لله چې د اسلامي دعوت په تاوده سنګر کې د یوه بل ارزښتناك او علمي اثر د خپراوې سعادت ترلاسه کوو، دا د یوه مشهور پاکستاني خطیب او د تصوف ستر مدافع او مبلغ ډاکټر محمد طاهر القادري په نامه د ورور حکمتیار له لوري لیږل شوی مفصل لیك دئ چې د موضوع اهمیت ته په پام سره مو د یوې رسالې په ډول د هغه خپرول او خپل خدای پال ولس ته د هغه ډالۍ کول مفید وګڼل.

ښایي هیڅ مؤمن او حساس داعي به له موږ سره په دې کې اختلاف ونه لري چې د تصوف نوم او سلسله د اسلامي امت د تاریخ په یوه خاص پړاو کې او په دې نیت رامنځته شوی چې د مسلمانانو تعلق له الله تعالی سره مضبوط کړي او معنویاتو ته د دوی توجه راواړوي، خو له یوې خوا د غرض خاوندانو په هغه کې ناوړه تصرفات کړي او له بلې خوا جهل او ناپوهي د دې باعث شوې چې د تصوف تر جالب نامه لاندې ډېر خرافي افکار او شرك لړلي عقاید په اسلامي امت کې په عامه توګه او په افغانانو کې

په خاصه توګه خواره شوي، دا افکار نه یوازې دا چې له قرآن او حدیث سره په بشپړه توګه مغایرت لري، بلکې له یوې خوا ئې په امت کې اختلافات راولاړ کړي او له بلې خوا خلك له اصلي لارې منحرفوي، له ژوند او د ژوند له اړوند قضایاوو ئې پام بل لوري ته اړوي، رهبانیت ته ئې بلې، د خلکو توجه له خالق نه مخلوق ته اړوي، له ژوندي خدای نه مړي انسان ته، د عرش له مالك نه قبرونو او قصرونو ته، له جومات نه زیارت ته، د قرآن له تلاوت نه ساز، سرود، قوالي او نعت ته، له جهاد نه رهبانیت ته او له سنګر نه د خانقا کونج ته، د اسلامي نظام د پلي کولو په لار کې له دعوت او جهاد نه ئې لاس اخیستو ته هڅوي، خلکو ته وایي که د مرشد لمن ونیسې نو هغه مقام ته رسېدی شې چې مجاهدین ئې په جهادونو او شهیدان ئې په شهادتونو نشي ترلاسه کولی، هغوی ته وایي: مرشد په غیب پوهېږي، هغه د بنده او الله تعالی تر منځ وسیله او واسطه دئ، خدای یوازې د دوی له لارې دعاګانې قبلوي او حاجتونه ترسره کوي!!! دا په داسې حال کې چې قرآن په پرېکنده او صریح الفاظو او په مکرره توګه فرمایي: عبادت به مو یوازې الله تعالی ته وي او استعانت به مو یوازې له الله تعالی نه، له الله تعالی پرته به نه د بل څه او بل چا عبادت کوئ او نه به بل چا ته د دعاء لاسونه اوچتوئ، له الله تعالی نه پرته نه په آسمانونو کې څوك په غیب پوهېږي او نه په زمکې کې، ستاسو رب تاسو ته د غاړې تر رګ هم ډېر درنږدې دئ، په هر ځای کې درسره دئ، دعاګانې مو اوري، حاجتونه مو ترسره کوي او مشکلات مو حلوي، له هغه چا زیات راضي کېږي چې زیاته دعاء ورته کوي او له هغه چا ناراضه کېږي چې د ده په ځای بل چا ته

دعاء کوي، هغه څوك هیڅکله نه بخښي چې په (عبادت) او (دعاء) کې له الله تعالی سره بل څوك شریك کړي.

که د دغو خرافي افکارو او شرك لړلو عقایدو جرړو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چې ترشا ئې یا د خطرناکو او ځېرکو دښمنانو لاس دئ، یا د ټګمارانو او یا د جاهلانو. دا نن نن غربي استعمار په دې اړه پراخې پانګونې کوي چې دغه افکار په مسلمانانو کې خواره شي، دا تصادفي خبره مه ګڼئ چې ملګرو ملتونو ولې د غربي هېوادو په وینا یو کال د مولانا جلال الدین رومي په نامه یاد کړ!! ولې په بي بي سي، امریکا غږ او نورو غربي رسنیو کې د مثنوي او د حافظ شیرازي د کلیات لپاره پراخ تبلیغات کېږي، دوی غواړي مسلمانان له هغه قرآن نه بل لوري ته مخه کړي چې د الله تعالی په لار کې په خپل سر او مال د جهاد بلنه ورکوي، مسلمانانو ته امر کوي چې تر هغه له کفارو سره وجنګېږئ چې د الله دین پر ټولو ادیانو غالب شي او د ځمکې پر سر له الهي دین نه پرته بل دین او نظام نه وي. دوی خو پر اسلامي نړۍ له سیاسي، اقتصادي او نظامي پلوه حکومت کوي، سلطه او ګټې ئې د هغه چا له لوري ګواښل کېږي چې دا قرآن ئې لارښود وي، له هغه چا؛ نه یوازې وېره نه لري بلکې د ځان لپاره ئې ډېر ګټور ګڼي چې د مسلمانانو ذهن او فکر تخدیر کړي، د دوی په ضد ئې مقاومت او جهاد ته ونه هڅوي، په ذکر، تسبیح، اوراد او اذکارو ئې مصروف وساتي او حتی ورته ووایي: (غوث، قطب او ابدالو) د دوی د راتلو او پر مسلمانانو د مسلط کېدو پرېکړه کړې، هغه مهال به وځي چې دوی ئې د بېرته وتلو فیصله وکړي، ستا جهاد، مقاومت او قربانۍ هیڅ ګټه نه لري او له دې لارې

هیڅکله خپلو موخو ته نشې رسېدی!!

دښمنان غواړي له اسلام نه یو داسي کرکجن انځور وړاندي کړي چي هر چا ته د خندا وړ وي، هر لیدونکی له اسلام نه بې زاره کړي، هغه یو خرافي او مسخره دین معرفي کړي، دوی د شیعه وو د عزاداري مراسم او په زنځیرونو ځان وهل، د بري امام او داتا ګنج بخش په زیارتونو کي د چرسي ملنګانو وجد او مستي ډېر خوښوي او په اروپا او امریکا کي ئې ننداري ته ږدي.

ځیني خلك تصوف ته په داسي سترګه ګوري چي ګواکي دا له الله تعالی سره د انسان د تعلق ټینګولو یوه ذریعه ده، دوی ته باید ووایو: پیغمبر علیه السلام موږ ته ټولي هغه لاري، چاري او طریقې راښودلې دي چي د بنده تعلق له خپل رب سره ټینګوي، هغه فرمایي چي الله تعالی ته د نږدې کېدو تر ټولو ډاډمنه، نږدې او صحیح لار د فرایضو سرته رسول دي، یعني په لمانځه، روژې، زکات، حج او جهاد سره کولی شئ خپل رب ته ورنږدې شئ او د هغه تقرب مو په برخه شي، آیا دا کافي نه دي؟ شریعت خو موږ ته اجازه نه راکوي چي څه پر دین زیات یا ترې راکم کړو، د اهل کتابو په اړه د یوه بحث په ترڅ کي موږ ته لارښوونه کوي چي هغوی له خپله ځانه رهبانیت رامنځته کړ، الله تعالی نه وو پرې لازم کړی، خو بیا ئې مراعات نه کړ!! دا لارښوونه کافي ده چي هر مؤمن انسان په دین کي له ځانه طریقې جوړي نه کړي، حتی که په ښه نیت هم وي.

تاسو به په دې رساله کي د تصوف په اړه داسي دقیق، مشرح او علمي

بحث ومومئ چي تنده مو رفعه او پوښتنو ته مو مضبوط او قانع کوونکي ځوابونه ترلاسه کړئ، موږ په دې هيله دا رساله خپل اسلامپال او پر خدای مين ولس ته ډالۍ کوو چي په نږدې راتلونکي کي افغانستان د يوې داسي ټولني په توګه وګورو چي د مدينې منورې هغي ټولني ته ورته وي چي د رسول الله صلی الله عليه و سلم په مبارکو لاسونو جوړه شوه، د قرآن له زلال او شفافي چينې خړوبېده، د الله تعالی په لار کي د جهاد په سبب د يوه داسي ستر هېواد په پلازمېني بدله شوه چي له اندونيزيا نه تر هسپانيا او له کاشغر نه تر يمن پوري غزېدلی وو، د وخت دوه ستر ستر ځواکونه ئې په وراندي په ګونډه شول او د الله تعالی د غوره او آزادي بخښونکي دين شين بيرغ د نړۍ په ګوټ ګوټ کي په رپيدا راغی.

و ما ذلك على الله بعزيز

د ميثاق ايثار اداره

بسم الله الرحمن الرحيم

# د تصوف په اړه ځيني حقايق

فَبَشِّرْ عِبَادِ الَّذِينَ يَستَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولَئِكَ الَّذِينَ هَدَاهُمُ اللَّه وَ أُولَئِكَ هُمْ أُولُوا الأَلْبَابِ * صدق الله العظيم

محترم ډاکټر محمدطاهر القادري! السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

څه وخت مخکې داسي فرصت په لاس راغی چي ستا ځيني ويناوي د تلويزيون له لاري واورم، څو ورځي مي پرله پسې ستا خبري تعقيب کړې، په هر آيت او حديث چي تا په خپلو ويناوو کې استناد کاوو هغه مي په دقت سره له نظره تېراوو او اړوند کتابونو ته ئې تلم او سياق و سباق، متن، إسناد او د علماوو آراء مي لوستل، په پای کې څو نتيجو ته رسېدلی يم چي د يوه امين ناصح په توګه ئې تاسو ته ليکم، خو تر دې د مخه دا مناسب ګڼم چي د ځان په اړه دومره معلومات درکړم چي باعث شي زما ليکنه په غور او دقت سره ولولې، دا هم د يوسف عليه السلام په سنت د عمل کولو په موخه، نه د ځان ستايني لپاره، الله تعالی ته له ځان ستايلو

پناه وړو، هدف مي دا دئ چي ته گمان ونه کړې کوم بې علمه، بې عمله، ستا کوم مذهبي حريف او رقيب تا ته دا خط ليکلی: ما د خپل شپېته کلن ژوند څلوېښت کلونه په دعوت، هجرت، جهاد، زندان، د ديني علومو په تعليم او تدريس کي تېر کړي، د قرآن دوه ثلثه مي حفظ کړي، صحاح سته، مشکوة او د الباني سلسله مي لوستلي، نږدې نيمايي قرآن مي په څلورو جلدونو کي تفسير کړی، په پنځم ئې مصروف يم.

زه د دې خط د ليکلو په مهال دا گمان هم نه کوم چي ته به زما له ويناوو سره توافق وکړې، ځکه زه هغه څه درته ليکم چي په قرآن او د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي په صريحو الفاظو راغلي، دا به حتماً تر دې د مخه ستا له نظره تېر شوي وي، خو زه د خپل ديني مسئوليت د ادا کولو لپاره دا مطالب تا ته ليکم، ستا د ويناوو له اورېدو وروسته که څه درته ونه ليکم نو د گناه احساس به کوم او داسي به گڼم چي ما له حق دفاع ونه کړه او دومره مي هم ونه کړل چي د يوه خط په ليکلو سره له قرآن او حديث دفاع وکړم او هغه غلط تعبيرونه تصحيح کړم چي سل په سلو کي د حقيقت خلاف او له قرآن او سنت سره متعارض راته ثابت شوي. ستا د هغو ويناوو محوري برخه له تصوف دفاع وه چي ما واورېدې؛ خو د تصوف په اړه چي تا څه ويلي ټول مي د قرآن، حديث، عقل او علم خلاف موندلي، چي دا دئ څو مثالونه ئې تاسو ته ليکم:

## د جن سوره:

تا د جن د سورې په څو آيتونو استناد وکړ، په داسي حال کي چي دا

سوره له سره تر پايه د هغه تصوف پر واهي بنسټونو سخت سخت ګوزارونه کوي چي ته ترې دفاع کوې، ستا تصوف وايي چي مرشد په غيب پوهېږي!! خو د دې سورې لومړی آيت وايي چي پيغمبر عليه السلام له دې خبر نه وو چي د جناتو يوه ډله راغلې، د ده تلاوت ئې اورېدلی، ايمان ئې راوړی، او ... د جن د سورې له نازلېدو وروسته له دې پېښې خبر شو.

د هغه چا په ځواب کې چي ادعاء کوي د جناتو له لاري په غيبي خبرو پوهېږي؛ وايي: جنات په غيب نه پوهېږي، آسمان ته نشي ختی، استراق السمع نشی کولی، هغو فرشتو ته هم نشي ورنږدې کېدی چي الهي احکام انتقالوي؛ ځکه د هغوی شا او مخي ته داسي ساتونکي ګمارل کېږي چي هيڅوک ورنږدې کېدی نشي. جنات وايي:

وَأَنَّا لَا نَدْرِي أَشَرٌّ أُرِيدَ بِمَنْ فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا * الجن: ١٠

موږ نه پوهېږو چي د زمکي اوسېدونکو ته د شر اراده شوې او که ئې خپل رب د رشد او هدايت اراده ورته کړې.

په دې سوره کې پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي چي خلکو ته ووايي:

قُلْ إِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ مَا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُ رَبِّي أَمَدًا * عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * الجن: ٢٥- ٢٦

ووايه: نه پوهېږم چي آيا هغه څه رانږدې دي چي وعده ئې درکول کېږي او که رب به مي د هغې تر راسېدو کوم وخت او موده وټاکي. عالم الغيب رب چي په خپلو غيبي اسرارو هيڅوک نه خبروي.

يعني نه زه له غيبه خبر يم او نه له الله تعالی پرته بل څوک.

ستا تصوف وايي چې مرشد حتی له مرګه وروسته هم له بغداد او اجمیر نه په لاهور کې خپلو مخلصینو ته فیض رسولی شي!! خو دا سوره پیغمبر علیه السلام ته وایي:

قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا * الجن: ۲۱

ووایه! یقیناً چې زه تاسو ته نه د کوم تاوان څښتن یم او نه د کوم هدایت او رشد.

چې پیغمبر علیه السلام په خپل ژوند کې خلکو ته د ګټې او ضرر مالك او واکمن نه وو؛ نو بلخوك به څنګه خلکو ته د ګټې رسولو او ضرر دفعه کولو اختیار او توان لري، او هغه هم له مرګه وروسته او له قبره؟!!

ته چې د (روحاني فیض) په نامه څه یادوې، دا له ځانه جوړه شوې جعلي اصطلاح ده، هیڅ دیني بنسټ نه لري، نه په قرآن کې راغلې او نه په احادیثو کې، قرآن موږ ته وایي چې نوح علیه السلام خپل زوی او مېرمني ته په خپل کور کې څه روحاني فیض نشو رسولی، دواړه غرق شول، نو ستا مرشد به په اجمیر او بغداد کې له خپل قبر نه څنګه په لاهور کې خپل مرید ته (روحاني فیض) ورسولی شي؟!! پیغمبر علیه السلام خپل تره ابوطالب چې ډېري سترې او نه هېرېدونکې ښېګنې ئې ورسره کړې وې او د ده د هدایت سخته تلوسه ئې درلوده خو په دې ونه توانېدو چې د روحاني فیض په مرسته ئې هدایت کړي او ایمان راوړو ته ئې تیار کړي، قرآن ورته فرمایي:

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ * القصص: ٥٦

يقيناً چي ته (اې محمده) هغه څوك نشې هدايتولی چي محبت ورسره لرې، خو الله هغه څوك هدايتوي چي وئې غواړي، او هغه په لارموندونكو ترټولو زيات پوه دئ.

تا چي د (طريقت) د اثبات لپاره د جن د سورې په دغه آيت استناد كړی:

وَأَنَّا مِنَّا الصَّالِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَلِكَ كُنَّا طَرَائِقَ قِدَدًا * الجن: ١١

او دا چي ځيني مو صالح دي او ځيني مو غير له دې، او مونږ د بېلو بېلو تګلارو خاوندان وو.

دا تحريف ته ورته استناد دئ، دا آيت وايي چي جناتو خپل حالت داسي بيان كړی: ځيني مو صالحان دي او ځيني غيرصالح، په بېلو بېلو لارو روان ډلي ډلي يو، نه پوهېږو د دې آيت له كومه ځايه تا د طريقت مشرب راايستلی او هغه دي د قرآن مطابق مشرب ګڼلی؟!! داسي ادعاء خو يوازي هغه څوك كولی شي چي مخي ته ئې له قرآنه بې خبره جهال ناست وي او هغه غواړي خپله هره غلطه خبره په داسي توګه وړاندي كړي چي ګواكي د قرآن مطابق ده!! همدا راز د دې سورې په بل آيت:

وَأَنْ لَوِ اسْتَقَامُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَاهُمْ مَاءً غَدَقًا * الجن: ١٦

او دا چي كه په دې لار نېغ پاته شي په پرېمانه اوبو به ئې خړوبه كړو)، ستا استناد ناوارده استناد دئ، دلته له طريقت نه مراد ستا طريقت نه دئ،

بلکي په مخکني آيت کې چې جناتو ويلي: زموږ ځيني مسلمانان دي او ځيني قاسطون .... وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولَئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا * الجن: ١٤

په ورپسې آيت کې د جناتو دغه مسلماني او اسلام د طريقة په نامه ياد شوی، يعني که دوی په اسلام استقامت وکړي؛ نو پراخ رزق به ورپه برخه کړو، عجيبه ده چې ته له دې د تصوف طريقت راباسي!!

بيا خو مناسب دا ده چې ته د فرعون له هغې وينا هم د طريقت اصطلاح راوباسې چې خپلو پلويانو ته د ده په دين د ټينګ پاته کېدو لپاره وايي: موسی او هارون (عليهما السلام ) راغلي چې ستاسو غوره طريقت ختم کړي: قَالُوا إِنْ هَذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُمْ مِنْ أَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَى * طه: ٦٣

وئې ويل: دا دواړه (موسی او هارون عليهما السلام) خو يقيناً چې جادوګران دي، غواړي په خپل جادو سره تاسو له خپلو سيمو وباسي او ستاسو غوره طريقت له منځه يوسي!!

## تقوی، بر او احسان:

ته چې د تقوی، بر او احسان په اړه کوم تعبيرونه وړاندې کوې او د تصوف او صوفيانو په معنی ئې اخلې ټول ئې د قرآن خلاف دي، دا قرآني اصطلاحات د مسلمان د عملي ژوند بېل بېل اړخونه توضيح کوي، راشه دغو آيتونو ته لږ ځير شه:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قَاتِلُوا الَّذِينَ يَلُونَكُمْ مِنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ * التوبه: ۱۲۳

اې مؤمنانو! له هغو کافرانو سره وجنګېږئ چې درنږدې دي او حتماً دي په تاسو کې زيږوالی ومومي، او په دې پوه شئ چې الله له داسي متقيانو سره (مل) دئ.

دلته هغو قتال کوونکو مجاهدينو ته د متقيانو نوم ورکړی شوی چې: له نږدې کافرانو سره جنګېږي او له هغوی سره په خپل چلند کې غلظت ښيي او له نرمښت نه ډډه کوي.

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ * العنکبوت: ۶۹

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې ورته وښيو او يقيناً چې الله له دغو محسنينو سره دئ.

دلته هغه مجاهدين د (محسنين) په نامه ياد شوي چې د الله په لار کې جهاد کوي او د همدې جهاد په طفيل؛ الله تعالی د هدايت ټولې لارې د دوی پر مخ پرانيستې دي او د ژوند په هرې برخې کې ئې الله تعالی لارښوونه کوې. عجيبه ده چې تا له دې خرګند آيت نه دا غلطه انتباه اخيستې چې د خانقا او کوم زيارت په کونج کې ناست صوفي ته د محسن نوم ورکوې او له سبلنا نه د طريقت څلور طريقې راباسې!! ته او خدای دې آيا دا ډېر کرکجن تعبير او له قرآن سره ستره بې باکي نه ده؟!!

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ* آل عمران: ۹۲

هیڅکله به ښېګڼې ته ونه رسئ ترڅو له خپلو محبوبو شیانو نه څه انفاق نه کړئ او څه چې انفاق کوئ نو الله ورباندې ښه پوه دئ.

دلته قرآن د الله تعالی په لار کې ایثار او قربانۍ ته د بر نوم ورکړی او فرمايي چې هغه څوك د بر او ابرارو مقام ته رسېدی شي چې تر ټولو زيات محبوب شيان د الله تعالی په لار کې قرباني کړي، او هر څوك پوهېږي چې د دې ښه مصداق هغه مجاهد دئ چې خپل سر او مال د الله په لار کې قرباني کوي، نه ستا د ادعاء مطابق په زیارت او خانقا کې ناست هغه ذاکر چې د نورو جیب او لاس ته طمعه لري او معيشت ئې د بل په خیراتونو، صدقاتو، شکرانو او نذرانو تأمين کېږي. آیا د پیغمبر علیه السلام هغه وینا دې اورېدلې چې فرمايي: د سنګر یوه ورځ په نورو ځایونو کې تر زرو میاشتو عبادت غوره ده، حتی که دا په حرم کې او په داسې عبادت تېر کړې چې د شپې قیام کوې او د ورځې روژه نیسې، په همدې عبادت سره هم د هغه مجاهد د یوې ورځې ثواب او مقام نشي ترلاسه کولی چې په سنګر کې پروت وي.

عن أنس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لغدوة في سبيل الله أو روحة خير من الدنيا وما فيها ذكر تفضل الله جل وعلا على الواقف ساعة في سبيل الله بإعطائه خيرا من مصادفة ليلة القدر بالمسجد الحرام

عن أَبُو صَالِحٍ مَوْلَى عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّه عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّه صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّه خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ يَوْمٍ فِيمَا سِوَاهُ مِنْ الْمَنَازِلِ

جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَعْدِلُ الْجِهَادَ قَالَ لَا أَجِدُهُ هَلْ تَسْتَطِيعُ إِذَا خَرَجَ الْمُجَاهِدُ تَدْخُلُ مَسْجِدًا فَتَقُومَ لَا تَفْتُرَ وَتَصُومَ لَا تُفْطِرَ قَالَ مَنْ يَسْتَطِيعُ ذَلِكَ

عَنْ سَلْمَانَ الْخَيْرِعَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَابَطَ يَوْمًا وَلَيْلَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَانَ لَهُ كَأَجْرِ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ

آيا هغه حديث دي نه دئ اورېدلی چي پيغمبر عليه السلام فرمايي: زموږ په دين کي رهبانيت نشته، زموږ د دين رهبانيت جهاد دئ.

## محکمات او متشابهات:

د محکمات او متشابهات په اړه چي تا څه ويلي کاملاً بې بنسټه دي: الله تعالی آيتونه په دوو ډولونو وېشلي: محکم او متشابه، خو ته ئې درې ډوله گڼې او حروف مقطعات يو بېل ډول گڼې، او وايي چي دا د پيغمبر عليه السلام او الله تعالی تر منځ يو سر او رمز دئ چي بل څوک پرې نه پوهېږي!! دا يو تور دئ هم پر قرآن او هم پر پيغمبر عليه السلام، نه په قرآن کي مبهم لفظ شته او نه پيغمبر عليه السلام د الهي وحي کوم څه له ځان سره پټ ساتلي او امت ته ئې له ابلاغ او بيان نه ډډه کړې، داسي اتهام هغه څوک واردولی شي چي نه له قرآنه خبر وي او نه پيغمبر عليه السلام پېژني.

د متشابه په اړه ستا دا ادعاء هم بې بنسټه ده چي راسخين في العلم پرې پوهېږي، دا خبره هغه څوک کولی شي چي نه ئې د آيت ترکيب ته توجه کړې او نه د متشابه په معنی پوهېږي، راشئ دې آيت او الفاظو

او ترکیب ته ئې لږ ځیر شو:

هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ * آل عمران: ۷

الله هغه ذات دئ چې دا کتاب ئې پرتا نازل کړ، چې ځینې آیتونه ئې محکم دي، چې دا د کتاب بنسټ دئ او نور ئې متشابه دي، نو هغه کسان چې په زړونو کې ئې کوږوالی دئ په متشابه پسې ئې درومي، د فتنې په لټه کې او د تأویل په لټه کې، پداسې حال کې چې په تأویل ئې له الله پرته هیڅوک نه پوهېږي او هغه چې د راسخ علم خاوندان دي وايي: موږ ایمان پرې راوړی، ټول زموږ د رب له لوري دي او پند نه اخلي مګر د عقل خاوندان.

دا مبارک آیت څو مهم مطالب زموږ مخې ته ږدي:

- د دې کتاب ځینې آیتونه "محکم" دي او ځینې ئې "متشابه"
- د کتاب اصلي او اساسي مطالب په هغو آیتونو کې راغلي چې محکم دي ا و تشبیه نده پکې کارول شوې.
- متشابه آیتونه چې په مفهوم ئې پوهېدل غور او دقت غواړي باید همدې محکمو آیتونو ته راجع شي او د همدی آیتونو په رڼاکې تفسیر او توضیح شي.
- هغه کسان چې په زړونو کې ئې خیرې او کوږوالی وي، د دې په ځای

چې د متشابه آیتونو په مراد باندې ایمان کافي وګڼي، برعکس د دې آیتونو په تأویل د پوهېدو هڅه او لټه کوي او غواړي هغه د خپل بحث او تحقیق محور وګرځوي.

- هغه کسان چې غواړي دغه ډول آیتونه د مناقشې او بحث موضوع وګرځوي، هغوی په حقیقت کې یا د فتنو راولاړول غواړي، د دې هڅه کوي چې د الله تعالی په اړه د مسلمانانو په زړونو کې شکوک او شبهات راولاړ کړي او خلك د محکمو آیتونو له مفاهیمو نه بل لور ته واړوي او یا دا چې غواړي د متشابهاتو په تأویل ځان پوه کړي. د تأویل لغوي معنی اول یا اصل ته اړول دي، تأویل یعنی د متشابه آیت فعلي حالت د هغه لومړني حالت ته ګرځول، یعني دوی غواړي په دې پوه شي چې د دې متشابه اصلي او اولني حالت او کیفیت څنګه دئ؟!

- دا هلې ځلې او دا هڅه او هاند د هغه چا کار دئ چې زړه ئې کوږ او خیرن وي، پر زړه او دماغ ئې شکونو سیورې غوړولې وي.

- د متشابهاتو د تأویل علم یوازې له الله تعالی سره دئ، بل هیڅوك نشي کولی په هغه باندې پوه شي، ځکه الله تعالی هغه غیبي او له سترګو نه پټ شیان چې انسان ئې نه پېژني او نه په خپل قاموس کې ورته نوم لري، د انسان د ښې پوهې پخاطر له محسوسو او پېژندل شوو شیانو سره تشبیه کړي او پداسې الفاظو سره ئې معرفي کړې دي چې په حقیقت کې د ښکاره او څرګندو شیانو لپاره استعمالېږي. د دې لپاره چې هغه د انسان لپاره د فهم وړ وګرځوي او د هغه څیز د حقیقت په اړه نسبي تصور ورته حاصل

شي، د دې مطلب دا شو چې د دغو شیانو د معرفې لپاره ترممکنه حده او تر هغه ځایه چې د انسان عقل ته مقدور ده اهتمام شوی او د متشابه آیتونو په ترڅ کې معرفي شوي، د انسان د عقل نیلۍ لدې نه آخوا وړاندې نشي تلي، دا د ده د الوت وروستئ پړاو دئ، آخوا ته ئې لاس نه رسېږي، د ده له عقل او ادراك نه لوړ دي، الله تعالی د همدې ډول شیانو د معرفې کولو لپاره ښه لازمه ځرګندونه کړې ده او د انسان د عقلي قوت مطابق وضاحت ئې کړی، خو لدې نه آخوا د انسان عقل د مخکې تګ مجال نه لري، باید همدلته ودرېږي او د متشابهاتو له تأویل نه ځان وساتي. د انسان د عقل او پوهی قصور، د حواسو او مشاعرو محدودیت ئې او د ژبې او قاموس عدم جامعیت ئې باعث شوي چې له مخکې تګ نه عاجز شي او د متشابهاتو په حقیقت تر دې زیات پوه نشي.

پداسې حال کې چې د قرآنکریم دا مبارك آیت په پوره صراحت او وضاحت سره دا بیانوي چې د کږو، رنځورو، خیرنو، له شك او شبهاتو نه د ډکو زړونو خاوندان د متشابهاتو د تأویل په لټه کې وي، متأسفانه د ځینو مذهبي فرقو پلویان د دې آیت د صریح حکم خلاف دعوی کوي چې د دوی ائمه د متشابهاتو په تأویل پوهېږي، دوی د دې ادعاء کوي چې په علم کې پاخه "الراسخون في العلم" مستثنی شوي، دوی کولی شي د متشابهاتو په تأویل پوه شي. د آیت د دوهمي برخې په اړه د دوی دا انګېرنه په ځرګنده توګه د همدی آیت له لومړنۍ برخی سره تناقض لري، د دوی دا تعبیر بالکل غلط او کمزوری دئ، ځکه د آیت په سرکې راغې چې د رنځورو زړونو خاوندان د متشابهاتو د تأویل هڅه کوي، دا ممکنه نده چې

د علم خاوندان د داسي يوه عمل هڅه وکړي.

- عالمان ټول آيتونه د الله تعالی له لوري شمېري، ايمان ورباندي راوړی او هوښياران پند ترې اخلي.

له دې آيت نه معلومېږي چي د قرآن آيتونه دوه ډوله دي:

- محکم آيتونه: هغه چي د الفاظو مراد او معنی ئې څرګنده او واضح ده، داسي الفاظ او کلمات پکي کارول شوي چي ظاهري او ذهن ته نږدې معنی ئې څرګنده ده او د هيڅ شك او شبهې احتمال پکي نشته. همدا محکم آيتونه د قرآنکريم د مفاهيمو اساسي محور تشکيلوي.

- متشابه آيتونه: هغه چي له داسي شيانو نه پکي بحث شوی چي نه د لمس وړ دي او نه د مشاهدې او ليدني، داسي شيان چي انسان په خپل قاموس کي د هغه لپاره نوم نه لري. دا غيبي شيان په دې آيتونو کي پداسي الفاظو سره معرفي شوي دي چي انسان ئې معمولاً د محسوس او ملموس شيانو لپاره کاروي. پدې سره قرآن خپل مخاطب په نسبي طور د هغو غيبي شيانو په حقيقت څه ناڅه پوهوي چي د هغوی لپاره په خپل قاموس کي هيڅ نوم نه لري.

ځيني کسان د دې مبارك آيت صريح حکم ته توجه نه کوي او د آيت د وروستۍ برخي په رابطه داسي څه وايي چي له لومړۍ برخي سره ئې تناقض لري، د آيت لومړنۍ برخه وايي: د رنځور زړه خاوند، فتنه لټوونکی، ماجرا غوښتونکی، شکاك او قناعت نه کوونکی د متشابه آيتونو په لټه کي وي، هڅه کوي پر تأويل ئې پوه شي او په همدې پسې وايي: له الله تعالی

پرته هيڅوك د متشابهاتو په تأويل نه پوهېږي. په پای کې فرمايي: د دې ماجرا غوښتونکو، فتنه گرو او بيمارو زړونو خاوندانو په مقابل کې عالمان او د پاخه علم خاوندان وايي: مونږ ايمان ورباندي راوړی دئ، ټول د الله له لوري دي او له عاقلانو پرته بل څوك پند نه اخلي. د تعجب ځای دی چي هغوی په دې صراحت سترگي پټوي او ادعاء کوي چي د آيت په وروستۍ برخه کې الله او د پاخه علم خاوندان مستثنی شوي دي او د ( الله ) او (الراسخون) ترمنځ "واو" د عطف واو دئ، دا غلط نظر نه يوازي د همدې آيت له لومړۍ برخي سره ټکر کوي بلکې د بلاغت خلاف هم دی، که د الله (تعالی) له لفظ نه وروسته توقف ونکړو او دا واو د عطف واو وشمېرو نو بايد وروستۍ جمله ټوله پر ماقبل عطف کړو چي بيا ئې معنی داسي کېږي: د هغوی پر تأويل له الله او الراسخون في العلم نه پرته بل څوك نه پوهېږي او الله او د پاخه علم خاوندان وايي: مونږ ايمان ورباندي راوړی، ټول د الله له لوري دي!! يعني بايد د يقولون په لفظ کې ضمير الله او الراسخون في العلم دواړو ته راجع وي!! او څرگنده ده چي دا نه معقول دئ او نه صحيح. د آيت اول او آخر په دې دلالت کوي چي بايد د الله له لفظ سره توقف وکړو او د متشابهاتو د تأويل علم يوازي تر الله تعالی پوري خاص وشمېرو.

موږ خو د اسلام په تاريخ کې داسي څوك نه مومو چي د متشابهاتو په تأويل پوه وو، نه په صحابه وو کې او نه مفسرينو او محدثينو کې، که تا ته کوم ژوندی راسخ في العلم معلوم وي نو مهرباني وکړه ترې وپوښته چي د هغو آيتونو تأويل څه دئ چي د عرش، کرسي او استوی علی العرش الفاظ

په کې راغلي، د عرش، کرسي او استوی کیفیت دي بیان کړي!! په کومو آیتونو کې چي الله تعالی ته د وجه، ید، عین، سمع، مجئ، اتیان، قرب، معیت .... نسبت شوی، ودي وایي چي کیفیت ئې څنګه دئ؟!! آیا له دې پرته بل څه ویلی شي چي په کیفیت ئې یوازې الله تعالی ښه پوهېږي؟!! یعني تأویل ئې له الله تعالی پرته هیچا ته معلوم نه دئ!!

## شهود:

د شهود په اړه چي متصوفین څه وایي د قرآن له څرګندو آیتونو سره تعارض لري، قرآن فرمایي:

وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ * الاعراف: ١٤٣

او کله چي موسی زموږ میقات ته راغی او رب ئې ورسره خبري وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته (ځان) راوښیه چي درته وګورم، وئې فرمایل: هیڅکله مي لیدی نه شې، خو دې غره ته وګوره، که په خپل ځای ثابت پاته شو، نو ته به مي هم حتماً وګورې، خو کله چي د ده رب د غره په لوري تجلي وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت، کله چي راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبري چي هیڅوک الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی)

دلته څو ډېري اساسي او مهمي خبري زموږ توجه جلبوي:

- الله تعالی له موسی علیه السلام سره تکلم او خبري کړې، موږ د دې خبرو په کیفیت او څرنګوالي نه پوهېږو، دومره ویلی شو چي موسی علیه السلام دا خبري اورېدلې دي او پرې پوه شوی.
- خبري په داسي حالت کي شوې چي موسی علیه السلام خپل رب نه لیدو، د لیدو تمنا ئې کړې او الله تعالی ورته فرمایلي چي زما د لیدو توان او استعداد نه لرې، ستا په څېر یو انسان خو پرېږده ستر غر هم د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت نشي کولی، که دا غر زما د تجلي په وړاندي تم شو نو ته مي هم لیدی شې.
- کله چي الله تعالی د غره په لوري تجلي کړې غر ټوټې ټوټې شوی او موسی علیه السلام بې سده شوی.
- کله چي راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مي توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم، یعنی له ما نه غلطي وشوه، ته تر دې ډېر لوړ یې چي انسان دي په خپلو کمزورو سترګو ولیدی شي، تا ته مي توبه ده، زه لومړنی کس یم چي دې نتیجې ته رسېدلی چي هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی.

د قرآن دا وینا او هغه هم د موسی علیه السلام د قصې په ترڅ کي د یهودانو او د بایبل د هغو پلویانو په خوله سخت سوك دئ چي د بایبل دا غلطه خبره مني چي د دوی ګڼ شمېر انبیاوو الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی او ډوډۍ ئې ورسره خوړلې!!

دا آیت د ټولو هغو تګمارانو ادعاء هم ردوي چي د (شهود) او (حضور) په نامه د الله تعالی د لیدو خبره کوي. که د موسی علیه السلام په څېر اولوالعزمه پیغمبر نشي کولی الله تعالی وګوري بل څوك به ئې څنګه ولیدی شي، بخاري روایت کوي چي عائشي رضي الله عنها د محمد علیه السلام په اړه وویل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ ( لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ) (وَ مَا كانَ لِبَشرٍ أن يُكلِّمَهُ اللّه إلا وحياً أوْ من وَرَاء حِجَابٍ أوْ يُرْسِلَ رَسولاً فَيُوحىَ بِإِذْنه مَا يَشاءَ ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّه *

که چا درته وویل چي محمد صلی الله علیه وسلم خپل رب لیدلی دئ نو پوه شه چي دا شخص دروغ وایي، ځکه الله تعالی فرمایي: "سترګی ئې نشي لیدلی"، "او هیڅ انسان لره نه ښایي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، یا د حجاب له شا نه او یا کومه فرشته ولیږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چي غوښتي ئې وي" او که چا درته وویل چي هغه علم غیب لري، نو دا هم دروغ وایي ځکه الله تعالی فرمایي: له الله پرته هیڅوك علم غیب نه لري.

موسی علیه السلام لومړی او وروستی شخص دئ چي الله تعالی ورسره تکلم کړی او دا ئې په خپلو سترګو لیدلي چي نه غر او نه انسان د الله تعالی د تجلي په وړاندي مقاومت کولی شي.

## وجد او مستي:

د وجد، مستي، رقص، نڅا او سرود په نامه چي څه په تصوف کي رايج شوي، ټول کرکجن، مسخره او ناولي بدعتونه دي چي له يهودانو نه اخيستل شوي، د هغوی جعلي مذهبي کتابونه وايي چي پر انبياوو ئې هغه وخت وحي نازلېږي چي ساز او سرود غږېږي او دوی د وجد او مستۍ په حالت کي وي، د غيب خبري په دې حالت کي دوی ته معلومېږي. د بايبل له نظره پيغمبر او نبي هغه دئ چي څو کارونه کوي: ... يوه ته ښېرا او بل ته دعاء کوي، وړاند ويني کوي، په وجد راځي، جذبه ئې نيسي، دريا، چنگ او نی ته ناځي، کله کله د انبياوو لويه ډله د جذبې او وجد په حالت کي په لاري روان وي او نڅا کوي!! داسي لکه نن چي تاسو د چرسي ملنگانو يوه ډله گورئ چي د بري امام، داتا گنج بخش او فلاني بابا د عرس مراسمو ته روان وي، د ځينو په پښو کي گڼجي، د ځينو په لاسونو کي بگڼي، د ځينو په لاسونو کي اوږده اوږده سوټي، رنگ رنگ تراړې ترې راتاو، د چرسو کرکجن بوی او د سپېلنيو لوخړې ترې اوچتي، په نڅا نڅا او په داسي حال کي چي ځني غورځوي، مستي کوي او له گڼجو ډکي پښې په زور زور په زمکه وهي، د بايبل له نظره به د يهودانو انبياوو هم همداسي کول، دوی نه خلکو ته وعظ، نصيحت او لارښوونه کوي او نه د دوی د ژوند د تنظيم لپاره احکام او مقررات بيانوي، يوازي دا ورته وايي: د فلان مرشد ملن ونيسه چي روحاني فيوضات دي په برخه شي، د قيامت په ورځ دي شفاعت وکړي، ستا او الله تر منځ وسيله او واسطه شي!!! دا اوس چي

تاسو د دوی د عرس مراسمو ته ولاړ شئ او د دوی د مرشدینو ویناوي واورئ نو یقناً چي هر څه به همغسي وومئ چي بایبل د یهودانو د انبیاوو په اړه ویلي.

خو قرآن موږ ته وایي چي د الله تعالی ذکر ځانګړي آداب لري، د الله تعالی د نامه په یادولو سره به ستا زړه له هیبته پوړېږي، په خشوع او خضوع سره به ئې یادوې، په زاریو زاریو او ټیټ غږ سره به دعاء کوې، هم به دي په زړه کي وېره وي او هم طمعه، له عذابه ئې وېره او رحمت ته ئې طمعه، قرآن فرمایي:

ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ * وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَةَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ *

الاعراف: ۵۵-۵٦

خپل رب په زاریو او په پټه (ټیټ غږ) دروبلئ، یقیناً چي هغه تېری کوونکي نه خوښوي. او په زمکي کي له اصلاح نه ئې وروسته فساد مه خوروئ او له وېري او طمعي سره ئې دروبلئ، بې شکه چي د الله رحمت نېکانو ته ورنږدې دئ.

دلته د دعاء په اړه څو مهمي لارښووني شوې:

- په زاریو زاریو سره خپل رب ته دعاء کوئ، له دې احساس او باور سره چي ستاسو رب د هر څه پیدا کوونکی، ورکوونکی او اخیستونکی دئ او هر څه د ده په امر ترسره کېږي.
- په پټه او په ټیټ غږ دعاء کوئ.

- الله تعالی اعتداء کوونکي نه خوښوي، دلته د اعتداء کوونکو یادونه د دعاء په ارتباط شوې او معنی ئې دا ده چې دعاء ځان ته ادب لري، دا ادب باید مراعات کړئ، دا دوه ادبه (تضرع او اخفاء) په پام کې ولرئ، مه په غافل زړه دعاء کوئ او مه په چیغو چیغو سره، له دې صریح حکم نه د هغو خلکو په اړه قضاوت کولی شئ چې د دعاء په وخت کې نڅا او مستي کوي، څنبې غورځوي، له ډول او دبلې سره یو ځای د هو هو بې معنی چیغې وهي.
- په زمکې کې د اصلاح او امن له تأمین نه وروسته فساد مه خوروئ، الله تعالی د مفسدینو دعاء نه قبلوي.
- په داسې حال کې ورته دعاء کوئ چې هم ترې وېرېږئ او هم طمعه ترې لرئ.
- د نېکانو دعاء ژر قبلېږي، دوی ته د الله تعالی رحمت ډېر ورنږدې دئ.

همداراز قرآن فرمايي:

وَاذْكُر رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ * الاعراف: ۲۰۵

او (تل) سبا او ماښام، د خپل رب ذکر کوه، له ځان سره، په زاریو او وېرې سره او له لوړ غږ راټیټ او له غافلانو څخه مه کېږه.

دلته د الله تعالی د ذکر په ارتباط څو مهمې او اساسي سپارښتني شوې:

- تل د الله تعالی په یاد او ذکر مشغول اوسه، شپه ورځ، سبا او ماښام

ئې يادوه.

- له ځان سره او په خپل زړه کې ئې يادوه.
- په زاريو سره ئې يادوه، ستا ذکر بايد له زاريو او وېرې سره توأم وي، غږ دې بايد د زارۍ کوونکو په څېر وي، د يوه محتاج او مضطر بنده په څېر، له دې احساس سره چې په هر څه کې الله تعالی ته محتاج يې، د ذکر په حال کې بايد ستا په الفاظو، غږ او څېرې کې د وېرې او خوف آثار څرګند وي، داسې چې زړه دې پوړېږي، داسې چې د يوه ستر ذات په وړاندې ولاړ يې، هغه ستا غږ اورې، حرکات دې ګوري او د زړه کيفيت دې ورته معلوم دئ.
- د غافلانو په څېر مه کېږه، چې خپل رب هېر کړې يا ئې په داسې حالت کې نوم په خوله اخلې چې زړه دې ترې غافل وي.

په قرآن او حديث کې د (وجد: مستي) اصطلاح نشته، د (وجل) اصطلاح ځينو بې عقلو او غرضي کسانو په وجد بدله کړې، قرآن فرمايي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ * الانفال: ۲

مؤمنان خو هغه دي چې کله د الله يادونه وشی زړونه ئې ورېږدي او چې د ده آيتونه پرې ولوستل شی ايمان ئې ورزيات کړی او په خپل رب توکل کوي.

دا مبارك آيت د مؤمنانو څو ځانګړتياوې بيانوي:

- کله چې د الله يادونه وشي زړونه ئې پوړيږی.

- کله چی د ده آیتونه ورباندي ولوستل شی ایمان ئی ورزیات کړی.
- او په خپل رب توکل کوي.

یعني کله چي د دوی په وړاندي د الله تعالی نوم واخیستل شي، یا په خپله ورپه یاد شي، له ویري او میني ئې زړه په دربېدا شي، د خپلو گناهونو او قصور او د بخښونکي رحمان خدای جل شأنه د وسیع پېرزوینو او پراخ رحمت په رایادولو سره ئې زړه رېږدي او له سترگو ئې اوښکي بهېږي؟ دا پر الله تعالی د ایمان تقاضا ده او همدا د الله تعالی د ښه پېژندو لپاره یو دقیق معیار، هغه څوك دي په خپل ایمان ډاډه وي چي د الله تعالی د نامه په رایادولو سره ئې زړه وپوړېږي او له سترگو ئې اوښکي وبهېږي، خو که د الله تعالی د نوم په اورېدو سره ئې نه د زړه کیفیت بدل شو او نه ئې د څېرې، باید خپل ایمان ته بیاکتنه وکړي.

گورئ چي مؤمن د الله د نامه په یادولو سره مستي نه کوي بلکه زړه ئې رېږدي.

## خضر علیه السلام :

تا د خپلو ادعاوو د اثبات لپاره د خضر علیه السلام په قصې استناد کاوو، په دې اړه څو عرایض لرم:

- ته د (لدني علم) په نامه یوه اصطلاح کاروې او هغه د داسي علم په توگه معرفي کوې چي له تعلیم او تدریس پرته ترلاسه کېږي او مرشد ئې په یوه نظر مرید ته القاء کوي، په دې اړه د الکهف د سورې په لاندني آیت استناد کوې:

فَوَجَدَا عَبْدًا مِنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا عِلْمًا *

الکهف: ٦٥

نو زما له بندگانو ئې داسي يو بنده وموند چي له خپل لوري مو پېرزوينه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو ځانگړی علم ورزده کړی وو.

په دې اړه څو خبرو ته غوږ شه:

- لومړی باید د دغه آیت په معنی ځان پوه کړو، او وگورو چي الله تعالی هغه عالم بنده ته کوم علم ورکړی وو، هغه علم چي ته ئې ادعاء کوې که بل علم؟! قرآن په خپله د دې پوښتني ځواب موږ ته راکوي او د هغو دريو پېښو په ترڅ کي ئې موږ ته راښيي چي له موسی علیه السلام سره د سفر په دوران کي رامنځته شوې.

که په قرآن کي د خضر علیه السلام قصې ته لږ ځیر شو نو ډېر ژر په دې حقیقت پوهېدی شو چي الله تعالی ده ته کوم علم ورکړی وو او ده موسی علیه السلام ته د ملگرتیا په دوران کي څه ورزده کړل، قرآن فرمایي چي هغه موسی علیه السلام ته درې لارښووني وکړې:

١- د یوه ظالم پاچا له منگولو د مسکینو او بې وزلو جاله والو ژغورل؛ هغه هم په داسي بڼې کي چي جاله وال ترې خبر نشول،

٢- د یوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل،

٣- تر نړېدونکي دېوال لاندي د دوو یتیمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول،

موسی علیه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد نه همدا لارښوونې ترلاسه کړې، د همدې لارښوونو په رڼا کې هغه دغو درېو کارونو ته ورته کارونه وکړل: ۱- له مظلوم بني اسرائیلي نه د دفاع په موخه ئې یوه ظالم قبطي ته داسي گوزار ورکړ چي پرې مړ شو، ۲- د مدین د کوهي غاړې کې ئې په داسي حال کې د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چي د اوږده سفر له امله ډېر ستړی او ستومانه وو، ۳- د بني اسرائیلو د نجات لپاره له مدین نه مصر ته لاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله.

د قرآن له آیتونو نه خو دا حقیقت جوتېږي چي خضر علیه السلام یو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملگرتیا ئې کوله، موسی علیه السلام ته ئې د جهاد درس ورکړ، اوس ته موږ ته ووایه چي تا د دغوڅرگندو او واضحو آیتونو له کومي برخي او له کوم لفظ نه د (لدني علم) اصطلاح راایستلې؟!! او غواړي له قرآن نه بې خبرو مریدانو ته ووایي چي که ستاسو پیر او مرشد نه قرآن لوستلی شي، نه د پیغمبر علیه السلام له احادیثو خبر دئ، نه په لیك پوهېږي او نه لوست کولی شي، د هغه په اړه شك مه کوه او لمن ئې کلکه ونیسه، دا خبري باید ستا اخلاص کم نکړي، هغه ته د مخکني مرشد له لوري (لدني علم) ورکړی شوی او د دین په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د یوې دعا له امله پوه شوی!! هغه په یوې مراقبې سره کولی شي د اسرارو دروازې پرانېزي او په پټو حقایقو پوه شي!!

د قرآن په ځینو نورو آیتونو کې له غور او دقت نه وروسته معلومېږي

چې موسی علیه السلام د فرعون په کو کې او د خپلې مذهبي کورنۍ له غېږې علاوه د خپلې پوهې او علم ترلاسه کولو یوه بله مرجع هم موندلې وه، د یوه عالم شخصیت په لټه کې په اوږده سفر وتلی وو، څه موده ئې د هغه ملګرتیا کړې وه او له هغه ئې علم ترلاسه کړی، خو دا څوك وو؟ چېرې ئې موندلې؟ څه ئې ترې زده کړې؟ قرآن د دې پوښتنو په ځواب کې موږ ته وايي چې موسی علیه السلام له خپل استاد نه جهادي درسونه زده کړي نه (لدني علم).

د القصص د سورې له ۱٤ آیت نه معلومېږي چې د موسی علیه السلام دا تربیتي سفر له بعثت او مدین ته له تلو مخکې هغه مهال ترسره شوی چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې اوسېدو، دا آیت ښیي چې الله تعالی په هغې مودې کې چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې اوسېدو د ده د روزنې او په علم او حکمت د سمبالېدو خاص انتظام کړی وو، یو ئې همدا تربیتي سفر او له خضر علیه السلام سره د ده څو ورځنۍ ملګرتیا وه.

آیت داسې دئ:

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَى آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ *

القصص: ١٤

او کله چې پوخوالي ته ورسېدو حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او همدا راز نېکانو ته بدله ورکوو.

که وغواړو د قرآن دغه آیت د نورو آیتونو په رڼا کې تفسیر کړو نو له

دې پرته  بل څه نشو ویلی چې دلته هغه علم ته هم اشاره شوې چې موسی علیه السلام له خضر علیه السلام نه د هغه سفر په دوران کې ترلاسه کړی وو، ځکه قرآن په ډېر صراحت سره وايي چې هغه خضر علیه السلام ته وویل: ما په ملګرتیا قبول کړه او پرېږده هغه څه درنه زده کړم چې تا ته درښول شوي. ښايي له ځینو سره دا پوښتنه راولاړه شي چې موسی علیه السلام څنګه په یوه لنډ سفر کې دومره څه له خضر علیه السلام نه زده کړل چې قرآن ئې یادونه کوي، حقیقت دا دئ چې کله کله څو میاشتنی سفر خو پرېږده یوه ورځ پېښه او یوه وینا هم د یوه حساس انسان د ژوند مسیر بدل کړي او د معرفت دروازه ئې پر مخ پرانېزي.

ډېره عجیبه ده، د قرآن له داسي قصې او مضمون نه چې هر مخاطب ته د سري مبارزي درس ورکوي، غرضي او مرضي خلکو داسي افسانه جوړه کړې چې د مخاطب ذهن تخدیروي او له سره تر پایه غلط افکار القاء کوي، چېري د خضر علیه السلام هغه درې جهادي کارونه او چېري دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چې هغه په غیب پوهېدو او کارونه ئې غیرعادي ول.

ته دې ته هم نه يې چې د همدغي (و أتینه من لدنا علما) فقرې  ته ورته الفاظ د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلي، او په ترڅ کې ئې قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د انسان هر څه د الله تعالی ېرزوینه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې، قرآن دا ټول الله تعالی ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوینه ئې ګڼي، په ټولو هغو آیتونو کې چې دا

حقیقت په کې بیان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ لکه دا آیتونه:

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ * النمل: ٦

وَقَالُوا إِنْ نَتَّبِعِ الْهُدَى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا أَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَى إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِزْقًا مِنْ لَدُنَّا وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ *

القصص:٥٧

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ * آل عمران:٣٨

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا * النساء: ٧٥

وَإِنِّي خِفْتُ الْمَوَالِيَ مِنْ وَرَائِي وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا*

مریم: ٥

د دغو آیتونو الفاظو ته لږ ځیر شه، او له هغه آیت سره ئې مقایسه کړه چې تا او ستا ملګرو د (لدني علم) اصطلاح ترې راایستلې، تاسو د خپل اسلوب مطابق باید له دغو آیتونو نه هم (لدني رزق)، (لدني ولي و نصیر)، (لدني اولاد) (لدني قرآن) راوباسئ، خو هر عاقل انسان پوهېږي چې دا بې بنسټه او غلط اسلوب او کږکجن استباط دئ.

- موږ ته ووایه چې له (لدني علم) ستا مراد څه دئ؟ مراد دي (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعلیم

او ليك لوست نه پرته ترلاسه شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالى پرته هيڅوك نه لري، د انسان علم خو اكتسابي دئ، انسان د وحي، تعليم، تدريس، ليك او لوست له لاري علم ترلاسه كوي، قرآن د پيغمبر عليه السلام په اړه فرمايي چي له بعثت نه مخكي لار ترې ورکه وه، سمه لار ئې نه پېژندله:

أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى * وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى * وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى *

الضحى: ٦- ٨

٦- مگر نه ئې وموندلې يو يتيم او د ټېکي ځاى ئې دركړ؟ ٧- مگر نه ئې وموندلې يو لاروركى او لار ئې وښودله؟ ٨- او نيازمند ئې وموندلې، خو غنا ئې كړه په برخه.

همدا راز فرمايي چي له بعثت نه مخكي نه په كتاب پوهېدو او نه د ايمان په حقيقت او معنى:

وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَنْ نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ * الشورى:٥٢

همداسي مو تا ته له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وكړه، ته نه پوهېدې چي كتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنى او حقيقت) پوهېدې، خو موږ داسي نور وگرځاوو چي له خپلو بندگانو نه هغه څوك پرې هدايتوو چي غواړو ئې، او بې شكه چي ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه كوې.

قرآن موږ ته لارښوونه كوي چي د هر انسان علم په حقيقت كي د الله

تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهي او معرفت وسایل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په یوه څه د پوهېدو مجال او شرایط هم الله تعالی ورته برابروي. قرآن په دې اړه فرمایي:

اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ * البقرة:۲۵۵

په داسې حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي یا ئې شاته دي او دوی د ده له علم یوازي په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي،

یعني دا الله تعالی دئ چي هر چا ته علم او پوهه ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښیي او د ښه او بد، مفید او مضر په پېژندلو کې ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفیق ترلاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کې وي چي الله ئې وغواړي. د انسان پر مخ چي د معرفت هره دروازه پرانیستل کېږي او په هرې نوې خبرې چي د پوهېدو توفیق ترلاسه کوي، د ده هر( کشف) او په هر سِر او راز پوهېدل ئې په حقیقت کې د الله تعالی یوه پېرزوینه ده، دا دروازه د ده له لورې ورته پرانستل کېږي، په دغو حقایقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، چي حقیقت همداسي

دئ نو ته ما ته ووايه چي ولي د خضر عليه السلام علم استثنايي علم گڼې او د (لدني علم) نوم ورکوې؟!!

او د درېيم تعبير په صورت کې بايد پوه شې چي له عيسى او يحيى عليهما السلام نه پرته نه الله تعالى چا ته په وړوکتوب کې فوق العاده علم ورکړی او نه ئې په پيغمبرۍ مبعوث کړی، عيسى عليه السلام ته په ماشومتوب کې يوازې څو خبري ښودل شوې، جامع علم ئې هغه مهال په برخه شو چي انجيل پرې نازل شو.

- پيغمبرانو عليهم السلام ته چي د وحي له لاري کوم علم ورکړی شوی دا هم په تدريجي توگه او د کتاب او صحيفي په بڼه کې ورکړی شوی، نه دا چي په يو ځل او په بشپړه توگه ټول علوم د هغوی زړه او دماغ ته القاء شوي، قرآن پر پيغمبر عليه السلام په تدريجي توگه نازل شوی، دا د ټولو فقهاوو او علماوو متفقه قول او د قرآن د صريحوآيتونو مطابق نظر دئ، يوازې غلات شيعه ورسره مخالفت لري، پيغمبر عليه السلام د هرې قضيې او پېښې په اړه د وحي نزول ته انتظار کړی، د وحي له راتلو نه مخکې نه پوهېدو چي څه حکم وکړي.

اوس موږ ته ووايه چي ته د کوم منطق له مخي د (لدن) له لفظ نه (لدني علم) اخلې او ادعاء کوې چي دا علم له تعليم او تدريس، ليك او لوست نه پرته ترلاسه کېږي؟ آيا له دې حقيقته خبر نه يې چي دا د محرف بايبل غلطه او بې بنسټه ادعاء ده چي قرآن ئې په کلکه ردوي او د قرآن لومړی نازل شوی آيت د بايبل د دغي ادعاء خلاف وايي چي د انسان علم

اکتسابي دئ، د قرائت او لیك لوست له لاري ترلاسه کېدی شي او الله تعالی د قلم له لاري انسان ته هغه څه ښيي چي نه پرې پوهېږي: قرآن  فرمايي:

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ * العلق: ۱-۵

۱- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چي پیدا ئې کړ. ۲- انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ. ۳- ولوله چي رب دې ډېر کریم دئ. ٤- آ چي په قلم ئې پوهه ورکړه. ۵- انسان ته ئې ورزده کړل څه چي نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آیتونو کې څو مطالب خاصه توجه غواړي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پیل شوې او دا ښيي چي د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دی او څومره اهمیت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پیل کړي.

- دا د الله تعالی د کرم او پېرزویني څرگنده نښه ښودل شوې چي انسان د یوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چي (کامل انسان) ترې جوړ شي، لیك او لوست ورښيي، انسان یوازینی مخلوق دی چي کولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پیغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قیمتي تجاربو گټه واخلي، د معلوماتو د ضایع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کي نه گورو، الله تعالی په انسان کي دا استعداد او وړتیا ایښې

ده چي له (قلم) نه د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی.

- په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.

- (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چي په ډېرو هغو حقايقو پوه شي چي له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.

- لکه څنګه چي دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنی دي چي انسان ته له قلم نه د استفادې استعداد ورکړی شوی، اللّٰه تعالی د هغه په فطرت کې دا ملَکه ايښې چي قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې نه د زده کړې او تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البيان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چي انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) ملَکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافی الضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو نه په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم ايښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانګړتيا ده، دا صفت په نورو

مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او شرف ورکړی.

- په اصل کې انسان (بې علمه) دئ، په تدریج سره زده کړه کوي او علم ترلاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دی چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په خټه او دماغ کې ایښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې ایښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطحه لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقایق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) نه په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) نه د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاتې کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

انسان یوازینی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل

پیغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قیمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضایع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتیا ایښې ده چې له (قلم) نه د تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.

سره له دې چې قرآن (قلم)، (لیك) او (لوست) ته دومره اهمیت ورکړی او سره له دې چې پیغمبر علیه السلام ته د وحي په پیل کې لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په هکله ده او ورته ویل شوي چې قلم د تعلیم او تعلم ستره وسیله ده، خو متأسفانه جناب قادري او ملګري ئې دا ستر او څرګند حقیقت له پامه غورځوي او ادعاء کوي چې له قرائت، تعلیم، تدریس، لیك او لوست نه پرته هم (علم) ترلاسه کېدی شي، نو د علم د زده کړي لپاره مدرسي ته مه ځه، د عالم مخي ته مه کښېنه، کتاب او قلم پرېږده، خانقاه ته ولاړ شه، د مرشد ملن ونیسه، د کوم قبر خوا ته دېره شه، (لدني علم) به دي په برخه شي، سترګي به دي پرانیستل شي او په غیبي حقایقو به پوه شې!! دا همغه خبره ده چې محرف بایبل ئې کوي؛

تاسو د قرآن دا علمي، دقیقه او په حقیقت او واقعیت ولاړه وینا د بایبل او د بایبل تر اغېز لاندي د تللو متصوفینو له دغي بې بنسټه ادعا سره مقایسه کړئ چې وایي: انسان د معرفت د وني مېوه وخوړه، سترګي ئې پرانستل شوې، د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو.

- د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام ته د کومي مېوې د نه خوړلو توصیه شوې وه او ګواښل شوی وو چي که دا مېوه وخورې حتماً مرې؟ د حیات د وني که د معرفت د وني؟ طبیعي ده چي دا د حیات د وني مېوه نه شي کېدی دا ځکه چي هغه خو په مرګ نه بلکي په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمي خبري معنی خو دا ده چي که ته د معرفت ترلاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د وني) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، یعني په پټو سترګو ژوند کوه، د معرفت د وني مېوه مه خوره، دا مېوه ستا د مرګ باعث کېږي!! په دې هکله څو پوښتني لرو:

۱. آدم علیه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولي مړ نه شو؟ ولي د بایبل د خدای خبره غلطه وخته؟ هغه خو ورته ویلي وو چي که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چي حتماً مرې!!

۲. د انسان د مرګ یو ستر عامل خو د بایبل د خبري برعکس د ده عدم معرفت دئ، هغه که له بیمارۍ مري وجه ئې دا ده چي د دې بیمارۍ د علاج دوا نه پېژني، هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دئ چي معرفت ئې ناقص دئ، د دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دی نه د مرګ باعث، الله تعالی به څنګه ده ته وایي چي د معرفت د وني مېوه ستا د مرګ باعث کېږي؟!!

د بایبل په درېیم فصل کي، د انسان سقوط تر عنوان لاندي په لومړیو ۱۹ جملو کي دا مطالب لولو:

- مار تر ټولو هغو حیواناتو ډېر زیرك وو چې خدای پیدا کړي وو، یوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي یئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وویل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کې ده، خدای امر کړی چې د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځې ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي، نو د دې ونې مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانستلې شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چیرې یې، ولې پټیږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې

وویل: مار وغولوم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکې تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر څو چې ژوندی وې په خپلې سینې به خوځې، خاوري به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاتې دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پندۍ چیچې، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاوو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چې د خپلې ښځې خبره دې ومنله او د هغې ونې مېوه دې وخوړله چې درته ویلي مي وو مېوه ئې مه خوره، زمکه به تر لعنت لاندي راشي او ته به په خپل ټول عمر کې په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې ترلاسه کوې، له زمکې به اغزي او خاشاك درته راټوکېږي او د بېدیا بوټي به خورې، د عمر تر پایه به د تندي په خولو سره ډوډۍ خورې او په پای کې به همغې خاوري ته بېرته ورګرځې چې ترې واخیستی شوې، دا ځکه چې ته له خاورو جوړ شوی یې او خاورو ته به بېرته ورګرځې، آدم خپله ښځه حوی (یعني ژوندون) ونوموله، ځکه چې دا باید د ټولو ژوندیو مور شي!!!

په دې برخې کې دومره بېهوده او د خندا وړ خبري دي چې انسان ورته حیران شي، نه پوهېږو مسیحیان څنګه دا خبري د الله تعالی له لوري او د یوه مقدس آسماني کتاب خبري ګڼي!! لاندي څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وایي مار تر ټولو حیواناتو زیات زیرك دئ، حال دا چې د مار زیرکتیا

تر ډېرو ډېرو حيواناتو لږ ده.

- وايي مار د ښځې د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځې له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې مار کولی شي ښځه وغولوي!!

- وايي: مار ښځې ته وويل: خدای تاسو ته حقيقت نه دئ ويلی، دا سمه نه ده چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقيقت دا دئ چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای په دې خاطر نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ چې په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت ترلاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړيږي، هغه نه غواړي چې رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغې مېوې له خوړلو منع کړي يئ!! بايبل وايي چې د مار خبره سمه وختله او د خدای خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!

قرآن دا موضوع د يوې ډېرې ژورې علمي موضوع په حيث څېړلې او يوه ستر علمي حقيقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چې د عالَم په ټولو ژوو کې يوازې انسان داسې پيدا شوی چې مجبور دی د مفيد او مضر خوراك په هکله له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسې پيدا شوي چې د پيدايښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چې کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کې ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد ايښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدايښت له لومړۍ ورځې سم

او ناسم خوراك معلوملی شي، د آهو بچی، وری، سپرلی، وزګوړی، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چي ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، قرآن په جنت کې د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې نه يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکي دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا څکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګي پرانستلې شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقيقت د دې خبري کاملاً عکس او دا دئ چي: اللّٰه تعالی د زمکي په سر هر ژوي ته داسي لباس ورکړی چي هم ښايسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له يخنۍ ساتي او هم په دوبي کې له تودوخې. د ځينو لباس خو دومره ښايسته دی چي که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښايست او رنګ کې داسي لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کې يوازي انسان هغه مخلوق دی چي بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دی چي ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وينا معلومېږي چي انسان په سر کې داسي نه وو،

وروسته بربنډ شوی، له لوښېدو مخکې ئې داسې جامه وه چې هېڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو نه د يوې اشتباه په نتيجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وايستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو څان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نورې جامې، څينې ئې يوازې د څان پټولو لپاره، څينې ئې د ښايست او سينګار لپاره او څينې ئې د تقوی لباس، سنګين، باوقاره له ګناه نه مانع لباس. د بايبل ليکونکې د آدم عليه السلام بربنډېدا هغسې توجيه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بايبل تر اغېز لاندې راغلې خلك د آدم عليه السلام له لومړنې لباس نه داسې تعبير لري چې ګواکې دا به له وړيو، ورېښمو، سنډو او يا مالوچو نه اوبدل شوې کومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بنې آدم جوړه کړې، الله چې کومه جامه ورکوي هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، يوې خوا ته په مليونهاوو هغه ژوي ګوري چې په ښايسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته يوازې بنې آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چې له وړيو، ورېښمو، سنډو، نيلون او يا مالوچو نه څان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره يو ستر علمې حقيقت بيان کړی خو د اسرائيلې رواياتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې نه افسانه جوړه کړې.

- له کومي ورځي چي انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفریق، تبعیض او یو په بل د لویي او تېري وسیله ګرځېدلې، نه ګورئ چي په دغه جامه کي څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پولیسي جامو کي هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره شریف انسانان د خړو جامو په سبب تحقیر کېږي، څومره ذلیل انسانان په فاخره جامو کي تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چي یوه له خپلي جامې د ګیدړې پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو نه د پسه په څېر بې آزاره برېښي خو په سینه کي ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسي ښيي چي زمری دی خو تر ګیدړ به زیات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چي ځان له تودوخې او یخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په درېو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښایست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلي جامې نه یا د غولولو وسیله جوړه کړې، یا د ظلم او تېري وسیله، یا یو په بل د لویي او تکبر ذریعه!!
- د بایبل دا خبره تر ټولو حیرانوونکې ده چي وایي: د همدې ورځي په مازدیګر کي، آدم علیه السلام او ښځي ئې د خدای غږ واورېدو چي په باغ کي ګرځېدو، نو په ونو کي پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چیري یې، ولي پټیږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کي واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چي لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چي لوڅ یې؟ آیا د هغې وني مېوه دې خوړلې ده چي ترې منع کړی مي وې؟

آدم ځواب ورکړ: دغي ښځي چي زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځي وپوښتل: دا څه کار وو چي تا وکړ؟ ښځي وويل: مار وغولولم!!

دلته څو خبري د پام وړ دي:

- بايبل الله تعالى داسي معرفي کوي: په يوه وړوکي باغ کي ګرځي، د ګامونو غږ ئې آدم عليه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خدای نه پوهېدو چي آدم چېري دئ، غږ ئې ورته وکړ: اې آدمه چېري يې؟ له دې هم خبر نه وو چي دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له آدم عليه السلام نه پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چي لوڅ يې؟ آيا هغه مېوه مو خوړلې چي ترې منع کړي مي وئ؟!! له دې هم نه وو خبر چي ښځي دا کار کړی!! او له دې هم چي مار غولولې وه!!
- په دې سزا هم لږ غور وکړئ چي مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دې په سينه خوځېږې، خاوري دي خوراک شه!! پوښتنه کوو: آيا مار له دې د مخه په سينه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حيوانات او خزندې چي په سينه خوځېږي هغوی ته د کومي ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چي د مار خوراک خاوره ده!! هيڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراک خاوره نه بلکي د مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حيوانات دي!!

ښځي ته چي کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دې زيات شه!! د خاوند د اشتياق په اور وسوزې، هغه دې پر

تا برلاسی وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حيواناتو ته چې د اولاد زېږولو په وخت کې همداسې د درد احساس کوي، د کومې گناه سزا ورکول کېږي؟! د مېږه اشتياق خپلې مېرمنې ته زيات دی که د مېرمنې خپل مېږه ته؟ مگر دا اشتياق سزا ده؟ په ټولو ژوو کې دا اشتياق شته، دوی ته د کومې گناه په وجه دا د اشتياق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتياق خو سزا نه بلکې د الله تعالی يوه لويه پېرزوينه ده، د انسان او حيوان د نسل د دوام يوه ستره وسيله ده، تاسو ولې دې اشتياق ته د سزا په سترگه گورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېږه ترمنځ دا الفت، مينه او اشتياق د الهي رحمت او پېرزوينې يوه ستره بېلگه گڼي!! آيا دا سمه ده چې د نارينه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وگڼو؟! دا برلاسی يوه طبيعي مسئله ده، په اکثرو حيواناتو کې هم د دې شاهد يو، داسې چې نارينه د ښځې ساتنه او څارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې، ... دا برلاسې نه يوازې ښځې ته سزا نه شو گڼلی بلکې د ښځې لپاره يوه ستره الهي پېرزوينه ده، چرگ له خپلو چرگو دومره دفاع کوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسې بې شمېره نور مرغان او حيوانات، هيڅ عاقل انسان به د بايبل دا وينا د منلو وړ ونه گڼي.

- د بايبل ليکوال خدای داسې معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوك وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم عليه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم عليه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابير سنجوي چې څنگه د دې مخه ونيسي چې آدم عليه السلام د حيات د ونې مېوه هم

ونه خوري او د ده لپاره يو تلپاتي حريف او رقيب نه شي!! نو ځکه ئې له يوې خوا آدم عليه السلام د عدن له باغه وايست او له بلي خوا ئې دغي وني ته د رسېدو په لار کې داسي فرشتې وګمارلې چي په تورو سمبال وي او دا توري هم د اور توري چي هري خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوك ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ آسمان کې وي طبيعي ده چي له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرشتې د څه لپاره ګمارل کېدې؟ او که دا په زمکې کې وو نو موږ ته ووايئ چي چېري دی اوس خو له داسي پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم عليه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حيات وني ته د رسېدو لپاره په هليکوپټرو سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلك دا کار نه شي کولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

له دغو بېهوده او چټې خبرو نه هر څوك په دې پوهېدی شي چي د بايبل ليکوال څوك او د څنګه شخصيت خاوند دی او د اللّٰه تعالی په اړه د ده انګېرنې څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بايبل د دغو غلطو خبرو د ترديد او تصحيح لپاره فرمايي چي اللّٰه تعالی آدم عليه السلام د داسي مخلوق په څېر پيدا کړ چي معرفت ئې تر فرشتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفيق ورکړ چي فرشتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهي په سبب ئې د زمکې خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دئ، د ځان رقيب او حريف ئې نه دئ

ګڼلی بلکې د زمکې خلافت ئې ورسپارلی او فرښتو ته ئې امر کړی چې ده ته سجده وکړي، بایبل وایي چې فرښتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وایي چې فرښتو آدم علیه السلام ته سجده وکړه او الله تعالی د زمکې او آسمان هر څه آدم علیه السلام ته مسخر کړل.

- دا په داسې حال کې چې د حیات ونه، د معرفت ونه، د حیات اوبه او دې ته ورته نورې خبرې بې بنسټه او د خیال په عالم کې جوړې شوې خبرې دي، انسان داسې پیدا شوی چې خامخا به مري، الله تعالی داسې اوبه او مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوړو سره انسان دایمې او ابدي ژوند ترلاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دئ، ورو ورو زیاتېږي، د تعلیم، تعلم، زده کړې او تجربې په نتیجه کې ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطحه لوړېږي، الله تعالی داسې مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوراك سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! قرآن د بایبل دغه وینا رد کړې او په هغو آیتونو کې چې تر ټولو د مخه پر پیغمبر علیه السلام نازل شوي او په همدې آیتونو سره د قرآن د نزول لړۍ پیل شوې فرمایي چې د انسان علم اکتسابي دئ او په لیك لوست سره ترلاسه کېږي.

او د موسی او خضر علیهما السلام د قصې په ارتباط باید ووایو: آیا دې ته دې پام کړی چې دا قصه اصلاً د دې لپاره راغلې چې وښیي موسی علیه السلام په غیب نه پوهېدو؟! له یوه ملګري سره روان دئ خو د هغه د څو کارونو په وجه او موخه نه پوهېدو!! هیڅوك دا ادعاء نشي کولی چې د دې

کس مقام تر موسی علیه السلام لوړ وو؟ قرآن خو موسی علیه السلام د هغو پنځو پیغمبرانو له ډلي ګڼي چي هیڅ انسان او هیڅ پیغمبر د هغوی مقام ته نشي رسېدی. تا د قرآن له کوم لفظ نه دا معنی اخیستې ده چي دا کس په غیب پوهېدو؟ قرآن خو وايي چي له الله تعالی پرته هیڅوك په زمکه او آسمان کي په غیب نه پوهېږي. قرآن خو د ابراهیم، موسی، ذکریا، لوط، نوح، یعقوب، محمد،... علیهم السلام قصې زموږ مخي ته ږدي چي ښيي دوی په غیب نه پوهېدل، فرشتې ئې په خوا کي ولاړې وې خو دوی د زلمو او مېلمنو ګمان پرې کاوو، د اولاد زېری ورکړی شوي، پوښتنه ئې کوله چي دا زوی به څنګه او څه وخت ورکول کېږي، څو متره آخوا ئې زوی په څا کي لوېدلی خو له حاله ئې خبر نه دئ او له غمه ئې سترګې ړندې شوې، د خپل ملګري د کارونو په کنه او حقیقت خبر نه وو ... خضر علیه السلام خو معلومه نه دئ پیغمبر دئ که نه، ځکه په قرآن کي ئې نوم د پیغمبر په توګه نه دئ راغلی، په یوه روایت کي د موسی علیه السلام دا ملګری د خضر په نامه یاد شوی، ته څنګه هغه تر موسی علیه السلام لوړ ګڼې او علم غیب ورته ثابتوې؟!! د دې قصې مربوط روایات دا دي:

عن ابن عباس أنه تمارى هو والحرّ بن قيس بن حِصْن الفزاريّ في صاحب موسى، فقال ابن عباس: هو خَضِر، فمرّ بهما أبيّ بن كعب، فدعاه ابن عباس فقال: إني تماريت أنا وصاحبي هذا في صاحب موسى الذي سأل السبيل إلى لقيه، فقال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يذكر شأنه؟ قال: إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "بَيْنا مُوسَى في مَلأ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ إِذْ جاءَهُ رَجُلٌ فَقالَ: تَعْلَمُ مَكانَ أَحَدِ أَعْلَمُ مِنْكَ؟ قال مُوسَى: لا

فَأوْحَى اللّه إلى مُوسَى: بَلى عَبْدُنا خَضِرٌ، فَسأل مُوسَى السَّبِيلَ إلى لُقِيِّه، فجَعَلَ اللّه لَهُ الحُوتَ آيَةً، وقِيلَ لَهُ: إذَا فَقَدْتَ الحُوتَ فارْجِعْ فإنَّكَ سَتَلْقاهُ، فكانَ مُوسَى يَتْبَعُ أثَرَ الحُوتِ في البحْرِ، فَقال فتَى مُوسَى لِمُوسَى: أرَأيْتَ إذْ أوَيْنا إلى الصَّخْرَةِ، فإنِّي نَسِيتُ الحُوتَ، قالَ مُوسَى: ذلكَ ما كُنَّا نَبْغِ، فارْتَدَّا على آثارِهِما قَصَصًا، فَوَجَدَا عَبْدَنا خَضِرًا، وكانَ مِنْ شأنِهما ما قَصَّ اللّه في كِتابِهِ". رواه طبري

فقال ابن عباس: هو خضر. فمر بهما أبي بن كعب فدعاه ابن عباس فقال: إني تماريت أنا وصاحبي هذا في صاحب موسى الذي سأل السبيل إلى لُقيه، فهل سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يذكر شأنه؟ قال: إني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "بينا موسى في ملأ من بني إسرائيل إذ جاءه رجل فقال: تعلم مكان رجل أعلم منك؟ قال: لا؛ فأوحى الله إلى موسى بلى عبدنا خضر. فسأل موسى السبيل إلى لُقيّه فجعل الله له الحوت آية وقيل له: إذا فَقَدت الحوت [فهو ثمة] فارجع، فإنك ستلقاه. فكان موسى يتبع أثر الحوت في البحر. فقال فتى موسى لموسى: { أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ } قَالَ مُوسَى { ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا } فوجدا عبدنا خضراً.. ابن كثير

دا روايت خو وايي چي موسى عليه السلام ته ويل شوي وو چي په ژوندي ماهي پسې روان شي، په هر ځاى کې چي ترې ورك شو هملته به خضر ومومي. خو ډېرى مفسرين وايي چي پوخ ماهي ئې د خوراك په توګه له ځان سره اخيستى وو، ناڅاپه ژوندى شو، سيند ته ولوېد او ترې

ورك شو، د مفسرينو خبره سمه ګڼې كه دا روايت؟!! ډېر مفسرين خو دا هم وايي چي معلومه نه ده دا څوك وو او نوم ئې څه وو؟ د مفسرينو خبره سمه ګڼې كه دا روايت؟!!

قرآن خو په تأكيد او تكرار سره وايي چي له الله تعالى پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي، ته څنګه د خضر ويناوي داسي تعبيروې چي ګواكي هغه په غيب پوهېدو؟ راشه د دغي قصې حقيقت ته لږ ځير شو او وګورو د څه لپاره راغلې او د هغو دريو پېښو حقيقي تعبير او تفسير څه دئ:

د قرآن له الفاظو په صراحت سره معلومېږي چي د دې قصې اصلي موخه او هدف دا دئ چي ثابته كړي له هر پوه نه پورته بل پوه شته، "وفوق كل ذى علم عليم"، نه ښايي په خپل محدود علم غره شو او خپل علم مكمل او د علم پاى او انتهاء وګڼو.

په دې قصې كه دوه شخصيتونه انځور شوي: يو ئې اولوالعزمه پيغمبر موسى عليه السلام او بل ئې د خداى يو نېك بنده، موسى عليه السلام د هغه ليدو ته ورغلى، د ده د سيمي له حالته معلومات نه لري، هغه په خپلي سيمي كې بلد دئ، ښه او بد پېژني، موسى عليه السلام د ملګرتيا او سفر په دوران كې له خپل ملګري درې داسي كارونه ګوري چي د علم غيب نه درلودو په وجه نه پوهېږي چي ولې ئې دا كارونه وكړل، له هغه وروسته پرې پوه شو چي ملګري ئې تفصيلات ورته بيان كړل، دا قصه په ډېر وضاحت سره دا حقيقت زموږ مخي ته ږدي چي پيغمبران عليهم السلام په غيب نه پوهېږي، عجيبه دا ده چي د كږو زړونو خاوندان له

دغي قصې معکوسه نتيجه اخلي او د موسی علیه السلام ملګري ته علم غيب ثابتوي!!

پدې قصې کې هيڅ داسي دليل نشته چي د موسی علیه السلام ملګري ته علم غيب ترې ثابت شي، قرآن ندي ويلي چي دی په غيب پوهېدو، نه پوهېږو دوی دا انتباه له کومه ځايه اخيستې ده؟!

د ظالم او غاصب پاچا په اړه د هغه علم، د هغه ځوان له نېك عمله مور او پلار او د ده له کفر او طغيان نه د ده خبرتيا او تر نړېدونکي دېوال لاندې د هغو يتيمانو خزانه چي صالح مور پلار ئې له لاسه ورکړي وو، دا معلومات ولې په علم غيب حمل شي؟ دا ولې د هغه د پراخو معلوماتو او د سيمې له حالت نه د ده د خبرتيا نښه ونه ګڼو؟

له هغه پوه او عالم سړي سره د موسی علیه السلام د ملګرتيا په قصه کې څو په زړه پورې او د زياتې توجه وړ ټکي زمونږ مخې ته ايښودل شوي:

- موسی علیه السلام چي د پنځو اولوالعزمه پيغمبرانو څخه دئ له خپل پوه او عالم ملګري نه داسي څه ويني چي د ده لپاره د توجيه او منلو وړ ندي، په ظاهر کې داسي بد او قبيح ورته ښکاري چي په وړاندې ئې چوپ نشي پاته کېدی، فوراً اعتراض کوي. که څه هم ژمنه ئې کړې وه چي ترڅو پورې ده نه وي پرې خبر کړی او قضيه ئې نه وي ورته بيان کړې، تر هغې پورې به د هيڅ کار په اړه پوښتنه نه کوي، خو ګورو چي موسی علیه السلام هرځل خپل تعهد هېروي، سکوت ماتوي او له خپل ملګری نه سوال کوي، اعتراض ورباندې کوي او ورته وايي: دا څه عجيب کار!! دا څومره

ناوړه عمل!! او ملګری ئې هرځل ورته وايي: تا ته مي ويلي وو چي زما ملګرتيا نه شي کولی، زما پرکارونو صبرنه شي کولی، ځکه چي په راز ئې نه پوهېږې، د کارونو له اسرارو نه بې خبري د دې سبب کېږي چي بې صبره شي. دا کار درې ځلي تکرارېږي، بالآخره موسی عليه السلام اعتراف کوي چي لدې شخص سره د ملګرتيا توان نه لري او د هغه د عجيبو کارونو په وړاندي صبرنه شي کولی. که موسی عليه السلام علم غيب لرلی نو داسي به نه کېدل، نه به ئې په خپل ملګري اعتراض کاوو او نه به ئې له ملګرتيا نه پاته شوی وی، که موسی عليه السلام چي له اولوالعزم رسولانو څخه دئ، علم غيب نه لري نو بل به څوك وي چي د علم غيب خاوند وي؟!

- موسی عليه السلام پدې اعتراض وکړ چي د مسکينانو کښتۍ ولي تخريب شي او ولي له سفر نه پاتې شي، خو له دې نه خبر نه وو چي څو قدمه وړاندي دې کښتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د يوه ظالم پاچا پلويانو کمين نيولی، هره کښتۍ چي مومي غصبوي ئې! د موسی عليه السلام ملګری پدې خبر وو، د دې لپاره چي دا کښتۍ او غريب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي يو تدبير ئې وسنجاوو، کښتۍ ئې سورۍ کړه، ترڅو له سفر نه پاتې شي، دا کار چي د موسی عليه السلام لپاره د توجيه وړ نه وو په حقيقت کې د کښتۍ د مالکانو لپاره لوی خدمت وو او په همدې کې د موسی عليه السلام لپاره يو لوی درس پروت وو او هغه دا چي يوه چا ته د ډېري ګټې لپاره لږ ضرر رسول د ستايني وړ دئ نه د اعتراض وړ.

په دوهم ځل ئې هم د خپل پوه او عالم ملګري په کړو صبر ونشو کړی، بیا ئې اعتراض وکړ چې دا ځوان دي ولې بې موجبه ووژلو؟! له دې نه خبر نه وو چې دا ځوان یو شریر، سخت زړی، فاسد او کافر انسان دئ، مور او پلار ئې مسلمانان دي او د ده خطر دومره لوی شوی چې کورنۍ ئې تهدیدوي، دا په اصطلاح یو فاسد غړی دئ، جراحي ته ضرورت لري، د دې فاسد او خطرناك غړي قطع کول په واقع کې لدې مؤمني کورنۍ سره مرسته ده. د موسی پوه او عالم ملګري دې مؤمني کورنۍ ته لوی خدمت وکړ، د یوه شریر انسان له شره ئې وژغورله او موسی علیه السلام ته ئې دا درس وروښود چې: په سالم بدن کې د فاسد غړی جراحي ممانعت نه لري، له سالم بدن نه د هغه غړي قطع کول ضروري دي چې د اصلاح او جوړیدو امکان ئې نه وي. که اسلامي ټولني ته د یوه شریر او فاسد انسان له خوا ګواښ او تهدید متوجه شي او تر خطر لاندي راشي چې له تصفیی او منځه وړلو پرته بله چاره ونلري، نو د دا ډول غړي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه د توجیه او ستایني وړ عمل دئ.

- دریېم ځل ئې پدې اعتراض وکړ چې ولې له هغه بخیل قوم سره د کاږه دېوال په جوړولو او له غورځیدلو نه مخنیوی کې مرسته کوي، له داسي قوم سره ولې مرسته کوي چې دومره بخیل او بې احساسه دئ چې اړ او مجبور انسان ته یوه مړی ډوډۍ هم نه ورکوي او ولې ئې دې خلکو ته مفت او مجاني کار وکړ؟ موسی علیه السلام د خپل ملګري پدې عمل انتقاد وکړ، ځکه هغه پدې نه وو خبر چې تردې دېوال لاندي د هغو دوو یتیمانو خزانه ده چې له مؤمنو والدینو نه په میراث ورته پاتې ده، د موسی علیه

السلام ملګري په خپل دې مفت او بې اجورې کار سره هغو يتيمانو ته غټ خدمت وکړ او په عين وخت کې ئې موسی علیه السلام ته دا لارښوونه وکړه چې انسان ته نه ښايي تل بالمثله معامله وکړي، مناسبه نده چې د ټولني د اکثريت بدکړه او ناسمه معامله تا له کمزوري اقليت سره له نېکي نه منع کړي. ولې ونه وايو چې د هغو يتيمانو پلار دی يو امين او صالح کس ګڼلی، ورته ويلي ئې وو چې د زامنو لپاره مي تر دېوال لاندي سکې ښخوم، کله چې ستر شي نو ترې خبر ئې کړه، ده ورسره ژمنه کړې، د همدې ژمني په وجه دې کلي ته راغلی چې د دېوال حالت وګوري، هغه ئې د ړنګېدو په حال کې موندلی نو ځکه ئې رغولی.

- صحيح نه ده چې د ظالم واکمن په اړه علم، د صالح پلار د طاغي او عاصي زوی په اړه علم او تر دېوال لاندي د يتيمانو د خزانې په اړه علم داسي توجيه او تعبير کړو چې له قرآن سره تعارض ولري او په غيب د انسان د پوهېدا غلطه خبره ترې راووځي، دا آيتونه بايد د قرآن د نورو آيتونو په رڼا کې تفسير کړو، خضر علیه السلام په دې خبرو پوهېدو؛ ځکه چې دی په همدې سيمي کې اوسېدو، موسی علیه السلام ترې خبر نه وو ځکه چې هغه له بلې سيمي هلته تللی وو.

- ځيني خلك د خضر علیه السلام دا وينا چې وئې ويل: (و ما فعلته عن امري: ما (د خپل زړه) په حکم دا کار نه دئ کړی) داسي تعبيروي چې ګواکې ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توګه د دغه ځوانکي د وژلو امر شوی وو، خو په آيتونو که په لږ دقت سره پوهېدی شو چې د دې وينا

معنی دا ده: ما دا کار د خپل نفسي غوښتنو په حکم نه دئ کړی، کوم ذاتي غرض مي په کي نه وو، د الله دین د داسي څه کولو اجازه راکړې، په الهي دین کي د هغه چا وژل مانع نه لري چي صالح ښولنه په کفر او طغیان گواښي، یوازي دغسي تعبیر موسی علیه السلام ته یو مهم درس گڼل کېدی شي، نه دا چي گواکي د الله تعالی له لوري خضر علیه السلام ته په مشخصه توگه د دغه ځوانکي د وژلو حکم شوی وو!!

- همداراز د خضر علیه السلام دا وینا چي وئې ویل: "فأردنا أن یبدلهما ربهما خیراً منه زکوةً و اقرب رحماً" په واضح توگه ښیي چي هغه په دې طمعه او هیله دا کار کړی چي الله تعالی د دې طاغي او کافر زوی په بدل کي د ده صالح مور پلار ته داسي زوی ورکړي چي د ده په څېر کافر، سرکښ، مفسد او بې رحمه نه وي، که خضر علیه السلام دا کار د الله تعالی په حکم کړی وی نو بیا خو د داسي څه ویلو ته قطعاً مجال نه پاته کېدو، په دې صورت کي به ده حتماً همغه مخکنۍ خبره کوله (فأراد ربك: ستا رب وغوښتل)، د (أردنا) صیغه داسي تعبیرول چي گواکي الله تعالی او خضر علیه السلام په گډه د دې ځوانکي د وژلو پرېکړه کړې؛ صحیح تعبیر نه دئ، دا ځکه چي الله تعالی یوازي او د بل له شراکته پرته پرېکړي کوي. له اړوند آیتونو نه په صراحت سره معلومېږي چي د دې هلك مور او پلار خضر علیه السلام ته د خپل زوی په اړه شکایت کړی وو. دا ځکه چي اړوند آیتونه داسي وایي:

وَأَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِينَا أَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَكُفْرًا * فَأَرَدْنَا أَنْ

يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكَاةً وَأَقْرَبَ رُحْمًا * الكهف: ٨٠-٨١

او هغه ځوانکی داسي وو چي پلار مور ئې مؤمنان ول، نو موږ ووېرېدو چي داسي نه چي په خپل کفر او طغيان سره دوی دواړه تنګ کړي، نو اراده مو وکړه چي د دوی دواړو رب تر ده د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزويني له پلوه نږدې په عوض کي ورکړي.

که په دې آيتونو کي لږ غور وکړو نو په وضاحت سره راته جوته کېږي چي د هغه هلك مور پلار خضر عليه السلام ته شکايت کړی، درې سره په دې صلاح شوي چي هغه ووژل شي، د (خشينا) او (اردنا) صيغې له دې پرته په بله توګه نشو تعبيرولی، ځکه دلته د (نا) ضمير لپاره بله مرجع نشو په ګوته کولی، اصولاً بايد ضمير نږدې اسم ته راجع شي، دلته د (نا) لپاره نږدې نومونه دوی درې دي، په خشينا او اردنا کي نه له ادبي پلوه او نه له اعتقادي پلوه؛ ضمير الله تعالی ته راجع کولی شو، که په (اردنا) کي ضمير الله تعالی او خضر عليه السلام ته راجع شي د دې معنی داسي راوځي چي دوی دواړو په ګډه د هغه هلك د وژلو پرېکړه وکړه، حال دا چي د پرېکړو په صادرولو کي له هيچا سره مشوره نه کوي او څوك له ځان سره نه شريکوي!! څوك چي په اردنا کي (الله او خضر) مرادوي دې ته ئې پام نه دئ کړی چي په دې صورت کي بايد په (خشينا) کي هم دوی دواړه مراد کړي!! چي دا کاملاً غلطه خبره ده، الله تعالی په ټول قرآن کي هيڅ ځای د خشي صيغه ځان ته نه ده منسوب کړې، وېره الله تعالی ته منسوبول صحيح نه ده، دلته هم د (خشينا) يعني ووېرېدو صيغه د هلك مور پلار او

خضر علیه السلام ته راجع ده او هم د اردنا یعني اراده مو وکړه صیغه، له دې پرته بل تعبیر ته هیڅ مجال نه پاته کېږي؟

- له دې آیتونو نه دا هم جوته کېږي چې دا خبره صحیح نه ده چې ووایو خضر علیه السلام یو معصوم ماشوم وژلی، د هغه څوانکي په اړه د موسی علیه السلام وینا په دې معنی نه ده چې هغه وژل شوی څوان یو معصوم ماشوم وو، موسی علیه السلام هغه نه پېژاندو، د اعتراض مقصد ئې دا وو چې هغه داسي جرم نه دئ کړی چې د وژلو مستحق وي، د دې څوانکي په اړه د خضر علیه السلام وینا معیار ده، د ده له وینا معلومېږي چې هغه په داسي کفر، طغیان، فساد او بې رحمۍ کې غرق وو چې نږدې وه خپله کورنۍ تباه کړي.
- دې ته مو هم باید پام وي چې د مفسرینو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چې موسی علیه السلام کله له خضر علیه السلام سره لیدلي، له بعثت نه مخکې که وروسته؟ د بعثت په لومړیو کې که په پای کې؟ په دې کې هم د اختلاف شاهد یو چې مجمع البحرین چېرې دئ؟ په ټول مصر کې داسي ځای نشته چې دوه سیندونه سره یو ځای شوي وي، هغه دوه ستر سیندونه (نیل الابیض او نیل الازرق) چې نیل ترې جوړ شوی د سودان په مرکز خرطوم کې سره یو ځای شوي، له مصر نه تر خرطوم پورې بل مجمع البحرین نه ترسترګو کېږي، او دا تر دوو میاشتو زیات پلي مزل غواړي، د موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده دا وینا چې یا به د دوو سیندونو د یوځای کېدو ځای ته رسېږم او یا

خو به تر اوږدې مودې همداسې دروممم: وَ إِذْ قَالَ مُوسى لِفَتَاهُ لا أَبْرَحُ حَتى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضىَ حُقُباً * الكهف:٦٠، له دې نه په ښکاره توګه معلومېږي چې موسی علیه السلام په اوږده سفر وتلی وو، په لنډ سفر کې هیڅوك دا خبره نه کوي چې یا به آخري مزل ته رسېږم او یا خو به همداسې تر اوږدې مودې روان یم. او دا ښیي چې دا لیدنه له بعثت نه مخکې او په مصر کې د قیام په زمانه کې شوې نه له مصر نه له وتلو وروسته، که له خضر علیه السلام سره د ده لیدنه له بعثت نه مخکې شوې وي نو بیا خو د موسی علیه السلام دوه کارونه د هغو لارښوونو نتیجه ګڼلی شو چې له خضر علیه السلام نه ئې په هغه سفر کې زده کړې وې، یو ئې له یوه مظلوم بني اسرائیلي نه د یوه قبطي د تېري په وړاندې دفاع، داسې دفاع چې په ترڅ کې ئې تیری کوونکی ووژل شو، او بل ئې د مدین د کوهي په غاړه له هغو دوو نجونو سره د رمې د څړوبولو مرسته چې صالح پلار ئې سپینږیری وو او د رمې پیایلو ته اړې شوې وې. دا دواړه کارونه د خضر علیه السلام له دوو کارونو سره ډېر شباهت لري، د دغو پېښو تر منځ شباهتونه باید عادي ونه ګڼو او سطحي ترې تېر نشو، خو د دې اعتراض ځواب به څه وي چې له بعثت نه مخکې به موسی علیه السلام ته څنګه د وحي له لارې ویل شوي وي چې مجمع البحرین ته ولاړ شي او هلته د الله له یوه صالح بنده سره وګوري؟ د دې ځواب دا دئ چې د وحي دا وینا باید همغسې وګڼو لکه چې د موسی علیه السلام مور ته وحي شوې وه چې زوی دې وپاله، کله چې خطر احساس کړې په صندوق کې ئې کېږده او په سیند کې ئې پرېږده.

که د قرآن الفاظو ته ځیر شو نو څو خبري زموږ مخي ته راځي: ۱- دا پېښه له مصر نه بهر په بل ملك کې رامنځته شوې ده، دا ځکه چې خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وايي: وَ كانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ يَأخُذُ كلَّ سفِينَةٍ غَصباً: آخوا ته ئې داسي پاچا (په کمين کې) دئ چې هره کښتۍ غصبوي، د دې معنی دا ده چې دا پېښه د فرعون تر واکمنۍ لاندي مصر کې نه بلکې په بل ملك کې رامنځته شوې. ۲- د موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چې دی په اوږده سفر وتلی وو، ۳- کله چې موسی علیه السلام له خضر علیه السلام سره مخامخ شوی نو خپل مخکنی د سفر ملګری (غلام او خادم) ئې پرېښی او یوازي له خضر علیه السلام سره په نوي سفر کې ملګری شوی. دا ځکه چې له دې وروسته تل د تثنیې صیغې کارول شوې او دا ښيي چې له دوی سره درېیم کس نه وو، ٤- د موسی علیه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه یاد شوی او له دې معلومېږي چې دا د هغه وخت قصه ده چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې او د شاهي کورنۍ د یوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کې ول، ٥- د هغو خلکو انتباه صحیح نه ده چې وايي: موسی علیه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسي ځای ته رسېدلی چې ستړی او وږی شوی، همدلته ئې پوخ ماهي ترې ورك شوی او خضر علیه السلام ئې همدلته موندلی!!

له دغو خبرو معلومېږي چې د موسی علیه السلام دا تربیتي سفر له بعثت او مدین ته له تلو مخکې هغه مهال ترسره شوی چې موسی علیه السلام د فرعون په کور کې اوسېدو، د قرآن دا آیت:

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَى آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ * القصص: ١٤

او کله چي خپلي مضبوطتيا ته ورسېد او (له عقلي پلوه) تيار شو؛ حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او نېکانو ته همداسي بدله ورکوو.

دا آيت ښيي چي الله تعالی په همدې مودې کي چي موسی عليه السلام د فرعون په کور کي اوسېدو د ده د روزني او په علم او حکمت د سمبالېدو خاص انتظام کړی وو، يو ئې همدا تربيتي سفر او له خضر عليه السلام سره د ده څو ورځنۍ ملګرتيا وه. که د القصص سورې د پورتني آيت نه وروسته آيت ته ځير شو ګورو چي په هغه کي د يوه قبطي او بني اسرائيلي تر منځ نښتي او له مظلوم بني اسرائيلي نه د موسی عليه السلام دفاع ته اشاره شوې او ورپسې د موسی عليه السلام هغه تاريخي او انقلابي پرېکړه په ګوته شوې چي د ظالمانو له ملګرتيا او ملاتړ نه ئې خپل قطعي او دائمي برائت اعلان کړ:

قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِلْمُجْرِمِينَ * القصص: ١٧

وئې ويل: اې زما ربه! د هغي پرزويني په وجه چي پر ما دي وکړه هيڅکله به (له دې وروسته) د مجرمينو ملاتړی نشم.

دا په حقيقت کي له فرعوني نظام سره د موسی عليه السلام د بشپړي مقاطعي اعلان وو. د علم او حکمت له ورکړي وروسته د دغو پېښو يادونه ښيي چي همدا د ده د علم او حکمت آثار او نتايج وو، يو داسي کس چي د فرعون په کور کي په ناز او نعمت کي ستر شوی وي، د فرعون مېرمني د

خپل نازولي او ګران زوی په توګه روزلی وي؛ ډېره بعيده ده چې هغه دې يوازې او له ساتونکو پرته ښار ته ننوځي او بيا دې د دوو عادي سړو تر منځ نښتې کې مداخله وکړي او هغه هم داسې مداخله چې په ترڅ کې ئې تېرى کوونکى ووژل شي، خو الله تعالی د ده د روزنې بېل انتظام کړی وو، له خضر عليه السلام سره ملګرتيا هغه ته ښودلې وو چې د مظلوم ملګرتيا به کوې. خضر عليه السلام د ملګرتيا په دوران کې د دريو پېښو په ترڅ کې هغه ده ته دا درس ورکړی وو چې تل به د مظلوم ملګرتيا کوې او د ظالم له منګولو نه د هغه د ژغورنې لپاره به ملاتړې.

له دې خبرو نه دا هم په واضح توګه معلومېږي چې د عبدالله بن عباس رضی الله عنه هغه روايت دقيق دئ چې وايي: موسی عليه السلام ته ويل شوي وو چې په سيند کې روان ژوندي ماهي پسې درومه، په هر ځای کې چې درنه ورك شو هملته به هغه نېك بنده ومومې. دا ځکه چې که پوخ او وريت شوی کب د نښې په توګه ټاکل شوی وی نو موسی عليه السلام به خپل ملګري ته هيڅکله دا خبره نه کوله چې کب راوړه چې وئې خورو، فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا *

الکهف: ٦٢

کله چې (له هغه ځايه) تېر شول خپل زلمي (خادم) ته ئې وويل: غرمنی خوراك مو راوړه چې يقيناً له خپل دې سفره له کړاو سره مخامخ شوي يو.

د موسی عليه السلام دا وينا له يوې خوا ښيي چې سفر ئې اوږد او ستونزمن وو او له بلې خوا ښيي چې پوخ کب نه بلکې ژوندی کب د نښې

په توګه ورته ټاکل شوی وو، کومو درنو مفسرينو چې دا پوخ کب ګڼلی وجه ئې دا ده چې د موسی علیه السلام ملګري د خوراك غوښتو په ځواب کې ورته وويل: کب مې هغه مهال هېر شو چې د لويې ډبرې خوا ته مو پناه يووړه، شيطان دا خبره رانه هېره کړه چې (درته) ياده ئې کړم، په عجيبه توګه په سيند کې په خپله مخه ولاړ. دغو درنو مفسرينو دې ته پام نه دئ کړی چې که پوخ کب د دوی لپاره د نښې په توګه ټاکل شوی وو نو موسی عليه السلام به څنګه هغه د خوراك لپاره ترې غوښتو!! له پورتني آيت نه خو څو خبرې معلومېږي: ۱- د دوی سفر په تودوخې کې ترسره شوی، د غرمې له سختې ګرمې نه ئې د کومې لويې ډبرې سيورې ته پناه وړې وه، ۲- موسی عليه السلام خپل ملګری په دې ګمارلی وو چې په سيند کې روان کب به ترنظر لاندې نيسي، که ترې ورك شو نو ده ته به اطلاع ورکوي، خو کله چې دې کب خپل مسير بدل کړی او په بل لورې تللی نو له ملګري ئې دا خبره هېره شوې او هغه مهال ئې موسی عليه السلام ته کړې چې هغه د خوراك غوښتنه ترې کړې. ۳- په خپله مخه د کب تلل ښيي چې مجمع البحرين همدلته وو، کب خپله لاره بدله کړې او په هغه لورې تللی چې له بل اړخ نه بل سيند له نيل سره يو ځای شوی، نو ځکه موسی عليه السلام خپل ملګري ته وويل: موږ د همدغه ځای (مجمع البحرين) په لټه کې وو. دې ته مو هم بايد پام وي چې هغه پلې نابلده مسافر ته چې د لوی سيند په ژۍ برې خوا ته روان وي، دا ډېره ګرانه وي چې د دوو سيندونو د يو ځای کېدو ځای په دقيقه توګه تشخيص کړي، دا ځکه چې ډېر ځلې لوی سيندونه په يوه ځای کې ووېشل شي او په بل ځای کې ئې

وېشل شوې څانګي ببرته سره یو ځای شي، دې ته مو هم باید پام وي چې الله تعالی کبان داسي پیدا کړي چي په ژمي کي تودو سیمو ته کوزېږي او په دوبي کي بېرته خپلو اصلي سړو سیمو ته درومي، کله کله د دوی دا ژمنی او دوبنی سفر سلګونه کیلومتره اوږد وي، د نیل کبان د دوبي په موسم کي له مصر نه د سودان او په یوګندا او ایتوپیا کي د نیل د سرچینو په لوري درومي.

عجیبه ده؛ هغه کسان چي زړونه ئې بیمار دي، لدې ښوونکې او له پندونو نه ډکي قصې نه سرچپه او غلطه انتباه اخلي او د داسي یوه تصور د اثبات لپاره پرې استدلال کوي چي په حقیقت کي دا قصه د هغه د تردید او نفی لپاره راغلې. دوی هڅه کوي لدې قصې نه د پیغمبرانو علیهم السلام لپاره د علم غیب د اثبات لپاره د دلیل په توګه کار واخلي، پداسي حال کي چي دا قصه په واقع کي له موسی علیه السلام نه د علم غیب نفی کوي.

## د ولایت نور:

ته ادعاء کوې چي اولیاء الله د ولایت په نور سره له عرشه تر تحت الثریٰ ګوري، خو آیا د پیغمبر علیه السلام د هغه سفر قصه دي اورېدلې چي په ترخ کي ئې د تیمم حکم نازل شو؟ هغه سفر چي د عائشې رضی الله عنها هار په کي ورك شوی وو، د هار په لټه کي تګ وځنډېدو، ورځ په وچ ډاګ تېره شوه، اوبه ئې هم ختمي شوې وې، په پای کي هار د اوښ تر سینې لاندي وموندل شو، پیغمبر علیه السلام او د ده ټول هغه صحابه چي د نړۍ ټول اولیاء الله د دوی ادنی کس ته نشي رسېدی، په دې نه پوهېدل

چي هار چيري دئ او ښنګه ئې پيدا کړي، له عرش تر تحت الثرئ خو پريږده، ښيلي خوا ته د اوښ تر سينې لاندي (تحت البعير) ئې د عائشې رضى الله عنها د غاړي هار نه ليدو!! روايت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ:خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ، حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ انْقَطَعَ عِقْدِي، فَأَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْتِمَاسِهِ، وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ، فَقَالُوا: مَا تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ؟ أَقَامَتْ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِالنَّاسِ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ، فَعَاتَبَنِي، وَقَالَ لِي مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُولَ، وَجَعَلَ يَطْعَنُ بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي، فَلا يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلا مَكَانُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي، فَنَامَ حَتَّى أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، فَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ التَّيَمُّمِ، فَقَالَ أُسَيْدُ بن حُضَيْرٍ: مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ، فَبَعَثْنَا الْبَعِيرَ الَّذِي كُنْتُ عَلَيْهِ، فَوَجَدْنَا الْعِقْدَ تَحْتَهُ. المعجم الكبير للطبراني

## اهل العلم، اهل الذکر او اهل الخبر:

تا چي ويلي: په يوه حقيقت د پوهېدو لپاره لومړی علماوو ته، بيا ذاکرينو ته او په پای کي خبير ته رجوع وکړئ او د قرآن په دريو آيتونو کي دي له اولي الامر علماء، له اهل الذکر ذاکرين او له خبير دي اهل الخبر مراد کړي؛ ټول ئې تحريف ته ورته تعبيرونه دي، راشه چي د دې آيتونو سياق و سباق او الفاظ له نظره تېر کړو:

وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى

أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطَانَ إِلَّا قَلِيلًا * النساء: ۸۳

او که کله د امن یا د وېرې کوم خبر ورته راشي، خوروي ئې، خو که هغه ئې پیغمبر او خپلو چارواکو ته رسولی وی، نو د دوی استنباط کوونکي به حتماً پرې پوه شوي وو او که پر تاسو د الله فضل او رحمت نه وی نو له لږو پرته به تاسو ټولو د شیطان متابعت کړی وو.

قرآن خو دا د منافقینو کار ګڼي چې کله په مسلمانانو کې وېره خوروي او کله بې ځایه طمع، کله له دښمن مسلمانان وېروي او کله ئې له هغه غافل کوي او د هغه په اړه بې ځایه هیلې په دوی کې راپیدا کوي، هم له دښمن بې ځایه وېره خطرناک عواقب لري او هم له هغه غافل کېدل او په خطر ئې سترګې پټول او د هغه له لوري د امنیت احساس کول. هرڅوک چې دا کار کوي هغه منافق دئ، د پیغمبر علیه السلام په وخت کې هم او نن هم.

په دې آیتونو کې مسلمانانو ته ویل شوي چې د هغو شایعاتو له خورولو نه ډډه وکړئ چې یا بې ځایه وېره راولاړوي او یا مسلمانان د دښمن له خطر نه غافل کوي، که د دښمن په اړه کومه اطلاع ترلاسه کوئ نو دا باید خپلو مشرانو ته ورسوئ.

څوک چې دا کار کوي هغه نه یوازې منافق دئ بلکې الله تعالی دلته د داسې خطرناک شیطان په نامه یاد کړی چې مسلمانان د الله په فضل سره د هغوی له شر نه خوندي پاتې کېدی شي، دا د لستوڼي مار دئ، له نېش نه

ئې يوازې د الله په فضل خوندي پاتې کېدی شئ.

د آيت له الفاظو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې له اولي الامر نه مراد چارواکي او مسئولين دي نه علماء، د امن او خوف مربوط خبرونه بايد دغو مشرانو ته ورسول شي نه بل چا ته.

قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلًا * وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِ وَكَفَى بِهِ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا * الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ الرَّحْمَنُ فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا * الفرقان: ۵۷-۵۹

دلته په دوارو آيتونو کې له (خبير) مراد الله تعالی دئ نه بل څوك، او له فسئل به خبيراً مراد له خبير خدای اجر غوښتل دي، نه بل څه، ځکه په ۵۷ آيت کې پيغمبر عليه السلام ته امر شوی چې خلکو ته ووايي: له تاسو هيڅ اجر نه غوارم، ورپسې ويل شوي چې پر الله تعالی توکل وکړه او ورپسې ويل شوي له خبير الله ئې وغواړه. دلته په (به) کې اشاره اجر ته ده نه لکه چې ته ادعاء کوې د الله په اړه له هغه چا وپوښته چې خبر وي؛ يعني الله تعالی ئې په مشاهدې سره ليدلی وي!! دا داسې ستر تحريف دئ چې هيڅ د ايمان خاوند ئې جسارت نه کوي.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ * النحل: ۴۳

په دې آيت کې له اهل الذکر نه يا مراد اهل تورات دي چې قرآن د ذکر په نامه هم نومولی او يا مراد تاريخ پوهان دي، ځکه د آيت په سر کې ويل

شوي چي تر تا مخکي مو له سرېو پرته بل څوك (فرشته يا بل څه) د پيغمبر په توگه نه دي لېږلي، که په دې نه پوهېږئ نو له اهل الذکر نه پوښتنه وکړئ، کوم بې عقله انسان به له دې اهل الذکر نه د ذاکرينو معنی اخلي؟!!

اوس ته قضاوت وکړه چي د دغو آيتونو په استناد خلك د پوهي او فهم له پلوه په دريو ډلو اهل العلم، اهل الذکر او اهل خبر وېشل څومره بې بنسټه او جعلي وېش او غلط استناد دئ؟!!

# علم اليقين، عين اليقين او حق اليقين:

همداراز د علم اليقين، عين اليقين او حق اليقين په اړه ستا تعبيرونه کاملاً بې بنسټه دي، په قرآن کې دا درې سره د جحيم په اړه راغلي نه د الله تعالی په اړه ، راشه چي اړوند آيتونه ئې له نظره تېر کړو:

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ * حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ * كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ * كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ * لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ * ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ * ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ * التكاثر:۱-۸

زيات غوښتني مشغول کړئ، تر دې چي تاسو وکتل گورونه، داسي نه ده، ژر به پوه شئ. بيا هم داسي نه ده، ژر به پوه شئ، نه، نه، که په علم يقين پوه شئ، خامخا به په نظر درشي جحيم، خامخا به ئې بيا وگورئ په سترگه د يقين، بيا به حتماً وپوښتی شئ په دې ورځي له نعيم.

يعني داسي نه ده لکه چي تاسو گمان کوئ او خپل خير، صلاح او سعادت په تکاثر او زيات غوښتنو کې لټوئ، بلکي ډېر ژر به د دې منحوس

او خبیث خصلت په بدو عواقبو او پایلو پوه شئ، هم په دنیا کې او هم په آخرت کې. لومړی (سوف تعلمون) د تکاثر دنیوي پایلو ته اشاره کوي او دوهم (سوف تعلمون) اخروي عواقبو ته. کله چې د ګور ژۍ ته ورسېږئ، چې نه هغه ډېر درنه لري دی او نه تاسو ترې لري یئ، پوه به شئ چې د تکاثر حاصل مو څه وو؟! او هغه وخت چې د الله تعالی په وړاندې ودرېږئ پوه به شئ چې ستاسو د تکاثر سزا او پایله څه ده؟

د ۵ آیت الفاظو ته لږ ځیر شئ، په دقیقه او له کوم تصرف نه پرته د آیت تحت اللفظي معنا دا ده: (که په علم الیقین پوه شئ)، یعني که له علم الیقین څخه کوم علم ستاسو په برخه شي، هغه علم ولرئ چې په یقین منتج کېږي او حتمي پایله ئې (یقین) او باور وي، نو په دې صورت کې به خامخا په دې پوه شئ چې (جحیم) شته او شته والی ئې حقیقت لري، دا علم به (جحیم) ستاسو د عقل د سترګو په وړاندې مجسم کړي او د دغه علم په رڼا کې به ستاسو عقل د جحیم په لیدو موفق شي. له وروستي آیته په څرګنده معلومېږي چې په دې آیت کې د (جحیم لیدل) په خپلو سترګو د دوزخ د لیدلو په معنا نه ده، په سترګو د جحیم لیدل به په آخرت کې ترسره کېږي او هغه لیدل چې دا آیت ورته ګوته نیسي، د علم الیقین په رڼا کې د دوزخ لیدل دي. متأسفانه ځینو درنو مفسرینو دا آیت داسې ترجمه کړی چې ګواکې د آیت اصلي الفاظ داسې وي: لوتعلمونه بالعلم الیقین: که په علم الیقین سره پرې پوه شئ. حال دا چې د آیت الفاظ داسې نه دي او د دوی ترجمه دقیقه او محتاطانه نه ده، دوی په خپل دغه تعبیر سره نه یوازې احتیاط او دقت نه دئ مراعات کړی بلکې د آیتونو تر منځ یووالې او

تنسیق ته ئې هم صدمه رسولې او دې ته اړ شوي چې د شپږم آیت په سر کې د (ل) توری چې دا دواړه آیتونه سره تړي او وروستی د مخکني قطعي نتیجه ګڼي په خپلې اصلي معنا ونه نیسي او وروستی آیت مستقل او د نوي بحث پیل وګڼي، نه پوهېږو د دې سبب څه دئ چې دوی د آیت دقیق مفهوم او اصلي تحت اللفظي معنا پرېږدي او د آیتونو په ترکیب کې داسې تصرف کوي چې په خپل ذهن کې انځور کړې معنا ترې راوباسي، دا ولې په دغو دوو لنډو آیتونو کې دوه توري (هـ د تعلمون په پای کې او ب د العلم په سر کې) علاوه کوي او آیت داسې جوړوي: لو تعلمونه بالعلم الیقین او په شپږم آیت کې دا تغییر راولي چې (ل) په اصلي معنا نه اخلي!!

د دې آیت په اړه د هغو مفسرینو رأیه هم دقیقه ده او هم محتاطانه چې وايي: "لترون الجحیم" بعیون قلوبکم; فإن علم الیقین یریك الجحیم بعین فؤادك; وهو أن تتصور لك تارات القیامة, وقطع مسافاتها. "ثم لترونها عین الیقین": أي عند المعاینة بعین الرأس, فتراها یقینا, لا تغیب عن عینك. جحیم به د خپل زړه په سترګو وګورئ، دا ځکه چې علم الیقین تا ته دوزخ د خپل زړه په سترګو درښيي او هغه داسې چې د قیامت حالات او د واټن لنډېدل ئې درته انځوروي، بیا به ئې په عین الیقین سره وګورئ، یعني په خپلو سترګو سره، نو په یقیني توګه به ئې وګورې، له سترګو به دې نه غایب کېږي.

د اوم آیت له (ثم) او په (عین الیقین) سره د جحیم د لیدو له الفاظو ئې معلومېږي چې دلته هغه حالت انځور شوی چې د محاسبې په ورځ به

هر څوك خپل ځای وګوري، دوزخيانو ته به جحيم راڅرګند شي او په خپلو سترګو به هغه ځای وګوري چې څو شېبې وروسته به ورننوځي.

او حق اليقين په دې آيت کې راغلی:

فَنُزُلٌ مِنْ حَمِيمٍ * وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ * إِنَّ هَذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِينِ * فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ * الواقعة: ۹۳-۹٦

دلته په حجيم کې د مکذبينو لوېدل حقيقي او يقيني خبره ګڼل شوې.

اوس ته ما ته ووايه چې څنګه علم اليقين، عين اليقين او حق اليقين؛ د الله تعالی په اړه د ايمان درې پړاوونه او پوړي ګڼې؟!! دا آيتونه خو وايي: په دوزخ باور درلودل علم اليقين دئ، د قيامت په ورځ ئې په خپلو سترګو ليدل عين اليقين دئ او په دوزخ کې د مکذبين الضالين پرېوتل حق اليقين دي!!

## په ژوند کې د عرش، جنت او دوزخ ليدل:

تا د يوې ناسمي ادعاء د اثبات لپاره او په دې موخه چې وښيې په ژوند کې د عرش، جنت او دوزخ ليدل ممکن دي په دې حديث باندي استناد کړی:

عن الحارث بن مالك الأنصاري أنه مر بالنبي صلى الله عليه وسلم فقال له: "كيف أصبحت يا حارثة؟" قال: أصبحت مؤمناً حقاً،قال: "انظر ما تقول فإن لكل قول حقيقة فما حقيقة إيمانك؟" قال: عزفت نفسي عن الدنيا (أي كرهتها) فأسهرت ليلي وأظمأت نهاري وكأني أنظر عرش ربي بارزاً وكأني أنظر

إلى أهل الجنة يتزاورون فيها وكأني أنظر إلى أهل النار يتضاغون فيها (أي: يضجون ويتصايحون) قال: "يا حارثة عرفت فالزم". رواه الطبراني في الكبير وفيه ابن لهيعة وفيه من يحتاج إلى الكشف عنه.

د دې روايت الفاظ خو داسې دي: كأني أنظر عرش ربي بارزاً وكأني أنظر إلى أهل الجنة يتزاورون فيها وكأني أنظر إلى أهل النار يتضاغون فيها، په ټولو کې ويل شوي: داسې لکه چې د خپل رب عرش ته ګورم، داسې لکه چې جنتيان په جنت کې او دوزخيان په دوزخ کې ګورم، د دغو الفاظو له کومې برخې تا د عرش، جنتيانو او دوزخيانو ليدل رااېستلې، حارث رضی الله عنه خو داسې څه نه دي ويلي، هغه خو خپل حالت له هغه حالت سره تشبيه کړی چې څوك عرش ته مخامخ ولاړ وي، يا جنتيان او دوزخيان په خپلو سترګو ګوري، (كأني) خو همدا معنی ورکوي!! ته څنګه جسارت کوې او د هغه الفاظ غلط تعبيروې؟!! زه خو د هر هغه چا په اړه همدا ګمان کوم چې د الله تعالی په وړاندې ئې د دعاء لپاره لاسونه لوړ کړي وي، غاړه ئې کږه نيولې وي، له سترګو ئې اوښکې بهېږي او په زاريو زاريو خپل عرايض مولا ته وړاندې کوي، ما ته خو د داسې کس په څېره کې حارث رضی الله عنه په نظر راځي او ګمان کوم چې هغه د حال په ژبه همغه څه وايي چې حارث رضی الله عنه ويل.

ښايي بې مناسبته به نه وي که درته ووايم چې ما د ژوند اوه کلونه داسې تېر کړي چې ته ورته چله ويلی شې خو دا د دښمن تر شديد تعقيب لاندې پټه مبارزه وه چې هيله من يم الله تعالی ئې د نوح عليه السلام

هغه دعوت ته ورته محسوب کړي چي فرمايي: ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا * ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا *

په دې کې مي پنځه کلونه داسي وو چي په اوسطه توګه مي په هرو ځلرويشتو ساعتونو کې درې ځلي په لمانځه کي او له لمانځه بهر دومره الله تعالی ته ژړلي چي په اوښکو مي مخ، ږيره او د سجدې ځای لانده شوي او د رکوع په حالت کې مي پر زمکه د اوښکو وربېدو غږ اوربېدو، او ډېر ځلي مي حالت هغسي وو لکه چي حارث بن مالك انصاري وايي:... وكأني أنظر عرش ربي بارزاً وكأني أنظر إلى أهل الجنة يتزاورون فيها وكأني أنظر إلى أهل النار يتضاغون فيها ... باور وکړه چي دا ژړا مي اکثراً د مسلمانانو د پرېشانه حالت په وجه وه، په افغانستان، عراق، فلسطين، کشمير او نورو ځايونو کې د مظلومو مسلمانانو د نجات او د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې لپاره مي د الله تعالی په وړاندي ژړلي، په دې هم باور وکړه چي الحمد لله زه الله تعالی له فواحشو او کبائرو نه خوندي ساتلی يم، که څه هم تل له خپل رب نه د ګناهونو او اشتباهاتو معافي غواړم خو دا ژړاګاني مي د ګناهونو لپاره نه وې.

## آيا اولياء الله په غيب پوهېږي؟:

ته ادعاء کوې چي اولياء الله په غيب پوهېږي، دا په داسي حال کې چي قرآن په قاطع الفاظو او په مکرره توګه فرمايي چي له الله تعالی پرته نه په آسمان کې څوك په غيبو پوهېږي او نه په زمکي کې.، نه فرشتې، نه انسانان او نه پېريان، د لاندي آيت په اړه ستا استدلال د حيرت او حتی د خندا وړ

دئ:

وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ * الانعام: ٥٩

او له ده سره د غيب (د خزانو) کلياني دي چي له ده پرته هيڅوك وربانديي نه پوهېږي، په وچه او بحر کې چي څه شته په ټولو پوهېږي، هيڅ پاڼه نه راپرېوځي مگر دی ورباندي پوهېږي او نه د زمکې په تيارو کې کومه دانه او نه کوم لوند او وچ داسي څه شته چي په ښکاره کتاب کې دي نه وي.

ته وايې چي: مفتاح د خلاصولو لپاره وي، نو څکه له دې آيت نه معلومېږي چي په غيب باندي پوهېدا ممکنه ده!! او دا روايت هم د خپلې ادعاء په تأييد کې راوړې چي گواکې پيغمبر عليه السلام فرمايلي چي د ټولو خزانو (مفاتيح)کلياني ما ته راکړی شوې دي، د علم غيب د مفتاح په شمول!! په دې اړه څو عرايض لرم:

د غيب لپاره د خزانې او مفتاح يادونه د دې لپاره شوې چي خلکو ته ووايي: غيب پر ډاگ پروت شئ نه دئ چي هر څوك ئې له مانع او خنډ پرته تر لاسه کولی شي، بلکې الله تعالی په داسي خزانې کې ساتلی چي دروازې ته ئې قفلونه لگېدلی او ټولي کلياني او مفاتح ئې له ځان سره ساتلي، هيڅا ته ئې حتی يوه کلي هم نه ده ورکړې، ټولي کلياني خو په ځای پرېږده، کلي له ځان سره ساتل يعني هيڅوك په هيڅ صورت کې ورننوتی نشي.

د آيت دوهمه فقره همدا حقيقت بيانوي او فرمايي: لا يَعْلَمُهَا إِلا هُوَ: له ده پرته هيڅوك نه پرې پوهيږي.

تر دې آيت مخكې ويل شوي:

قُلْ لَوْ أَنَّ عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ * الانعام: ۵۸

ووايه: كه هغه څه راسره وی چې تاسو ئې په تلوار سره غواړئ نو لا دمخه به زما او ستاسو تر منځ كار پاى ته رسېدلى وو، او الله، ظالمان تر هر چا ښه پېژني.

دا آيت خو وايي چې د پيغمبر عليه السلام په واك كې هغه څه نشته چې كافران ئې ترې غواړي، كه ئې په واك كې وی نو ډېر د مخه به د ده او دښمنانو تر منځ وروستۍ پرېكړه شوې وه، خبره به نه اوږدېده او اوږدو پرله پسې جګړو ته به نه رسېده.

راشه څو هغه آيتونه هم له نظره تېر كړه چې په همدې اړه په قرآن كې راغلي چې هم له پيغمبر عليه السلام نه علم غيب نفي كوي او هم په كون او عالم كې تصرف او د خزانو د مفاتحو درلودل:

لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ *

آل عمران: ۱۲۸

د دې كار هيڅ څه په تا پورې اړه نه لري، يا به ئې توبه قبلوي او يا به ئې د دې لپاره تعذيبوي چې ظالمان دي.

په دې آيت کې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ويل شوي چي ته د هيڅ شي واك او اختيار نه لرې، دا په الله پوري اړه لري چي د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا يوازي د الله کار دئ، نه په تا پوري اړه لري او نه په بل چا پوري. د رسول الله صلى الله عليه وسلم په اړه چي حکم دا وي نو د نورو عادي خلکو په اړه به حکم څه وي؟ په نورو پوري به څنګه چاري او امور تړل شوي وي؟!!

قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ *

الاعراف:۱۸۸

ووايه: نه د ځان لپاره د ګټي (رسولو) واك لرم او نه د ضرر او تاوان (دفع کولو)، مګر هغه څه چي الله ئې وغواړي او که په غيب پوهېدی نو ډېر خير او ښېګڼه به مي ترلاسه کړې وه او تاوان به نه رارسېدو، زه خو مؤمنانو ته د يوه خبرداری ورکوونکي او زېري ورکونکي نه پرته بل څه نه يم.

په دې مبارك آيت سره پيغمبر عليه الصلاة و السلام د څو نورو خبرو په اعلان مأمور شوی:

- خلکو ته دا خبره په واضح الفاظو اعلان کړه چي زه نه د ځان لپاره د ګټي رسولو څه واك لرم او نه د ضرر او تاوان دفع کولو، د دې واك په بشپړه توګه له الله تعالى سره دئ، که ځان ته کومه ګټه رسولی شم يا کوم ضرر دفعه کولی شم نو دا همغه دي چي الله تعالى غوښتي، د دې پرېکړه هم د الله تعالى له لوري کېږي.

- زه له غيبه خبر نه يم، كه په غيب پوهېدی نو تل او په هر كار كې به مي خير او ښېګڼه په برخه كېده او هيڅكله به كوم تاوان نه رارسېدو. څوك چي په غيب پوهېږي په هر كار كې به ګټه كوي او د تاوان له هر مورد نه به خوندي پاته كېږي، دا ځكه چي هغه پوهېږي څه ورته ګټه لري او څه ورته تاوان، د ګټي ځای ته ځان رسوي او د تاوان له ځايه ځان ساتي، خو تاسو وينئ چي زه د نورو انسانانو په څېر له كړاوونو، ستونزو، بيماريو او ناخوالو سره مخ كېږم، دا ښيي چي زه له غيبه خبر نه يم. ګورئ چي پيغمبر عليه الصلاة و السلام نه يوازي دا خبره اعلانوي چي په غيب نه پوهېږي بلكي دلايل ئې هم وړاندي كوي.
- زه فقط د الله تعالی له لوري يو استازی يم چي مأموريت مي نېكانو ته زېری او بدانو ته خبرداری وركول دي.

قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا * الجن: ٢١

وواېه: زه تاسو ته نه د كومي ګټي واكمن يم او نه د كوم هدايت او رشد.

قُلْ لَا أَقُولُ لَكُمْ عِنْدِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ *

الانعام:٥٠

وواېه: زه نه درته وايم چي د الله خزانې له ما سره دي او نه په غيب پوهېږم او نه دا درته وايم چي زه فرشته يم، زه يوازي د هغه څه متابعت كوم چي راته وحي كېږي. وواېه: آيا ړوند او سترګور سره برابر دي؟ آيا تفكر نه كوئ؟

په دې مبارك آيت سره پيغمبر عليه السلام ته څو لارښووني کېږي:

- خلکو ته ووايه: د الله تعالی د خزانو واك له ما سره نه دئ، تاسو ته نه وايم چي که له ما سره ملگرتيا وکړئ، ټول حاجتونه مو پوره کوم او ټولي غوښتني مو ترسره کوم، په دې هيله زما ملگرتيا مه کوئ، له ما نه دا انتظار مه لرئ، الله تعالی د خپلو خزانو ټولواك دئ، دا پرېکړه هغه کوي چي چا ته څه ورکړي، د هغو جاهلانو په څېر مه کېږئ چي گمان کوي پيغمبران او اولياء الله بايد داسي وي چي د دوی په يوې اشارې سره د ډېرو غرونه په سرو زرو بدلېدی شي، په يوې دعاء سره ئې د زمکي لاندي خزاني بهر راوځي، هر چا ته هر څه ورکولی شي، حاجتونه ئې پوره کولی شي، گورئ چي پيغمبران عليهم السلام په هغو ټگمارو سياسي مشرانو قياس نه کړئ چي د خلکو د غولولو لپاره دروغجني وعدې کوي، شنه او زرغونه باغونه ورښيي، د سوکالي او ښه ژوند دروغجني ژمني ورسره کوي، زه په واضح الفاظو تاسو ته وايم چي د الله تعالی په خزانو کي هيڅ واك او اختيار نه لرم.
- دوی ته ووايه: زه په غيب نه پوهېږم، له ما نه دا انتظار مه لرئ چي درته ووايم: سبا به څه کېږي، له ما او له تاسو سره به الله تعالی څه کوي، پيغمبران عليهم السلام د هغو دوکه مارو مذهبي مشرانو په څېر مه گڼئ چي خلك په دې غولوي چي په غيب پوه دي، د دوی له مقدراتو خبر دي، پوهېږي چي کوم مصيبت ورته انتظار کوي او څنگه ترې ژغورل کېږي، دوی کولی شي په دم او تعويذ سره د دې مصيبتونو مخه ونيسي، په دې

شرط چي په شکرانو سره د دوی جیب ورډك او رضا ترلاسه کړي، پیغمبران په غیب د پوهېدو دعوی نه کوي، دا یوازي ټګماران دي چي د جاهلانو په وړاندي په غیب د پوهېدو ادعاء کوي.

- ورته ووایه: زه تاسو ته نه وایم چي فرشته یم، په واضح الفاظو درته وایم چي زه انسان یم، له نورو انسانانو سره مي توپیر یوازي په دې کې دئ چي د الله تعالی له لوري راته وحي شوې او زه د الهي وحي متابعت کوم.
- څوك چي د الهي وحي په رڼا کې خوځي، د هغه چا په پرتله چي له دې رڼا محروم دئ، داسي دئ لکه سترګه ور د ړوند په پرتله، د عقل او فکر خاوندان د دوی تر منځ دا ژور توپیر درك کولی شي.

دې ته مو باید پام وي چي په وحي سره له غیبي امورو نه اطلاع علم غیب نه دئ، په یوه آیت کې او یو په بل پسي "په غیب نه پوهېدل" او "د وحي متابعت" راوړل دا مطلب افاده کوي چي که پیغمبر علیه السلام د وحي په اساس له غیب او غیبي امورو نه خبری کوي نو دا د ده علم غیب نه، بلکي د الله له لوري وحي ده، داسي نه چي د وحي له لاري د غیبي امورو په اړه څه ویل، د پیغمبر علم غیب وګڼل شي. او دې ته مو هم باید پام وي چي پیغمبر علیه السلام ته د وحي له لاري چي کوم غیبي امور ښودل شوي هغه ټول په قرآن کې بیان شوي او پیغمبر علیه السلام په بشپړه توګه او په واضحو الفاظو او امانت سره امت ته بیان کړي، هیڅ څه ئې له ځان سره پټ نه دي ساتلي.

وَلَا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ إِنِّي مَلَكٌ وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَن يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا

لَمِنَ الظَّالِمِينَ * هود:۳۱

او نه دا درته وايم چي د الله خزانې راسره دي، او نه په غيب پوهېږم، او نه د هغو خلکو په اړه چي تاسو په سپکه سترگه ورته گورئ دا وايم چي الله به هيڅ خير ورپه برخه نه کړي، الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چي د دوی په سينو کي دي، (که دا خبري وکړم نو) په دې صورت کي به زه له ظالمانو څخه وم.

آيا د يوه مؤمن انسان لپاره دغه صريح او واضح آيتونه کافي نه دي چي هر هغه قول په دېوال ووهي چي پيغمبر عليه السلام يا بل انسان ته د علم غيب يا د الهي خزانو د تصرف ادعاء کوي؟!!

راشه لږ په دې باندي نسبتاً تفصيلي خبره وکړو چي د قرآن له نظره (غيب) څه دئ او (شهادة) څه؟ قرآنکريم موجودات په دوو برخو وېشلي: مشهود (ښکاره)؛ هغه څه چي لمس او ليدی شي.

غيب (له نظر نه پټ)، هغه څه چي نه ليدی شي او نه لمس کېدی شي. هر هغه څه چي انسان ئې نشي ليدی او په حواسو ئې نشي درك کولی، هغه د غيب په شمار کي راځي.

قرآنکريم علم غيب يعني د پټو شيانو علم په الله تعالی پوري خاص شمېري او په ډېر تأکيد سره فرمايي چي له الله تعالی پرته بل هيڅوك علم غيب نه لري. لاندنيو آيتونو ته توجه وکړئ:

قُلْ لَا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ * النمل:٦٥

ووايه: په غيب له الله تعالی پرته د آسمانونو او زمکي هيڅ څه نه پوهېږي او پدې هم نه پوهېږي چي څه وخت به بيا راژوندي کړی شي.

عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * الجن:٢٦

په غيب پوه خدای چي هيڅوك په خپل غيب نه خبروي.

.... وَيَقُولُونَ لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَقُلْ إِنَّمَا الْغَيْبُ لِلَّهِ فَانْتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُمْ مِنَ الْمُنْتَظِرِينَ * يونس:٢٠

نو ووايه: غيب خو يوازي الله لره دئ، نو انتظار وکړئ چي زه هم ستاسو په څنگ کي له منتظرينو څخه يم.

وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ * الانعام:٥٩

او له ده سره د غيب (د خزانو) کلياني دي چي له ده نه پرته هيڅوك ورباندي نه پوهېږي، په وچه او بحر کي چي څه شته په ټولو پوهېږي، هيڅ پاڼه نه راپرېوځي مگر دی ورباندي پوهېږي او نه د زمکي په تيارو کي کومه دانه او نه کوم لوند او وچ داسي څه شته چي په څرگند کتاب کي دي نه وي.

دې آيتونو علم غيب په پوره تأکيد سره په الله تعالی پوري مختص کړی او د زمکي او آسمان له نورو ټولو موجوداتو نه ئې نفی کړی، له ملايکو نه، له انسانانو، مړو او ژونديو نه او له هرڅه او هرچا نه ئې علم غيب نفی کړی، په دې اړه د دې آيتونو الفاظ دومره واضح او څرگند دي چي د هيڅ

شك او شبهې مجال نه پرېږدي. د دې آيتونو په رڼا کې په پوره ډاډ او قاطعيت سره ويلی شو: هرڅوک چې له الله تعالی نه پرته د بل چا لپاره د علم غيب ادعاء وکړه او دا ئې وويل چې له الله پرته بل څوک هم علم غيب درلودی شي، هغه په حقيقت کې د الله تعالی کتاب تکذيب کړی.

قرآنکريم په پوره تأکيد سره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته فرمايي چې خلکو ته په څرګندو ټکيو کې ووايه چې ته علم غيب نه لرې، يوازې زېری ورکوونکی او وېروونکی يې، د الهي وحی امين او د الهي پيغام داسې وړونکی چې بېله کمښت او زيادت نه ئې خلکو ته رسوې، قرآنکريم دا هم بيانوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خلکو ته اعلان کړی چې که هغه له جنت، دوزخ، ملائکو، جنياتو، قيامت او نورو پټو امورو څخه خبري کوي او پدې اړه معلومات ورکوي، نو تاسې دا ګمان ونکړئ چې هغه علم غيب لري، څه چې وايي هغه وحي ده نه د ده شخصي علم او پوهه.
قرآنکريم په دې اړه فرمايي :

قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ *

**الاعراف:۱۸۸**

ووايه : د خپل ځان لپاره د ګټې او زيان مالك نه يم، مګر هغه څه چې خدای ئې وغواړي، که په غيب پوهېدلی نو د ځان لپاره به مې ډېره ګټه ترلاسه کوله او هيڅ تاوان به نه رارسېدو، زه د مؤمنانو ډلې ته د يوه انذار کوونکی او زېری ورکوونکی نه پرته بل څه نه يم.

دا آیت شریف مونږ ته په ډېره دقیقه توګه لارښوونه کوي او يو حساس او دقيق معيار په اختيار کې راکوي او وايي: علم غيب د ګټې د ټولو مواردو د لاس ته راوړو او د تاوان له ټولو مواردو نه د ځان ژغورنې وسيله ده، څوك چې علم غيب ولري هغه ته له هيڅ پېښې تاوان نه رسېږي، له هيڅ څه نه صدمه نه ګوري، د هيڅ دښمن په وړاندې ماتې نه خوري، په خپل ژوندکې له هيڅ خنډ او مانع سره نه مخ کېږي، په هرعمل کې بريالی وي، ځکه پوهېږي چې د ضرر او زيان موارد کوم دي، له هغو نه ځان ساتي، په دې پوهېږي چې د ګټې او منفعت عوامل او موارد کوم دي، ټول خپلوي او کار ترې اخلي، له هغه خوړو نه ډده کوي چې صحت ته ئې ضررلري، د خپل هر درد دوا پېژني، نو پدې اساس نه ناروغه کېږي، نه ئې دښمن دا فرصت مونډلی شي چې پر ده غالب شي، ځکه هغه ته د غلبې عوامل او لاري چاري معلومې وي او ټول د ځان په ګټه په کار اچوي، دښمن نشي کولی هغه زنداني کړي، له وطن نه ئې وشړي، وئې وژني، د خلکو له ملاتړ نه ئې محروم او کمزوری کړي، دا ځکه چې هغه مخکې له مخکې د دښمن له تصميم نه خبرېږي او لازم تدابير نيسي، په جګړه کې بری د هغه چا وي چې د مقابل لوري له نقشې، اهدافو، وسايلو او تاکتيك نه خبر وي، د کمزورۍ نقطې ئې ورته معلومې وي. رنځ هم د رنځ له عواملو نه د ناخبرۍ له امله پيدا کېږي، زيان او ضرر هم هغه وخت چا ته رسېږي چې د زيان عوامل او اسباب ونه پېژني. که پيغمبرانو عليهم السلام او نورو لويو شخصيتونو علم غيب درلودی نو زندان ته به نه اچول کېدل، په شهادت به نه رسېدل، ماتې به ئې نه خوړله، له وطن نه به نه شړل کېدل، ملګري به

ئې د دښمن په لاس نه وژل کېدل او نه به تعذيبېدل، له مشکلاتو او کړاوونو سره د هغوی مخامخ کېدل پدې دلا لت کوي چې هغوی علم غيب نه لري. قرآنکريم د الله رسول صلی الله عليه وسلم ته امر کوي چې خلکو ته ووايي چې علم غيب نه لري.

ما ته وواياست: پداسي حال کې چې په هر څه پوه خدای چې عالم الغيب والشهاده دئ، په تأکيد او مکرره توګه د قرآنکريم په متعددو آيتونو کې په څرګنده توګه وايي چې له الله نه پرته هيڅوك علم غيب نه لري، له ده نه پرته نه په آسمان کې څوك علم غيب لري او نه په زمکه کې، الله خپل پيغمبر ته امر کوي چې د خلکو ابهام او تشويش رفع کړي او دا ورته اعلان کړي چې علم غيب نه لري، هغه يوازې پيغمبر دئ، هغه څه وايي چې ورته وحي شوي. اوس لدې صراحت سره سره که څوك راشي او د الله او رسول صلی الله عليه وسلم د قول مغايره او مخالفه ادعاء وکړي او ووايي چې علم غيب لري او يا دا هڅه وکړي چې د بل چا لپاره علم غيب ثابت کړي، آيا دا ادعاء دروغجنه او بې بنسټه نه ده؟ آيا دا د الله او د ده د رسول د قول د تکذيب هڅه نده؟

په قرآنکريم کې دوه آيتونه داسي دي چې يو شمېر کسان استدلال ورباندې کوي او له الله تعالی نه پرته د نورو لپاره ئې د علم غيب د اثبات د دليل په توګه وړاندې کوي، لومړی ئې د آل عمران ۱۷۹ آيت او دوهم ئې د الجن د سورې ۲۶ آيت دئ. نوموړې آيتونه دا دي :

مَا كَانَ اللّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ * آل عمران:۱۷۹

الله تعالی داسي نه دئ چي مؤمنان به د پاك او ناپاك له بېلولو نه پرته همداسي ستاسو په موجوده حالت کي پرېږدي او الله داسي هم نه دئ چي تاسی له غیب نه خبر کړي، لیکن خدای له پیغمبرانو نه چي څوك وغواړي هغه غوره کوي، نو په خدای او په پیغمبرانو ئې ایمان راوړئ، که مو ایمان راوړ او تقوی مو غوره کړه نو ستاسي لپاره ستر اجر دئ.

عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * إِلَّا مَنِ ارْتَضَى مِنْ رَسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا * لِيَعْلَمَ أَنْ قَدْ أَبْلَغُوا رِسَالَاتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا * الجن: ۲۶-۲۸

په غیب پوه خدای، چي له خپل غیب نه هیڅوك نه خبروي، مګر هغه رسول او استازی چي په خپله ئې غوره کړی وي چي د هغه مخي او شاته څارونکي لېږي، ترڅو پدې پوه شي چي د خپل رب پیغامونه ئې رسولي دي، پداسي حال کي چي د دوی په هر څه ئې احاطه کړي ده او هرڅه ئې په دقیق شمېرلو سره شمېرلي.

پدې مبارکو آیتونو د غیرالله لپاره د علم غیب د اثبات په خاطر استدلال ډېر بې بنسټه، بې محتوی او غیرعلمي استدلال دئ، څوك چي ګمان کوی په دې آیتونو کي پیغمبران له عدم علم غیب نه مستثنی شوي سخته اشتباه کوي، د دې باطلي مدعا لپاره پدې آیتونو استدلال لویه غلطي ده، دوی په حقیقت کي نه پدې آیتونوکي دقت کړی او نه ئې له دې نه

مخکې او وروسته آيتونو ته توجه کړيده او نه ئې د قرآنکريم هغه ټول آيتونه په نظرکې نيولې چې په پوره صراحت او قاطعيت سره علم غيب تر الله پورې محدود او مختص بولي او له الله تعالی نه پرته له هر څه نه که په زمکه کې دي که په آسمانونو کې علم غيب نفی کوي. د دې ډلې استناد هغه کسانو ته ورته دئ چې په قرآنکريم کې د خپلې نظريې د اثبات لپا ره دلايل لټوي، خو کله چې د خپل قول د ثبوت لپاره صريح او څرګند دليل ونه مومي نو بيا کوشش کوي په قرآنکريم کې داسې الفاظ او کلمات ومومي چې لده سره د مدعا په اثبات کې مرسته کولی شي، دوی د دې پرځای چې خپل افکار له قرآن نه واخلي او قرآنکريم د خپلو افکارو لپاره محك او معيار وټاکي برعکس هڅه کوي خپل افکار پرقرآنکريم تحميل کړي، دوی د خپلو نظرياتو د اثبات لپاره آيتونه توجيه او تأويلوي!! پر قرآنکريم د ايمان غوښتنه خو دا ده چې د هر آيت په وړاندې (آمنا و اسلمنا) ووايو، په پوره خلوص ورته تابع شو، هر هغه فکر او ذهنيت لري واچوو چې له قرآن سره توپير او مغايرت لري او خپل افکار د قرآن په رڼا کې تصحيح او سم کړو، نه داسې چې قرآنکريم د خپلو نظرياتو او افکارو په ګټه تأويل کړو.

هغه کسان چې ګمان کوي د جن د سورې په ۲۷ آيت کې استثناء د الله تعالی د غوره شوو پيغمبرانو عليهم السلام لپاره علم غيب ثابتوي، دا کسان د څو لويو اشتباهاتو مرتکب شوي:

- دوی له دې آيت نه مخکې ۲۵ او۲٦ آيتونو ته توجه نده کړې، هغه

چي فرمايي :

قُلْ إِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ مَا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُ رَبِّي أَمَدًا * عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * الجن: ٢٥- ٢٦

ووايه: نه پوهېږم آيا هغه څه چي له تاسو سره ئې وعده شوي ده، نږدې ده او که رب مي کومه نېټه ورته ټاکلی ده، هغه رب مي چي په غيب پوه دئ او هيڅوك په خپل غيب نه خبروي.

پدې آيتونوکي رسول صلى الله عليه وسلم ته امرکېږي چي ووايي: زه علم غيب نه لرم، نه پوهېږم چي ستاسي په اړه الهي وعده کله سرته رسېږي، يوازي زما رب په غيب عالم دئ او هيچا ته په غيب د پوهېدو مجال نه ورکوي.

دوی دې ته ندي متوجه چي پدې آيت کي استثناء پيغمبرانو عليهم السلام ته نه بلکه د وحی راوړونکي فرشتې ته متوجه ده، په ٢٧ آيت کي له رسول نه مراد د وحی راوړونکې فرشته ده چي مخکي او وروسته ئې نوري ساتونکې فرشتې هم لېږل کېږي، ترڅو د وحي پيغام په پوره توگه له کمښت او زيادت او ځنډ او تأخير نه پرته خپل ځای او اړوند مرجع ته ورسوي. دوی دې ته متوجه ندي چي دا مبارکه سوره له پيل نه تر پايه پوري په دې تأکيد کوي چي له الله تعالی پرته بل څوك علم غيب نه لري.

دوی پدې نه پوهېږي چي علم غيب او د وحي پذريعه د غيب په اړه اطلاع او معلومات يو له بل سره توپير لري، د غيب په اړه يوازي د وحي پواسطه اطلاع موندلی شو او د وحي پذريعه له غيب نه اطلاع او خبرېدل

علم غیب ندی!! خدای په زمکه او آسمان کې هیچا ته علم غیب ندی ورکړی، خو پیغمبران علیهم السلام ئې د وحي پذريعه له یو شمېر غیبي امورو نه خبر کړي او الله تعالی په خپلو کتابونو کې داسي غیبي امور بیان کړي دي چي انسان ئې په مستقیمه توګه له ادراك نه عاجز دئ. الهي کتابونو ته له مراجعي نه وروسته هرڅوك له ډېرو غیبی امورو نه خبرېدلی شي، جنت، دوزخ، فرشتې، پیریان، روح، برزخ، قیامت او داسي نور ټول غیبي امور دي چي مونږ د قرآنکریم له لاري پدې شیانو خبر شوي یو. متأسفانه دا ډله پدې غلطۍ کې لوېدلي چي د وحي په ذریعه له غیب نه اطلاع ته علم غیب وايي او له غیبي امورو نه اخبار او اطلاع له علم غیب سره خلط کوي.

همداراز هغه کسان چي د آل عمران د سورې د۱۷۹ آیت د ې برخي "وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ" په اړه دا تصور لري چي دلته ځیني پیغمبران له عدم علم غیب نه مستثنی شوي، پدې استثناء استدلال کوي او پیغمبرانو علیهم السلام ته د علم غیب ثابتولو هڅه کوي، پدې کار سره دوی د څو اشتباهاتو مرتکب شوي: د دې آیت د بحث اصلي موضوع ته ئې پام ندی کړی، د آیت له وروستۍ برخي نه داسي انتباه اخلي چي د همدې آیت له لومړنۍ برخي سره هیڅ اړخ نه لګوي، د آیت پیل داسي دئ:

مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ حَتَّى يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ: الله تعالی داسي نه دئ چي مؤمنان به ستاسو پدې موجوده حالت کې

پرېږدي، تر څو ناپاك له پاك بېل كړي.

يعني د خداى سنت دا نه دئ چي مؤمنان د ښه او بد، پاك او ناپاك ترمنځ له توپير، تمييز او بېلتون نه پرته همداسي ګډ او مختلط پرېږدي. حتماً به داسي حالت راولي چي دا دواړه ډلي سره بېلي شي، بيا فرمايي:

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ (١٧٩) وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ: او خداى داسي نه دئ چي تاسي پرغيب خبر كړي.

يعني د ښه او بد، پاك او ناپاك ترمنځ د تفكيك او بېلتون طريقه دا نده چي تاسي له غيب نه خبركړي او د علم غيب له لاري پدې پوه شئ او دا درك كړئ چي څوك خبيث او څوك طيب دئ. پدې پسې متصل فرمايي:

... وَلَكِنَّ اللَّهَ يَجْتَبِي مِنْ رُسُلِهِ مَنْ يَشَاءُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَإِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ *

خو الله تعالى له خپلو پيغمبرانو نه چي څوك وغواړي هغه غوره كوي، نو په خداى او پيغمبرانو ئې ايمان راوړئ، كه ايمان مو راوړ او تقوى مو وكړه نو ستاسي لپاره لوى اجر دئ.

يعني د پاك او ناپاك، خالص او ناخالص، مخلص او نامخلص ترمنځ تفكيك او بېلتون د پيغمبرانو د غوره كولو او خلكو ته د هغوى د لېږلو له لاري ترسره كېږي،د پيغمبرانو عليهم السلام په بعثت سره خلك په دوو ډلو

وبښل کېږي او پاك له ناپاك نه بېلېږي. پر خدای او رسولانو باندي په ایمان، د هغوی په اطاعت او په تقوی سره د پاکانو په ډله کي شاملېږئ او لوی اجر مو په برخه کېږي.

پدې آیت کي به یوازي هغه چا ته څه ابهام او اغماض ښکاري چي د رنځور زړه خاوند وي او هغه ته له کږې زاویي ګوري. عجیبه ده دا کسان د دې پرځای چي دا آیت د خپلو کږو او باطلو افکارو د تصحیح او سمون لپاره خپل لارښود ونیسي او ووایي چي خدای هیچا ته علم غیب نه دی ورکړی، برعکس تصور کوي چي پدې آیت کي د یو شمېر پیغمبرانو علیهم السلام لپاره د علم غیب د اثبات دلیل ترسترګو کېږي !!

دوی متوجه ندي چي پدې ډول تعبیر سره هر مخاطب ته دا انتباه ورکوي چي ګویا په قرآنکریم کي تناقض شته، ځیني آیتونه ئې په صراحت او قاطعیت سره اعلانوي چي له الله تعالی پرته هیڅوك علم غیب نه لري؛ خو په ځینو نورو آیتونو کي داسي نښاني لیدل کېږي چي مخاطب ته دا انتباه القاء کوي چي له الله تعالی نه علاوه نور هم علم غیب لرلی شي!! حقیقت دا دئ چي الهی کلام لدې عیب نه پاك او منزه دئ، نه یوازي هیڅ تناقض پکي نشته بلکه آیتونه ئې ټول په خپل منځ کي یو د بل موئید، همغږي او یو د بل شرح او تفسیر. هرڅوك چي له کوم آیت نه داسي تعبیر او انتباه واخلي چي له بل آیت سره تناقض او ټکر ولري هغه غلط شوی دئ او په قرآنکریم کي ئې د تناقض پیدا کولو غلطي کړي ده.

قرآنکریم د متعددو کیسو له لاري هم دا حقیقت په ګوته کوي چي

پيغمبران عليهم السلام علم غيب نه لري:

- د ابراهيم عليه السلام په اړه فرمايي: يوه ډله فرشتې د ښايسته ځوانانو په شکل کې د هغه کور ته راځي، هغه هرکلی ورته وايي، ځی يو خوسی ورته حلالوي، په غوړيو کې ئې وريتوي او د دوی مخې ته ئې ږدي، ناڅاپه متوجه کېږي چې مېلمانه ئې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، د وېرې احساس کوي، وايي هسې نه چې مېلمانه ئې د دښمنۍ قصد ونلري، ځکه خو ډوډۍ نه خوري، هغه وخت معمول دا وو چې څوك به د دښمنۍ په نيت د چا کور ته ورغی نو د هغه پر دسترخان به ئې ډوډۍ نه خوړله. فرشتو چې هغه پريشانه وليد نو ورته وئې ويل: مونږ ستا د رب له لوري رالېږل شوي يو، ترڅو د اسحاق او ورپسې د يعقوب زېری درکړو، ابراهيم عليه السلام تعجب کوي او مېرمن ئې په حيرانتيا سره پوښتنه کوي چې دا څنګه کېدی شي چې مونږ د اولاد خاوند شو، پداسې حال کې چې زه بوډۍ يم او خاوند مې بوډا؟ ملايکو ورته وويل: آيا د الله تعالی کار ته حيران يئ او شك کوئ؟! ابراهيم عليه السلام له خپل هغه اوچت معنوي مقام سره سره لدې نه عاجز وو چې کورته راغلې فرشتې وپېژني او له دې نه هم خبر ندی چې الله تعالی ورته زامن، اسحاق او يعقوب ورکوي او پدې هم نه پوهېږي چې دا فرشتې په زمکه کې څه مأموريت لري، پوښتنه ترې کوي: ستاسې مأموريت څه دئ؟ فرشتې ورته وايي: مونږ راغلي يو دا لاندې کلی چې اوسېدونکي ئې ظالمان دي په بل مخ واړوو. ابراهيم عليه السلام ورته وايي: هلته خو لوط عليه السلام هم اوسېږي!! هغه کلی څنګه ورانوئ چې د لوط عليه السلام غوندې غوره شخصيت پکې اوسېږي؟ فرشتې وايي: مونږ

د کلي اوسېدونکي پېږنو، لوط علیه السلام او اهل ته ئې نجات ورکوو، پرته له مېرمنې ئې، مېرمن به ئې له نورو سره وروسته پاتې کېږي او له هغوی سره به یوځای هلاکېږي.

- قرآنکریم د یعقوب علیه السلام په اړه فرمایي: زامنو ئې اراده وکړه چې خپل ورور یوسف علیه السلام له مخې نه ایسته کړي او په څاه کې ئې واچوي. خپل پلار ته راغلل او وئې ویل: پلاره! د یوسف په اړه ولې پرمونږ باور نه کوې؟ پداسې حال کې چې مونږ د هغه خیر غواړو، سبا هغه له مونږ سره دښتې ته ولېږه ترڅو ساعت تېري او لوبې وکړي، یعقوب علیه السلام نه پوهېږي چې زامن ئې د یوسف علیه السلام په اړه بدنیت لري، هغه ورسره لېږي، ماښام چې بېرته کور ته راګرځي، پلار ته وایي: مونږ مسابقه درلوده، سیالي مو کوله، یوسف مو د خپل سامان خوا ته پرېښی وو، لیوه راغی او هغه ئې وخوړ، دا ئې په وینو رنګ جامې، یعقوب علیه السلام لدې نه خبر نه وو او علم ئې نه درلود چې په ګران زوی ئې څه تېر شوي، له ډېره غمه ئې سترګې ړندې شوې او ترهغه د یوسف علیه السلام له حاله خبر نه شو چې زامنو ئې له مصر نه د ده خبر راوړ.
- له لوط علیه السلام نه حکایت کوي چې همدغه د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغلې فرشتې په اصل کې د ده د دعاء په اساس او د ده د مرستې لپاره لېږل شوې وې، خو کله چې د ده خوا ته راځي؛ دی نه پوهېږي چې دا ملایکي دي او د ده مرستې ته راغلې دي، برعکس د دوی په راتګ سره سخت غمجن شو، دومره چې زړه ئې تنګ شو او وئې ویل:

ای کاش کوم پیاوړی ملاتړ او مرستندوی مي درلودای چي د دې مفسد او بدکار قوم د هجوم په وړاندي مي له خپلو مېلمنو دفاع کړې وی!! لوط علیه السلام هغه وخت پدې پوه شو چي دا خو ملائکي دي نه زلمیان چي فرشتو په خپله ځان ورمعرفي کړ او ورته وئي ویل مونږ فرشتي یو، ستا مرستي ته راغلي یو او مأموریت مو د دې ظالم قوم دا کلی نسکورول دئ.

- د زکریا علیه السلام قصه داسي کوي چي الله تعالی ئې دعاء قبوله کړه، یوه فرشته ئې د زوی د زېږي لپاره ورولېږله، زکریا علیه السلام لمونځ کاوو چي فرشتي زېری ورکړ، ده په ځواب کي ورته وویل: اې خدایه! ما ته به څنګه زوی راکوې، زه خو زوړ یم او مېرمن مي شنډه ده؟! د دې نښه به څه وي؟ ورته وویل شول: نښه ئې دا ده چي د زوی د تولد په ورځو کي به درې ورځي خبري ونشي کړی.

- قرآنکریم د اسلام د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خوب قصه کوي، خوب ئې ولید چي مسجدحرام ته داخل شوی او عمره ادا کوي، د همدې خوب په اساس له یو زر څلور سوه کسانو سره د مکي په لور روان شو، حدیبیه ته چي ورسېد له خنډ سره مخ شو، قریشو ئې مخه ونیوله، مکي ته د ده او د یارانو له ننوتو او د مناسکو ترسره کولو نه ئې مخنیوی وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ناچار ودرېد، له عمرې نه منصرف شو، هملته ئې د قربانۍ څاروي ذبح کړل او ټول له احرام نه ووتل او له قریشو سره د یوه تړون په اساس بېرته مدیني ته ستون شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خوب یو کال وروسته تحقق وموند، دا جریان

پدې دلالت کوي چي نه رسول الله صلی الله علیه وسلم علم غیب درلود او نه ئې یارانو رضي الله عنهم، ان تردې چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل خوب د تحقق له وخت نه هم خبر نه وو.

قرآن فرمايي چي پيغمبر علیه السلام حتی له دې خبر نشو چي یوه ډله پیریان د ده خوا ته راغلل، د ده تلاوت ئې واورېد، په قرآن ئې ایمان راوړ، خپل قوم ته ولاړل او هغوی ته ئې وویل چي مونږ عجیب قرآن واورېدو، هغوی ئې د الله عبادت ته راوبلل، که له الله تعالی نه پرته بل چا علم غیب درلودای نو رسول الله صلی الله علیه وسلم باید پدې پوه شوی وی چي پیریانو د ده تلاوت واورېد، ترې متأثره شول، ایمان ئې ورباندي راوړ، باید هغه پدې خبر شوی وی، خو داسي نه وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم لدې جریان نه څه موده وروسته د وحي په واسطه خبرېږي او مونږ هم لدې حادثې نه د وحي په واسطه خبر شوي یو، دا پېښه داسي وه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د طائف له سفر نه ډېر غمجن او نااميده راستون شو، مکې ته نږدې وادي نخله ته چي راورسېد هلته ئې د قرآنکریم تلاوت کاوو، دا تلاوت پیریانو واورید، ترې متأثره شول، په محمد صلی الله علیه وسلم او قرآنکریم ئې ایمان راوړ، رسول صلی الله علیه وسلم دغه وخت پدې نه وو خبر چي پیریانو د ده تلاوت اورېدلی او ایمان ئې ورباندي راوړی، څه موده وروسته د الجن سوره نازله شوه او دی ئې له دې پېښي خبر کړ. هغه علم چي د وحی په واسطه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړل شویدی اوس د قرآنکریم په متن کې زمونږ ټولو په اختیار کې دئ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ډول علم ته باید علم غیب ونه ویل

شي.

ځيني بيا هغه دي چي د سليمان عليه السلام د هغه درباري كار د خپلي ادعاء د اثبات لپاره د دليل په توګه وړاندي كوي چي تر (عفريت من الجن: ستر او پياوړي) نه ئې مخكې د سبا د ملكې تخت سليمان عليه السلام ته حاضر كړ. د دوی په ځواب كې څو عرايض لرو:

په دې قصې كې ستاسو د ادعاء او تصور خلاف داسي قاطع دلايل شته چي له الله تعالی نه پرته له بل هرچا نه علم غيب نفی كوي. په همدې قصه كې دا په ډاګه شوې چي سليمان عليه السلام او د ده درباريان پدې نه پوهېدل چي د سبا په نوم داسي ملك شته او يوه ښځه ورباندي حكومت كوي، اوسېدونكي ئې مشركان دي او لمر ته سجده كوي او ملكه ئې لوی تخت لري، دا معلومات يو مرغه (هدهد) وركوي، سليمان عليه السلام او د ده درباريان له دې موضوع خبر نه ول، هدهد خبر كړل.

كه سليمان عليه السلام علم غيب نه لري نو څنګه امكان لري چي د ده يو امتي دي علم غيب ولري؟!

ولي د قصې له يوی برخي داسي تعبير او انتباه اخلئ چي سل په سلو كې له نورو برخو سره تناقض لري او د قرآن په نورو صريح او واضح آيتونو كې راغلي مطلب سره تعارض لري، د قرآن په لسهاوو آيتونه خو وايي چي له الله تعالی پرته هيڅوك علم غيب نه لري، تاسو ولي په خپل غلط تعبير سره له الله تعالی پرته بل چا ته علم غيب منسوبوئ؟!! او ولي په داسي غلط تعبير سره خلكو ته دا انتباه وركوئ چي په قرآن كې تناقضات شته؟!!

راشئ د اړوند آیتونو په الفاظو کې لږ غور وکړو، آیتونه داسي دي:

قَالَ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَنْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ * قَالَ عِفْرِيتٌ مِنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ تَقُومَ مِنْ مَقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ * قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي لِيَبْلُوَنِي أَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ وَمَنْ شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ * النمل: ۳۸-۴۰

وئې ویل: اې درباریانو! ستاسو کوم یو به د هغې تخت تر هغه مخکې راوړي چې دوی تسلیم شوي راشي؟ یوه پیاوړي پېري وویل: زه به ئې مخکې تر هغه راوړم چې ته له خپله ځایه پورته شې، هغه چا چې د کتاب څه علم ورسره وو وویل: زه به ئې تر هغه مخکې راوړم چې د سترګې آخري لید دې درته راشي، نو کله چې ئې هغه په خپلې خوا کې ځای په ځای ولید؛ وئې ویل: دا زما د رب له لوري یوه پېرزوینه ده چې ومې آزمويي، آیا شکر کوم که ناسپاسي کوم، او څوک چې شکر کوي د ځان لپاره ئې کوي او څوک چې ناشکري کوي نو زما رب عزتمن غني (بې نیازه) دئ.

که څه هم اکثرو مفسرینو د ۳۹ آیت دغه الفاظ (قال الذي عنده علم من الکتاب) په اړه ویلي چې له دې نه مراد کوم سړی وو، نه کوم بل پېری، خو که د آیت په سیاق و سباق کې لږ غور وکړو په ډېر ډاډ سره ویلی شو چې دا هم سړی نه بلکې پېری وو، تر دې مخکې ویل شوي: قال عفریت من الجن او ورپسې ویل شوي: قال الذي عنده علم من الکتاب، یعني دا هم پېری وو خو له مخکني سره ئې فرق په دې کې وو چې ده څه ناڅه د

الهي کتاب علم هم درلود. که دا خبره کوم انسان کړې وی نو بیا خو مناسبه دا وه چي ویل شوي وی: و قال رجل عنده علم من الکتاب، داسی تعبیر نه یوازي د آیت له ترکیب سره بشپړ مناسبت لري بلکي د قرآن له عام اسلوب سره اړخ لګوي او دې اشکال ته مجال نه پرېږدي چي یو انسان څنګه وتوانېدو د سترګو په رپ کي له یمن څخه د ملکې تخت راحاضر کړي؟ سلیمان علیه السلام پیغمبر وو دا کار ئې نشو کولی نو د ده یوه امتي دا کار څنګه وکړ؟

د دې کس په اړه د مفسرینو تر منځ د آراوو ډېر اختلاف ګورو، ځینو ویلي چي دا کس مستجاب الدعوات وو، ځینو نورو ویلي چي د الله تعالی په هغه اسم اعظم پوهېدو چي هر څوك پرې دعاء وکړي الله تعالی ئې دعاء قبلوي، د هغه په دعاء سره دا تخت حاضر کړی شوی، له مفسرینو څخه هیچا دا نه دي ویلي چي دا کس (عالم الغیب) یا (متصرف الامور) وو، ځکه په قرآن پوه انسان داسي غلطه ادعاء نشي کولی. خو دقیقه رأیه دا ده چي دا هم پېری وو، دا ځکه چي په (الذي) سره مخکني نوم ته اشاره کېږي، دلته تر (الذي) مخکي د (جن) یادونه شوې، دا صحیح نه ده چي له جن نه پرته بل څه ته ئې راجع کړو.

## د الله تعالی عطاء څنګه ده؟:

ستا دا خبره مي هم واورېده چي ویل دي: خدای معطي دئ او مصطفی مقسم، عطاء د خدای له لوري ده او تقسیم ئې د مصطفی له لوري، او دا چي تا د خدای عطاء له توربیلا ډیم نه د برق له توزیع سره

تشبیه کړه او ودي ویل چي هر څوك باید د خپل کلي له ټرانسمیټر نه برق ترلاسه کړي نه دا چي مخامخ توربیلا ډیم ته ورشي!!! دې خبري ته دي تر نورو زیات حیران او حتی غصه شوی یم، زه گمان کوم چي څوك د دین له الف با خبر وي او له ټول قرآن نه یوازي د فاتحې په سورې پوه شي؛ هیڅکله به داسي غلطه او بېهوده خبره ونه کړي. د الله تعالی عطاء دومره عامه او بې واسطې او بې وسیلې ده چي د لمر له عطاء سره ئې نشو مقایسه کولی، توربیلا ډیم خو لري لري پرېږده، دا ستر لمر چي د نړۍ په گوټ گوټ کي هر چا ته له واسطې، وسیلې، اجورې او بدلې پرته مخامخ رڼا او تودوخه ورکوي، د دنیا هر گوټ ته په خپله درومي او خپله عطاء پرې وېشي، د ده عطاء د مهربان رب د بې انتهاء عطاء په وړاندي له هیڅ سره برابره ده، الله تعالی خو موږ ته فرمایي:

وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ * البقرة:۱۸۶

او چي کله زما بندگان زما په اړه درنه پوښتنه وکړي، نو زه یقیناً نږدې یم، چي کله دعاء کوونکی راته دعاء وکړي نو دعاء ئې قبلوم، نو زما بلنه دي ومني او پرما دي ایمان راوړي، تر څو رشد او کمال ته ورسي.

موږ ته خو اسلام ویلي چي په خپل هر رکعت لمانځه کي به د فاتحې سوره لولئ او له الله تعالی سره به په دې الفاظو ژمنه کوئ: ایاك نعبد و ایاك نستعین: یوازي ستا عبادت کوو او یوازي له تا نه مرسته غواړو، دا د عبادت او استعانت ژمنه او دعاء مخامخ ورته کوو، له واسطې او وسیلې

پرته، دا دعاء او ورپسې شرحه ئې دومره جامع دعاء ده چې هر څه احتواء کوي، بلې هيڅ دعاء ته حاجت نه پاته کېږي.

قرآن خو په واضحو الفاظو موږ ته وايي چې: د ده هر پيغمبر د ده د وحي امين وي، دنده ئې يوازې دا چې د الله تعالى پيغام په امانت سره خلکو ته ورسوي، کار ئې دا نه دئ چې د الله تعالى فضل پر خلکو وويشي، د الله تعالى فضل په خپله د الله په واك کې دئ، هغه چا ته ئې ورکوي چې په خپله ئې غواړي: (قُلْ إِنَّ الْفَضلَ بِيَدِ اللّه يُؤْتِيهِ مَن يَشاءُ وَ اللّه وَسِعٌ عَلِيمٌ)، قرآن خو موږ ته وايي چې د عالم هر څه ده ته د حال او قال په ژبه سوال کوي او الله تعالى په خپله د دوی غوښتنو ته ځواب وايي، تل دا کار کوي او هره شېبه د يوه کار د ترسره کولو په حال کې وي: يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ * الرحمن:۲۹

يعني الله تعالى د زمکې او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتياوې ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شيبه، په خپله مالك الملك خدای ترسره کوي، الله تعالى داسې نه دئ چې د دنيا کارونه ئې خپلې مخې ته پرېښې وي او يا ئې نورو ته سپارلي وي او دی هيڅ تصرف په کې نه کوي، بلکې هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره ترسره کېږي، هغه يوه شېبه هم د عالم د چارو له ادارې، پالنې او ساتنې څخه نه غافله کېږي، قرآن موږ ته همدا وايي:

إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى

الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ * الاعراف:٥٤

يقيناً چي ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بيا ئې پر عرش استوی وکړه، شپه پر ورځ راکاږي (پرې پټوي ئې)، داسي چي په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چي هم خلقت (يعني پيدايښت) ده لره دئ او هم امر (يعني چاري سمبالول)، د عالمونو پالونکی الله چي برکتناك دئ.

قرآن په دې مبارك آيت سره څو ډېري مهمي او اساسي لارښووني د خپل مخاطب په وړاندي ږدي:

- ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو (مرحلو) کې پيدا کړل.
- د دوی له پيدايښته وروسته ئې د ټول عالم د ادارې، ساتني او پالني چاري په خپل اختيار کې واخيستې او د مطلق ټولواك په توګه ئې د عالم د سلطنت پر عرش استوی وکړه.
- دا د ده د ټولواکۍ نښه او بېلګه ده چي شپه پر ورځ راکاږي، داسي چي په تلوار ئې لټوي.
- دا هم د ده د ټولواکۍ بله بېلګه ده چي لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، همغه کار کوي او په همغه لار درومي چي الله تعالی ئې امر ورته کړی.
- په دې پوه شه چي هم خلقت يعني پيدايښت ده لره مختص دئ، په

دې کې بل شريك نه لري او هم امر يعني چارې سمبالول چې په دې کې هم هيڅ شريك نلري.

- الله تعالی مبارك او د عالمونو پالونکی او ساتونکی دئ.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر آيتونه موږ ته همدا وايي چې الله تعالی د عالم د چارو واګې بل چا ته نه دې سپارلې، امور ټول د ده په واك کې دي.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې دا مطلب توضيح شوی چې الله تاسو ته درنږدې دئ، ډېر نږدې، د غاړې تر رګ نه هم درنږدې، که دوه ياست درېيم مو الله دئ او که درې وئ څلورم مو الله دئ، چې هر ځای وئ الله درسره دئ، ستاسو دعاګانې اورې او قبلوي ئې، نه الله له تاسو لرې دئ، نه ستاسو او د الله تر منځ پړاوونه او حجابونه شته، نه الله ته د رسېدو او د خپلو دعاګانو د وړاندې کولو لپاره واسطې او وسيلې ته ضرورت شته، هره شېبه، په هر ځای او هر حالت کې، مخامخ خپل الله ته خپل عرائض وړاندې کولی شې او مطمئن اوسه چې الله ئې په خپله مخامخ اورې او قبلوي ئې. قرآن په دې سره د هغه شرکي عقايدو جرړې ايستلې دي چې الله ته د دعاګانو په اورېدو او قبلېدو کې شريك ثابتوي او وايي: ستا دعاء او عبادت په هغه صورت کې تر خدايه رسي او قبلېدی شي چې د ده د نازولو له لارې وړاندې شي او هغوی ئې د قبلېدو سپارښتنه وکړي!! پيغمبر عليه السلام خو وايي چې که د څپلۍ بند مو وشکېدو دا هم له الله تعالی وغواړئ. چې الله درنږدې دئ، نو په دعاګانو کې مو دا مطلب مراعاتوئ، په چيغو چيغو دعاء کول د دې باور خلاف کار دئ، په چيغو چيغو خو هغه

چا ته دعاء کېږي چي لرې وي، دعاء خپل آداب لري، يو ئې همدا دئ.

په دې اړه دوه نور آيتونه دا دي:

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ * ق: ١٦

... هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ * الحديد:٤

تا چي په کومو رواياتو استناد کړی، د دې لپاره چي ثابته کړې پيغمبر عليه السلام د الهي خزائنو واکمن ټاکل شوی او د الله تعالی د فضل او فيض وېش ده ته سپارل شوی، ډېر بې بنسټه او ناسم استناد دئ، راشه دې رواياتو ته لږ ځير شو:

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّه -صلى الله عليه وسلم- خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُدٍ صَلاَتَهُ عَلَى الْمَيِّتِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ « إِنِّى فَرَطٌ لَكُمْ وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ وَإِنِّى وَاللَّه لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِى الآنَ وَإِنِّى قَدْ أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ وَإِنِّى وَاللَّه مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِى وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَتَنَافَسُوا فِيهَا ».

دا روايت په ډېر وضاحت سره ښيي چي له خزائن الارض نه مراد هغه د حجاز، عراق، شام، روم، فارس او هند خزائن دي چي د مسلمانانو په لاس کې پرېوتې، پيغمبر عليه السلام ته په رؤياء کې ښودل شوي وو چي دا به د مسلمانانو په لاس کې پرېوځي، د همدې لپاره ئې دوی ته وويل: له

دي وېره نه لرم چي تاسو به ببرته مخكني شرك ته واوړئ بلكي له دې وېرېږم چي دا خزائن ستاسو لاس ته درشي او بيا په خپلو کي تنافس وکړئ، ومو ليدل چي همداسي وشول، عياش او ظالم اموي او عباسي واكمنان د دغو خزانو پر سر داسي په خپلو كي ونښتل چي د زرگونو مؤمنانو او د ډېرو صحابه وو او تابعينوويني په كي توى شوې.

پيغمبر عليه السلام د دغو خزائنو په اړه داسي فرمايي:

عن أبي هُرَيْرَةَ قَالَ رَسُولُ اللَّه -صلى الله عليه وسلم- « بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُتِيتُ خَزَائِنَ الأَرْضِ فَوُضِعَ فِي يَدَىَّ أُسْوَارَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ فَكَبُرَا عَلَىَّ وَأَهَمَّانِي فَأُوحِىَ إِلَىَّ أَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ »رواه مسلم

له ابو هريرة روايت دئ چي رَسُولُ اللَّه - صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كله چي ويده وم ناڅاپه په خوب کي گورم چي د زمكي خزاني راكړى شوې او د سرو زرو دوه لاس وندي مي په لاسونو کي كېښودى شول، راباندي ستر شول او پرېشانه ئي كړم، نو راته وحي وشوه چي پو ئي كړم، پو مي كړل او والوتل، نو دا مي د صنعاء او يمامه په هغو دوو دروغجنو تعبير كړل چي زه ئي په منځ کي يم.

د معطي او قاسم په اړه روايات دا دي:

عن أبي هريرة قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين وإنما أنا قاسم ويعطي الله رواه البخاري

عن أبي هريرة سمعت النبي صلى الله عليه و سلم يقول ( من يرد الله به

خيرا يفقهه في الدين وإنما أنا قاسم والله يعطي ولن تزال هذه الأمة قائمة على أمر الله لا يضرهم من خالفهم حتى يأتي أمر الله ) رواه مسلم

دا دواړه روايتونه وايي چي دلته له عطاء او تقسيم نه مراد په دين کې پوهه او تفقه ده؛ نه د الله تعالى فضل، د حديث معنى دا ده چي ورکړه او عطاء د الله تعالى کار دئ، زما مأموريت دا دئ چي الهي پيغام تر خلکو ورسوم، خو دا چي څوك به ئې ترلاسه کړي، ايمان به پرې راوړي، فيض به ترې حاصل کړي، دا د الله تعالى کار دئ نه زما، د همدې حديث راوي د هغه په شرحه کې وايي: ( أنا قاسم ) أقسم بينكم ما أمرت بتبليغه من الوحي ولا أخص به أحدا دون أحد . ( والله يعطي ) كل واحد منكم فهما على قدر ما تعلقت به إرادته سبحانه .

همداراز وايي: معناه أن المعطي حقيقة هو الله تعالى ولست أنا معطيا إنما أنا خازن على ما عندي ثم أقسم ما أمرت بقسمته على حسب ما أمرت به فالأمور كلها بمشيئة الله تعالى وتقديره والإنسان مصرف مربوب.

متأسفانه هغه خبره چي د قريشو مشرکينو به ويله او حتى په ځينو مواردو کې به هغوى هم ترې ډېره کوله اوس ئې هغه څوك کوي چي ځان د محمد عليه السلام امتي ګڼي!! قريشو به ويل: موږ د لات، منات، عزى او هبل عبادت نه کوو، بلکې د دوى په وسيله د خداى تقرب غواړو، دا د خداى صالح او مقرب بندګان وو، غواړو دوى خداى ته شفيع کړو، د دوى له لاري خداى ته خپل عرايض وراندي او د دوى په طفيل خپل مقاصد ترلاسه کړو، خو نن په لاهور کې يو کس وايي: د اجمير او بغداد له قبرونو

نه فیوضات ترلاسه کوو، د اجمیر، سرهند او بغداد په قبرونو کې پراته اولیاء الله د الهي نور ټرانسمیټرونه دي، یوازې د دوی له لارې له الهي فیض او نور نه برخمن کېدی شو، ... او دې ته ورته ډېرې نورې ناپړتې او شرك لړلې خبرې، تاسو ووایئ چې قریش په شرك کې مخکې وو که دا کسان؟!! ته خو وایې چې د پیغمبر علیه السلام په امت کې هیڅکله شرك نه راپیدا کېږي!! خو موږ په خپلو سترګو د پیغمبر علیه السلام په امت کې داسې ستر ستر مشرکان ګورو چې ابوجهل او ابولهب ئې ګرد ته هم نشي رسېدی، د شرك داسې ستر ستر استادان چې ابوجهل او ابولهب د شاګردانو په توګه هم نه قبلوي!! داسې مبلغین چې د شرك په تأیید او دفاع کې د قرآن آیتونه، د پیغمبر علیه السلام احادیث او د صحابه وو اقوال په غلطه او ناروا توګه تعبیروي.

په آیتونو او روایاتو ستا دې استناد هغه ستر مشرك شیعه آخوند راپه یاد کړ چې د ایران په تلویزیون کې ئې ویل: په قرآن کې درې سوه (۳۰۰) ځله د علي (علیه السلام) نوم راغلی!! دا په داسې حال کې چې په ټول قرآن کې حتی یو ځل او اشارتاً هم د علي رضی الله عنه یادونه نه ده شوې! او ویل ئې: کله چې د آدم علیه السلام په کالبوت کې روح پو شوه نو عطسه ئې وکړه او وئې ویل: یا علي! او کله چې نوح علیه السلام کشتۍ ته ختلو وئې ویل: یا علي! او کله چې ابراهیم علیه السلام اور ته لوېدو وئې ویل: یا علي! او کله چې محمد علیه السلام معراج ته تلو او اوم آسمان ته ورسېدو هلته ئې یو غږ واورېدو او وئې ویل: یا الله! دا ستا غږ دئ که د علي؟ له آخوا ورته وویل شو: دا زه یم خو ما په ټولې نړۍ کې تر علي غوره

شخص ونه موندو نو ځکه د هغه په غږ له تا سره خبري کوم!! یوه بل ئې ویل: سنیان د تلاوت په پای کې د علي نوم نه اخلي او نه وایي چې صدق الله العلي العظیم بلکې یوازي دومره وایي: صدق الله العظیم!! دا سفیه او کمعقله آیت الله په دې هم نه پوهېدو چې دلته (العلي) د الله تعالی صفت دئ نه د علي نوم!!

## اهل بیت:

تا د اهل بیت په اړه هم داسي څه وویل چې هم له قرآن سره اړخ نه لګوي او هم د صحابه وو له اجماع سره، تا د علي رضی الله عنه په اړه داسي له مبالغي ډك الفاظ وکارول چې ګواکې د زمکې پر سره تر ده الله تعالی ته زیات محبوب څوك نشته!! دا په داسي حال کې چې پیغمبر علیه السلام تر ده ډېر الله تعالی ته محبوب دئ او د ټولو صحابه وو اجماع پر دې راغلې چې تر پیغمبر علیه السلام وروسته ابوبکر رضی الله عنه د امت افضل دئ، بیا عمر رضی الله عنه، بیا عثمان رضی الله عنه او بیا علي رضی الله عنه. تا چې د مباهلې د آیت په اړه کوم روایت نقل کړ هغه له قرآن سره تعارض لري، د مباهلې اړوند آیت هغه مهال نازل شو چې د نجران د مسیحیانو یو دروند وفد چې د دوی ډېر مذهبي او قومي مشران په کې وو، مدینې ته راغی، دا وفد د دې لپاره راغلی وو چې د مسلمانانو له برید نه د جزیې په ورکولو سره ځان وژغوري، له پیغمبر علیه السلام سره ئې ولیدل، هغه د قرآن آیتونه دوی ته واورول او په پای کې ئې د مباهلې بلنه ورکړه، خو هغوی د مباهلې او مخالفت په ځای جزیه ومنله او رخصت شول.

د مباهلې په اړه ځيني هغه روايات چي يوه مذهبي فرقه ورباندي استناد کوي او د دې خبري د ثابتولو هڅه کوي چي د پيغمبر له اهل بيت نه يوازي فاطمه، حسن، حسين او علي رضي الله عنهم مراد دي ځکه چي پيغمبر عليه السلام د مباهلې لپاره يوازي دوى له ځان سره حاضر کړي وو!! په دې اړه څو خبري بايد په پام کي ولرو:

هغه روايت د منلو دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، کوم روايات چي د پيغمبر عليه السلام يوازي يوه لور، يو زوم او دوه لمسيان اهل بيت ګڼي هم له قرآن سره تعارض لري او هم له عقل، عدل او عرف سره، قرآن ازواج مطهرات د اهل بيت په نامه يادوي خو دا روايات ټول ترې باسي او په ځاى ئې يوه لور او دوه لمسيان او يو زوم اهل بيت ګڼي!! کوم عقل دا خبره مني چي يوه لور، مېره او زامن ئې له اهل بيت څخه وګڼل شي او نوري لوڼي، زوم او اولاد ئې نه؟!! يو د تره زوى له اهل بيت څخه وي او بل ئې نه؟!! پيغمبر عليه السلام به څنګه د قرآن خلاف او د عقل خلاف خبره کوي؟! دا روايت له دې پلوه هم د قرآن خلاف دئ چي په قرآن کې د مباهلې لپاره د (أَبْنَاءَنَا وَ أَبْنَاءَكُمْ وَ نِساءَنَا وَ نِساءَكُمْ وَ أَنفُسنَا وَ أَنفُسكُمْ) حاضرول ويل شوي، که مقابل لوري مباهله منلې وى نو بيا خو به پيغمبر عليه السلام ټول صحابه، زامن او مېرمني ئې مباهلې ته راوستل نه دا چي له خپلې کورنۍ يوازي څلور کسان راولي!! علي رضي الله عنه نه د زامنو په ضمن کي راځي او نه په آيت کي راغلي چي د تره زامن يا زومان هم حاضر کړئ. په قرآن د ايمان تقاضاء دا ده چي د هري هغي خبري له منلو ډډه وکړو او په هيڅ مورد کي پرې استناد ونه کړو چي د قرآن د صريح آيت

خلاف وي. جعلي روايات رايستل او پیغمبر علیه السلام ته د قرآن او عقل خلاف خبري منسوبول خو پرېږده غلاتو شیعه وو د علي رضی الله عنه په اړه حتی په قرآن کې تحریفونه کړي.

دا کار خو به پیغمبر علیه السلام هغه وخت کاوو چې مقابل طرف مباهله منلې وی، زامن او ښځې ئې په مدینه کې موجود وی، له نجران نه یوازې نه وی راغلي، خو نه هغوی مباهله منلې او نه ئې ماشومان او مېرمني حاضر ول، نو د نارینه وو یوې جرګې ته به پیغمبر علیه السلام څنګه او د څه لپاره خپل لمسي او لور حاضرول؟!!

همدا راز چیري چي په قرآن کریم کې د اهل بیت لفظ استعمال شوی نو هلته ترې مراد یوازې مېرمني دي که دا د پیغمبر علیه السلام په ارتباط استعمال شوی او که د ابراهیم علیه السلام په ارتباط. په دواړو مواردو کې یوازې مېرمني مراد دي، نه ئې ابناء په کې شامل دي او نه اقرباء. د اهل بیت لفظ د احزاب په سوره کې راغلی او هلته ئې مراد یوازې د پیغمبر علیه السلام مېرمني دي، ځکه چي تر دې مخکې د یا نساء النبي په صیغه هغوی ته مکرر خطاب شوی او ورپسې د اهل البیت په نامه یادې شوې او ورته ویل شوي:

... إِنَّمَا يُرِيدُ اللّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً *

... خبره دا ده چي الله له تاسو اې اهل بیتو ناپاکي لري ساتل او ستاسو ښه پاکول غواړي.

د قرآن معمولي فهم خو پرېږده چي څوك په عربي پوه وي او لږ ادبي سلیقه

ولري نو دلته له (اهل البيت) نه له (نساء النبي) پرته بله هيڅ معنی نشي اخيستی.

او د هود په سوره کې دا لفظ د ابراهيم عليه السلام د بې بې لپاره راغلی:

قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ رَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَجِيدٌ * هود: ۷۳

وئې ويل: آيا د الله په کار کې تعجب کوئ، د الله رحمتونه او برکتونه دي پر تاسو وي اې اهل البيتو، بې شکه چې هغه ستايلی د مجد خاوند دئ.

له تا پوښتنه کوم: آيا کوم عاقل انسان به دا خبره وکړي چې زما اهل بيت زما مېرمن نه بلکې زما زوم، لور او لمسيان دي، هغه هم نه ټولې لونې او نه بل زوم، بلکې ځيني ئې؟!! تاسو څنګه پيغمبر عليه السلام ته د عقل او عرف خلاف خبره منسوبوئ؟!! الله تعالی د پيغمبر عليه السلام ازواج مطهرات د اهل بيت په نامه يادوي او تاسو پيغمبر عليه السلام ته داسي قول منسوبوئ چې ګواکې هغه د قرآن د صريح وينا خلاف خپلې مېرمنې له اهل بيت نه ايستلې دي!! زه او هر هغه څوك چې په قرآن ايمان لري هغه روايت په دېوال وهو چې پيغمبر عليه السلام ته داسې غلطه او د عقل، عدل، عرف او قرآن خلاف وينا منسوبوي!!

## د شيعه وو په اړه يوه رؤيا:

راشه په دې اړه خپله يوه رؤياء هم ستا مخې ته کېږدم: د ۱۳۸٦کال د ميزان په اته ويشتمه شپه مې خوب ليد چې په يوې خونې کې يم، چينه پکې

راخوټېږي او ترې بهېږي، له ډېرو بې سده زمريانو ډکه ده، داسي احساسوم چي الله تعالی دلته حاضر دئ او زه ئې په حضور کي ولاړ يم، په خوني کي پراته زمريان هم د الله تعالی د حضور په وجه بې سده دي، زه خپل رب ته سخت ژاړم، دعاء ورته کوم، ترې غواړم چي نور ما د ځان لوري ته دروبله، له ژوند نه تېر يم. د سختي ژړا په حالت کي له خوني راوځم، بهر ځو ايرانيان گورم چي ځيني افسران ئې هم په کي دي، له ځان سره وايم چي دوی مشرکان دي، د الله تعالی په ځای د دغو زمريانو عبادت کوي!! يو ئې راسره خبري کوي خو زه د ژړا پداسي حالت کي يم چي نږدې ده زړه مي وچوي، په همدې حالت کي له خوبه راويښ شوم.

## د اهل بيت مناقب:

تا د اهل بيت د مناقبو د بيانولو په ضمن کي د الشوری د سورې په ۲۳ آيت استناد وکړ او د آيت داسي غلط تعبير دي وړاندي کړ چي له ځرگند او عمدي تحريف نه پرته بل نوم نشو ورکولی، آيت دا دئ:

ذَلِكَ الَّذِي يُبَشِّرُ اللَّهُ عِبَادَهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ قُلْ لَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ * الشوری: ۲۳

تا له يوې خوا (القربی) د خپلوانو په معنی تعبير کړ؛ حال دا چي د (القربی) اصلي معنی خپلوي ده؛ نه خپلوان، د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کي دا لفظ راغلی او په ټولو کي د خپلوۍ په معنی راغلی، له بلي خوا دي د پيغمبر عليه السلام خپلوان هم يوازي په فاطمه، علي، حسن او حسين کي

راخلاصه کړل او آیت دي داسي تعبیر کړ چي ګواکي پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چي مؤمنانو ته ووایه چي له تاسو نه د هغو زحمتونو اجر نه غواړم چي ستاسو د هدایت په لار کي مي ایستلی، تاسو ته مي عزت درپه برخه کړ او .... یوازي یو اجر درنه غواړم او هغه دا چي زما خپلوانو (فاطمه، علي، حسن او حسین) سره محبت وکړئ!! په دې اړه څو خبرو ته غوږ شه:

دا سوره په مکه کي نازله شوې، هغه مهال چي لا علي او فاطمې رضی الله عنهما ازدواج نه وو کړی، حسن او حسین رضی الله عنهما لا نه وو پیدا شوي، لا مسلمانان تر سختو ابتلاءاتو لاندي ول، د پیغمبر علیه السلام په ملګرتیا کي ئې له توهین، تهدید، زندان، تعذیب، هجرت او شهادته پرته هیڅ دنیوي امتیاز او راحت نه وو په برخه شوی، هغه څه چي تا ئې ادعاء وکړه یو ئې هم نه وو ترلاسه کړی، نو په داسي حالت کي به پیغمبر علیه السلام څنګه دوی ته ویل چي د دغو لاس ته راوړنو په سبب به زما د اهل بیت درناوی او احترام کوئ؟!! کوم عاقل او په قرآن پوه انسان د داسي غلط تعبیر جسارت کولی شي؟!!

څنګه به پیغمبر علیه السلام له خپلو سختو دښمنانو او هغو قریشو نه چي ډېر ئې د ده په اقرباوو کي راتلل؛ دا غوښتنه کوي چي له تاسو نه یو اجر غواړم او هغه هم تر ټولو ستر او دښمنانو ته په هیڅ صورت کي د نه منلو وړ؛ او هغه دا چي له فاطمې او علي رضی الله عنهما او زما له هغو دوو لمسیانو سره به محبت کوئ چي لا تر اوسه نه دي پیدا شوي؟!! که له

تا سره دا لفظي تحریف ومنو او القربی د اولواالقربی په معنی ونیسو نو مخاطبینو خو به له (اولوا القربی) نه یا ټول بني هاشم مرادول، یا یوازي بني عبدالمطلب چي په دوی کي تر ټولو سخت دښمن ابولهب هم راتلو، هیڅ مخاطب به دا غلطه معنی نه وه ترې اخیستې چي محمد علیه السلام له دوی نه د فاطمې او علي رضی الله عنه د مودت غوښتنه کړې؛ له دې آیت نه داسي تعبیر یوازي یو متعنت او متعصب انسان درلودی شي.

ولي په اقرباوو کي یوازي څلور کسان؟!! کوم عقل، عدل او عرف دا خبره مني چي د اقرباوو عامه صیغه په څلورو داسي کسانو اطلاق شي چي دوی ته ورته نور اقربا هم شته؟!! ښایي ته به په کوم داسي روایت باندي استناد وکړې چي همدا د قرآن، عقل او عرف خلاف خبره کوي او یوازي څلور کسان د پیغمبر علیه السلام اهل بیت، عترت او اقربا ګڼي!! خو که څوك تا ته ووایي چي دا روایت کوم غالي شیعه جوړ کړی او صحابه وو ته ئې منسوب کړی؛ او که درته ووایي: روایت خو په هغه صورت کي د منلو دئ چي منشأ ئې قرآن وي یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، ځواب به دي څه وي؟ که درته ووایي: د قرآن صریح آیت ومنم که د عقل خلاف روایت؟ څه ځواب به ورکوې؟ که داسي نه وي او د روایت په نامه هر رطب و یابس باندي استناد وکړو نو بیا خو به زموږ حالت همغسي شي لکه د شیعه وو، چي د دوی د روایاتو تر ټولو معتبر کتاب (اصول کافي) په اړه د شیعه وو مشهور عالم علامه برقعه یي وایي: د دې کتاب اکثر روایات جعلي، له قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او روات ئې مجهول الهویه، کاذب او فاسق دي، برقعه یي د اصول کافي

د تردید په اړه یو ضخیم کتاب لیکلی چي په هغه کي ئې لیکلي: که دښمنان خبر شول چي زموږ د روایاتو په کتابونو کي داسي روایات هم راغلي چي راویان ئې خر او چنګښه دي؛ څه به کوو؟!

باور وکړه تا چي د اهل بیت او عترت په اړه څه ویلي؛ ټول ئې د قرآن او عقل خلاف دي، که ما وخت درلودی یا مي په دې موضوع مزید بحث ضروري او مفید ګڼلی نو ستا د هري ادعاء په تردید که به مي د قرآن آیتونه ستا مخي ته ایښی وو.

تا په دې آیت کي غور نه دئ کړی، د نورو آیتونو په رڼا کي دي د هغه په حقیقي او اصلي مطلب د پوهېدو هڅه نه ده کړې، دې ته متوجه نه يې چي دا آیت په داسي ځای کي او د داسي مضمون په ضمن کي راغلی چي خطاب مخالفینو ته متوجه دئ، همغه مخالفین چي د پیغمبر علیه السلام په ضد ئې له هیڅ ظلم، تېري او جفا ډډه نه کوله، همغه مخالفین چي قرآن په مکرره توګه پیغمبر علیه السلام ته ویلي چي دوی ته ووایه: له تاسو نه هیڅ اجر نه غواړم، څنګه ممکنه ده چي په دې آیت که به د ګڼ شمېر نورو آیتونو خلاف خبره شوې وي او له قریشو نه به ئې داسي ستر اجر او بدله غوښتې وي چي هیڅ اجر ورسره برابري نشي کولی؟!! آیا ممکنه ده یو څوك خپل دښمن ته ووايي: له تا هیڅ اجر او بدله نه غواړم یوازي دا درنه غواړم چي زما له زوم، لور او دوو لمسیانو سره به مینه کوې؟!! آیا د پیغمبر علیه السلام په څېر ستر شخصیت به داسي مطالبه له خپلو دښمنانو کړې وي؟!! په آیت کي له استثناء نه مراد دا نه دئ چي

يوازي يو اجر ترې وغواړه؛ بلکې مراد ئې داسې دئ لکه په لاندې آيت کې چې راغلی:

قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلًا * الفرقان:۵۷

ورته ووايه: له تاسو هيڅ اجر پرې نه غواړم؛ مګر دا چې څوک وغواړي د خپل رب لورې ته (تلو لپاره) لار غوره کړي.

يعنې زما اجر به يوازې دا وي چې په تاسو کې څوک ايمان راوړي او د الله تعالی لورې ته تللو پرېکړه وکړي.

د مخکني آيت معنی سل په سلو کې دې ته ورته ده او هغه دا چې زما اجر يوازې دا دئ چې له اقرباوو سره زړه سوی او دوستي څرګندوم او د دوی د هدايت هڅه کوم، که زما د هڅو په نتيجه کې له تاسو نه څوک ايمان راوړي نو معنی ئې دا ده چې زما له خپلوانو نه ځينو ايمان راوړی، همدا به زما اجر وي، که زه په بل قوم کې مبعوث شوی وی او يوازې هغوی ته مې بلنه ورکولی، نو دا بدله او معاوضه به مې هم نه په برخه کېده، خپلوان به مې هم له هدايته محروم پاته کېدل. که څه هم ځينو محققينو ويلي چې د آيت مراد دا دئ: له تاسو نه يوازې دا بدله غواړم چې له ما سره خپلوۍ ته پام وکړئ او د پرديو دښمنانو په څېر راسره چلند مه کوئ، خو د دې لپاره چې دا هم يو ډول اجر او بدله ګڼل کېږي او د قرآن نور آيتونه په پرېکنده الفاظو سره وايي چې هيڅ اجر ترې مه غواړه، نو ځکه وايو چې غوره تعبير همغه برنی تعبير دئ.

څوک چې پر قرآن ايمان لري نو نه د قرآن يو آيت داسې تعبيروي چې

له ګڼ شمېر نورو آيتونو سره په تعارض کې راشي او نه داسي روايت مني چې له قرآن سره تعارض لري.

باور وکړه چې د تصوف او د دې او هغه د کراماتو او مناقبو په اړه ډېري اوږدې اوږدې ويناوي؛ د ډاکټر اسرار احمد صاحب له هغي لنډې وينا سره هم د ګټې، اهميت، اغېز او ارزښت له پلوه برابري نشي کولی چې د ظلم او فساد په خلاف او د اسلامي نظام د قائمولو لپاره مخاطبينو ته د دعوت، جهاد او مبارزې بلنه ورکوي، الله تعالی دي ډېر اجر ورکړي. تا به ښايي هغه روايت اورېدلی وي چې وايي: که پر يوه قوم د الله تعالی عذاب نازل شي نو تر نورو د مخه به پر هغه چا راپرېوځي چې اوږدې اوږدې سجدې ئې کړې خو يوه ورځ ئې هم د ظلم، فساد او ګناه په ليدو سره تندی نه دئ تريو شوی. دا د مسيحيانو غلطي وه چې اصلي انجيل ئې شا ته وغورځاوو او په ځای ئې د عيسی عليه السلام د معجزو او مناقبو داسي انجيلونه وليکل چې د اصلي انجيل څو جملې هم نشو په کې موندلی. مګر د قرآن دې وينا ته دي پام کړی چې د مخکنيو شخصيتونو په اړه له مناقشو، جدلونو او بحثونو نه ممانعت کوي او مسلمانانو ته وايي چې د دوی په اړه بايد داسي ووايي:

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ * البقره: ۱۴۱

دا خو يوه تېره شوې ډله ده، چې دوی لره به خپله لاس ته راوړنه وي او تاسو ته خپله لاس ته راوړنه او تاسو به د دوی د کړو وړو په اړه نه

پوښتل کېږئ.

په داسي حال کي چي الله تعالی هر چا ته د خپل عمل له مخې سزا ورکوي، هر چا ته خپلي لاس ته راوړني په لاس ورځي، یو د بل په کړو نه نیول کېږي، نو تېرو شخصیتونو ته ځان منسوبول څه ګټه لري؟

دا مختصر آیت د بقرې د مبارکي سورې د دوهمي برخي عنوان دئ او د ټولو هغو جامع او ژورو مطالبو خلاصه وړاندي کوي چي په تېرو۷۱ آیتونو کي په مشرح او مفصله توګه راغلي. په دې کي نه یوازي د دین یو بنیادي اصل توضیح شوی، بلکي د مذهبي انحراف یوه اساسي او بنیادي اړخ ته هم ګوته نیول شوې، د دین اساسي خبره دا ده چي هر څوك به د خپل عمل سزا ګوري، یو د بل ښېګڼې نه شي وړی، یو د بل لپاره نه مجازات کېږي، نه پلار د زوی په ګناه نیول کېږي او نه زوی د پلار د ښو عملونو په وجه جنت ته درومي، هر څوك به د خپلو لاس ته راوړنو ښېګڼې په اوږو وړي. او د مذهبي انحراف تر ټولو ستره او اساسي خبره دا ده چي د الله صالحو بندګانو ته د انتساب تر نامه لاندې څوك ځان د جنت مستحق او د مذهب وارث وګڼي او له دې لاري د امتیازاتو د ترلاسه کولو په لټه کي وي، مذهب قومي رنګ غوره کړي، قومي تعصب ته د مذهب جامه ورواغوستل شي او مذهبي مشران ئې ځان د پیغمبرانو د امتیازاتو وارث وګڼي نه د دوی د مسئولیتونو او دندو وارث. الله تعالی دا نه خوښوي چي څوك د ده صالحو بندګانو ته خپل ناوړه عمل او ناسمه عقیده منسوب کړي، هم د مذهب نوم بد کړي او هم د الله د صالحو بندګانو نوم.

الله تعالی په دې آیت کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې د مخکنیو صالحانو په سر له جاهلانو سره په شخړو او منازعاتو کې ځان مه مصروفوئ، حتی که دا د ابراهیم، اسمعیل، اسحق او یعقوب علیهم السلام په څېر ستر ستر شخصیتونه هم وي، د دې په ځای خپل عمل ته پام وکړئ، هغه څه چې تاسو له عذابه ژغورلی شي ستاسو خپل عمل دئ نه بل څه، الله تعالی ستاسو نسب ته نه ګوري، ستاسو عمل ته ګوري، که خپل عمل او عقیدې له جنته محروم کړې نو نه دې نسب جنت ته بیولی شي او نه د چا شفاعت، همغسې لکه چې پیغمبر علیه السلام خپلو نږدې خپلوانو ته وایي: ځان له اوره وژغورئ، زه د الله تعالی له عذابه ستاسو د ژغورنې هیڅ واک نه لرم، نه څه ګټه دررسولی شم او نه کوم ضرر درنه دفعه کولی شم:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الآيَةُ (وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ) دَعَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوا فَعَمَّ وَخَصَّ فَقَالَ « يَا بَنِى كَعْبِ بْنِ لُؤَىٍّ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِى مُرَّةَ بْنِ كَعْبٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِى عَبْدِ شَمْسٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِى عَبْدِ مَنَافٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِى هَاشِمٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِى عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا فَاطِمَةُ أَنْقِذِى نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّى لاَ أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلاَلِهَا ».

عجیبه ده، ډېره ډېره عجیبه!! هغه مهال ستا جسارت ته حیران شوم چې ودې ویل: د جنت کونجیانې (کلیانې)د علي، فاطمې، حسن او حسین په لاس کې دي، هغه څوك به جنت ته ځي چې دوی ئې وغواړي!!! نه پوهېږم

آیا د دې خبري د کولو پر مهال متوجه وې چي څه وایې که نه؟ داسي خبري خو یوازي د هغه چا له خولي وځي چي شرکي او شیطاني جذباتو په سر اخیستی وي؟ په داسي حال کي چي پیغمبر علیه السلام فاطمې رضی الله عنها ته وایي چي زه دي د الله تعالی له عذابه نشم ژغورلی، یوازي خپل عمل دي ژغورلی شي!! د قرآن په لسګونو آیتونه همدا خبره کوي چي جنت ته د دخول پرېکړه د الله تعالی له لوري او د انسان عقیدې او عمل ته په پام سره کېږي، آیا ممکنه ده چي څوك دي په الله تعالی، قرآن او پیغمبر علیه السلام ایمان ولري خو سره له دې دي د داسي کرکجني او شرك لړلې خبري جسارت وکړي!!

دا مسئله نه یوازې په مکه او مدینه کي او له مشرکانو او یهودانو سره یوه کشاله وه بلکي دا اوس هم اکثر مذهبي اختلافات له دغه ذهنیت نه څرګندېږي چي یو دې مخکني منلي شخصیت ته ځان منسوبوي او بل ئې بل ته، یو د دې شخصیت (روحاني فیض) او (کرامات) ستر او پراخ ګڼي او بل ئې د هغه بل شخصیت، یو ځان د پیغمبر د اهل بیت محب او وارث ګڼي او له پیغمبر علیه السلام نه وروسته علي رضي الله عنه او زامن ئې د هغه ځای ناستي او د خلافت اصلي او یوازیني وارثین بولي او ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم او ټولو هغو صحابه وو ته د غاصب په سترګه ګوري چي له علي رضي الله عنه نه پرته ئې له بل چا سره بیعت کړی او د بل په خلافت راضي شوي، حال دا چي علي رضي الله عنه په خپله له مخکنیو خلفاوو سره بیعت کړی او نه یوازي دا چي تل ئې په لمانځه کي په هغوی پسي اقتداء کړې بلکي خپله لور ئې عمر ته په نکاح ورکړې!! د امام

حسین رضي الله عنه لپاره به د محرم په ورځو کې توره جامه اغوندي او د محرم په لسمه به د هغه د شهادت وير کوي، په مسخره، کرکجنو، خرافي او اسلام ضد حرکاتو او ناولو بدعتونو سره به دا ورځ لمانځي؛ خو په عمل کې به په کربلا او نجف باندي د صلیبي ځواکونو د برید په وخت کې د یرغلګرو مرسته کوي او د دوی په لاس د زرګونو هغو مسلمانانو د وژلو به هیڅ پروا نه کوي چي د امام حسین په څېر د ظلم او تېري مقابله کوي!! پر یزید به لعنت وایي خو په عمل کې به تر یزید نه د لازیات ظالمو واکمنانو ملګرتیا او له بې دینه، منافق، ظالم او مفسدو واکدارانو سره بیعت کوي!! که د پیغمبر علیه السلام په ژوند کې دومره مسلمانان په عراق او افغانستان کې وژل شوي وی، مګر هغه مبارك به د کربلا تر شهیدانو په دغو شهیدانو زیات نه وو خواشینی شوی؟!! دغه شیعه چي نن په عراق او افغانستان کې د عاشوری په لسمه ځانونه وهي؛ د افغانستان او عراق په نیولو کې ئې له امریکایانو سره لاس یو کړ، په کربلا او نجف ئې د امریکایانو د بیرغ رپېدا ومنله، په داسي حال کې د عاشوری د ورځي مراسم لمانځي چي امنیت ئې امریکایانو نیولی!! آیا تر دې د لوی منافقت تصور کېدی شي؟!! له د حسین رضی الله عنه سره د دوی د محبت ادعاء هسي یوه دروغجنه سیاسي لوبه ده، دا د دوی پلرونه ول چي له حسین رضی الله عنه سره ئې خیانت وکړ، کوفي ته ئې وروبللو خو خپلي ژمني ئې تر پښو لاندي کړې او د یزید په هغه لښکر کې شامل شول چي حسین رضی الله عنه او د ده ملګري ئې شهیدان کړل، یقیناً چي الله تعالی د همغه منافقت سزا نن د دوی اولادونو ته ورکوي، داسي چي د هغه د شهادت په ورځ به

ځانونه په خپله په زنځيرونو وهي!!

په دې کې هيڅ شك نشته چې د دغو شخصيتونو د كراماتو او مناقبو خبري هغه څوك كوي چې له دې لاري تغذيه كېږي، د هغوی په نامه شكراني، نذراني او سياسي او اجتماعي امتيازات ترلاسه كوي.

## اهل بيت، آل او اولاد:

ته د قرآن ځيني مخصوص اصطلاحات په غلطه توګه كاروې، د (اهل البيت)، (آل) او (اولاد) الفاظ يو د بل په ځای او يو د بل په معنی كاروې، په داسي حال کې چې هر يو ئې بېله او ځانګړې معنی لري، په قرآن کې آل د اتباع، پلويانو او يارانو په معنی راغلی، لكه آل فرعون چې د فرعونيانو او د فرعون د پلويانو او اتباع په معنی دئ نه د فوعون د اولاد په معنی، اهل البيت يوازي د مېرمنو لپاره راغلی، قرآن مېرمنو ته دا لقب غوره كړی، هغه ئې د كور خاونده (كوروالا) نومولې، او اولاد د زامنو او لوڼو لپاره راغلی، د قرآن په وړاندي د ادب تقاضاء دا ده چې موږ دا قرآني اصطلاحات په همغه معنی وكاروو چې په قرآن کې راغلي، كله چې موږ آل ابراهيم او آل محمد عليهما السلام ته دعاء كوو نو مراد مو بايد د دوی امتيان او اتباع وي نه يوازي د دوی اولاد، دا ډېره بې ادبي او د قرآن په وړاندي جسارت دئ چې څوك په اهل البيت کې زوم او لمسيان شامل كړي او مېرمني ترې وباسي، يا آل د زوم او لمسيانو په معنی تعبير كړي او اتباع او پلويان ترې وباسي.

## د مرګ له ځای او نېټې خبرېدا:

ستا دا ادعاء هم د قرآن مخالفه ادعاء ده چي وايي پيغمبر عليه السلام، فاطمه رضی الله عنها يا بل څوك پوهېدو چي سبا به څه كېږي، څوك به كله او چېري مري!! حسن او حسين رضی الله عنهما به كله او د چا په لاس وژل كېږي؟ دا ځكه چي قرآن په قاطعيت او صراحت سره فرمايي چي هيڅوك نه پوهېږي سبا به څه كوي، كله او چېري به مري:

... إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ *

لقمان:٣٤

او هيڅوك نه پوهېږي چي سبا به څه ترلاسه كړي او نه پوهېږي چي په كومي زمكي كي به مري، يقيناً چي الله ښه باخبره پوه دئ.

يعني الله تعالی دا وينا د هغه علم او پوهي له مخي كوي چي د انسان په اړه ئي لري، دا د عليم او خبير خدای وينا ده چي هيڅوك نه د سبا ورځي له پېښو خبرېږي او نه دا چي كله، څنگه او چېري به مري. كه څوك د خپل ځان په اړه خبر نه وي نو د بل چا د مړيني د ځای، وخت او څرنگوالي په اړه پوهېدا خو لازيات ورته محال او ناممكنه ده، څوك چي په دې آيت ايمان لري هيڅكله به داسي خبره په خوله رانه وړي چي كوم انسان ته د بل د مړيني د وخت، ځای او څرنگوالي په اړه د پوهي نسبت وكړي، صحابه نه پوهېدل چي پيغمبر عليه السلام به كله رحلت كوي، د رحلت په ورځ ئي صحت نسبتاً ښه شو، د لمانځه په مهال ئي له كړكۍ نه جومات ته وكتل او تبسم ئي وكړ، ټول صحابه خوشحاله شول چي هغه

روغ شوی، ابوبکر رضی الله عنه د همدې لپاره هغه شپه له مدینې بهر د خپلې یوې مېرمنې کره ولاړ، ناڅاپي ئې د هغه د رحلت خبر واورېد او بېرته په تلوار مدینې ته راستون شو، عمر رضی الله عنه جلالي شوی وو او ویل ئې چې په خدای قسم محمد علیه السلام نه دئ وفات شوی، ... که د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په څېر جلیل القدره صحابه له دې غیبه خبر نه ول بل څوك به څنگه پرې پوهېږي؟!! په قرآن د ایمان غوښتنه دا ده چې ټول هغه روایات یوې خوا ته لرې کېږدو چې له دې پرېکنده او صریح آیت سره تعارض لري.

## علیه السلام او رضی الله عنه:

همدا راز ته د (علیه السلام( او (رضی الله عنه) په اړه هم داسې څه وایې چې له قرآن سره اړخ نه لگوي، ته ادعاء کوې چې د علي رضی الله عنه او د هغه د اولاد لپاره (علیه السلام) کارول مانع نه لري، او دا کمزوری دلیل وړاندې کوې چې عادي انسان ته هم علیك السلام او علیه السلام ویل جائز دي، دا په داسې حال کې چې د قرآن له آیتونو نه په واضح توگه معلومېږي چې د پیغمبر لپاره باید د (علیه السلام ) او (صلوة الله علیه) یا (صلی الله علیه و سلم) الفاظ وکاروو، څکه چې قرآن فرمایي:

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا * الاحزاب:٥٦

او د صحابه وو لپاره باید (رضی الله عنهم) ووایو، څکه چې قرآن فرمایي:

وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ

اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * التوبة:۱۰۰

د ادب تقاضاء همدا ده چي د يوه لپاره مخصوص الفاظ بايد د بل لپاره ونه کاروو، داسي غلطي د التباس باعث کېږي، که دا جائز وګڼو نو بيا خو که چا وويل ايوب عليه السلام؛ نو مخاطب به نه پوهېږي چي د خطيب مراد پيغمبر ايوب دئ که کوم صحابي ايوب، که ئې وويل سليمان عليه السلام؛ نو نه به پوهېږي چي مراد ئې پيغمبر سليمان دئ که کوم صحابي سليمان!! هغه مهال خو له دې غلطي نه بايد په قطعي توګه ډډه وکړو چي ګورو ځيني غلات شيعه علي رضى الله عنه تر پيغمبر عليه السلام هم لوړ ګڼي!! که خلك اوس د مدير، سفير، وزير، صدراعظم، جمهور رئيس او پاچا لپاره خاص خاص القاب کاروي، که څوك نن په سعودي کي يوه سفير ته ووايي (سمو السفير) يا پاچا او شهزاده ته ووايي: (سعادة الملك) هر څوك به پرې وخاندي، موږ د داسي اشرافي الفاظو په ځای د دعاء الفاظ لرو خو په دې کي به د هر چا د مقام او منزلت خيال ساتو، پيغمبر ته زموږ غږ بايد د نورو خلکو په څېر نه وي، قرآن موږ ته همدا درس راکوي. د پيغمبر لپاره به داسي نه وايو چي رضى الله عنه يا رحمه الله، او د صحابي لپاره به صلى الله عليه و سلم نه وايو، که څه هم پر مؤمنانو باندی د سلام او صلاة لېږل د معنى له پلوه مانع نه لري.

## آيا په قرآن کي ټول احکام نشته؟

ستا هغه وينا مي هم واورېده چي ويل دي: په قرآن کي ټول احکام نه

دي راغلي، ځيني احکام داسي دي چي يوازي ئې په احاديثو کې موندلی شو، د دې ادعاء د اثبات لپاره دي وويل: په قرآن کې يوازي هغه غوښه حلاله ګڼل شوې چي د ذبحي پر مهال ئې د الله تعالی نوم ياد شي، خو کب (ماهي) بې له ذبحي حلال دئ، د دې استثناء بنسټ د قرآن کوم آيت نه بلکي د پيغمبر عليه السلام حديث دئ، څو ځلي دي دا خبره تکرار کړه چي راوښيئ د قرآن کوم آيت دا استثناء جائز ګڼي؟!! تاسو ته بايد ووايم: په قرآن کې دا استثناء شته خو څه وکړو چي ته نه ئې ورته متوجه شوی! قرآن کب (ماهي) د لحماً طرياً يعني تازه غوښي په نامه ياد کړی او دا ښيي چي ماهي د تازه او پاکې غوښي حکم لري، پيغمبر عليه السلام څکه ويلي چي ماهي له ذبحي پرته حلال دئ. همداراز تا وويل: د لمانځه ترتيب، اوقات او د رکعتونو شمېر په قرآن کې نه مومو... په داسي حال کې چي پيغمبر عليه السلام د لمانځه هر څه له قرآنه اخيستي، د الله په نامه د لمانځه پيل، قيام، تلاوت، رکوع، سجده، په رکوع او سجده کې تسبيحات، د لمانځه پنځه وختونه او د رکعتونو شمېر؛ دا ټول هغه څه دي چي په قرآن کې ورته يا په ډېر وضاحت سره يا تلويحاً اشاره شوې، خو زه او ته د ځينو منشأ درک کولی شو او د ځينو نه.

د لمانځه د ځينو برخو منشأ په قرآن کې دا آيتونه دي:

- (و ذکر اسم ربه فصلی) د تکبير تحريمه لپاره
- په قرآن کې د سجدې امر اولس ځلي راغلی، د هري ورځي د فرض رکعتونو شمېر هم اولس ټاکل شوی.

- تل تر سجدې مخکې د رکوع ذکر راغلی د همدې لپاره په لمانځه کې رکوع تر سجدې مخکې ده.

- د الروم د سورې په دغو دوو آیتونو کې د تسبیح لپاره څلور وخته سحر، ماښام، ماخستن او ماپښین ذکر شوي:

فَسُبْحَانَ اللَّهِ حِينَ تُمْسُونَ وَحِينَ تُصْبِحُونَ * وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِينَ تُظْهِرُونَ * الروم: ۱۷- ۱۸

نو د الله تسبیح وینه ده کله چې (ماښام) او (ګهیځ) ته ننوځئ او ده ته په آسمانونو او زمکې کې ستاینه ده او (ماخستن) او هغه مهال چې(ماپښین) ته ننوځئ.

او د طه د سورې په ۱۳۰ آیت کې د مازدیګر د وخت یادونه هم شوې:

فَاصْبِرْ عَلَى مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا وَمِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ فَسَبِّحْ وَأَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضَى * طه: ۱۳۰

نو په هغه څه چې دوی ئې وايي صبر وکړه او له ستايني سره د خپل رب تسبيح وايه (تر لمر راختو مخکې) او (تر لوېدو ئې مخکې) او (د شپې په يوې برخې کې) تسبيح وايه او د (ورځې په اطراف) کې؛ چې راضي شې.

دلته د سحر، مازديګر او ماخستن يادونه په صراحت سره شوې او دوو نورو وختونو ته د اطراف النهار په لفظ اشاره شوې. د همدې لپاره د لمانځه پنځه وخته ټاکل شوي.

کله چې د الواقعة د سورې په ۷٤ آيت کې دا امر وشو:

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ * الواقعة:٧٤

نو پیغمبر علیه السلام وفرمایل: دا تسبیح په رکوع کې شامله کړئ.

او کله چې د الاعلی د سورې په لومړي آیت کې دا امر وشو:

سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى * الاعلی: ١

نو پیغمبر علیه السلام وفرمایل چې دا تسبیح په خپلو سجدو کې شامله کړئ.

که په قرآن کې غور وکړئ وبه گورئ چې د رکوع امر د سجدې په پرتله لږ دئ، د همدې لپاره په لمانځه کې د رکوع شمېر تر سجدې لږ دئ.

د الاسراء سورې په ٧٨آیت کې د سحر لمونځ د قرآن الفجر په نامه یاد شوی او دا ښیي چې قرائت د لمانځه اساسي برخه ده.

أَقِمِ الصَّلَاةَ لِدُلُوكِ الشَّمْسِ إِلَى غَسَقِ اللَّيْلِ وَقُرْآنَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا * اللأسراء: ٧٨

په دې آیت کې له یوې خوا د گهیځ لمانځه ته قرآن الفجر ویل شوي له بلې خوا پنځه لمونځونو ته اشاره کوي: د لمر له زواله تر ماخستن پورې څلور لمونځونه او د سحر لمونځ ئې پنځم.

له دغو آیتونو نه په صراحت سره معلومېږي چې پیغمبر علیه السلام د لمانځه هر څه له قرآنه اخیستي.

## نهج البلاغه:

د نهج البلاغه په اړه مې هم ستا خبرې واورېدې، چې لاندې تعلیقات

پرې ضروري ګڼم: ستا دا ادعاء د حقیقت خلاف ده چې په نهج البلاغه کې علي رضی الله عنه ته منسوب اقوال د اهل سنت و جماعت په کتابونو کې هم راغلي!! او دا چې له کمیل ابن زیاد نه په دغو کتابونو کې هم ډېر روایات نقل شوي، په داسې حال کې چې له کمیل نه جمعاً او په ټولو کتابونو کې یوازې څلور پنځه ځلې نوم اخیستل شوی او هغه هم د دوه دیو حدیثونو په ارتباط، خو هلته هم محدثینو یا ویلي چې دا روایات او اسناد ئې ضعیف دي او یا ئې ویلي چې کمیل غیرثقه دئ. دا همغه کمیل دئ چې له یهودي ابن سبأ سره ئې اړیکې وې او عثمان رضی الله عنه تبعید کړی وو، په نهج البلاغه کې له ده زیات روایت کېږي.

ځا چې د قرآن د بلاغت خوند څکلی وي یا ئې د احادیثو ادبي منهج ته پام کړی وي نو په دې پوهېدا ورته ګرانه نه ده چې نهج البلاغه له دواړو سره هم د محتوی له پلوه ژور توپیر لري او هم د نهج او اسلوب له پلوه، حتی له هغو احادیثو سره هم ژور توپیر لري چې له علي رضی الله عنه نه روایت شوي.

په قرآن کې چې کوم سلاست، شفافیت، وضاحت، خوند او اغېز مومو په نهج البلاغه کې ئې لږ بېلګه هم نشو موندلی، نهج البلاغه په څلورمه پېړۍ کې او د علي رضی الله عنه له شهادته نږدې درې نیم سوه کاله وروسته لیکل شوی، نه یوازې دا چې نهج او د ادب اسلوب ئې د صحابه وو دور ته ورته نه دئ بلکې په ډېر لږ دقت سره دې نتیجې ته رسو چې دا د څلورمې پېړۍ د ادبي اسلوب په غېږ کې د سید رضي لخوا جوړ شوي

اقوال دي چې علي رضی الله عنه ته ئې منسوب کړي. اسلوب ئې پېچلی، غامض او شاعرانه دئ، همغسې لکه شاعران چې له الفاظو سره مشغول وي، دا په داسې حال کې چې قرآن د جاهلیت د دور دغسې نهج او اسلوب ونړاوو، ادب ئې پر نوي بنسټ ودراوو، د خیال له فضاء ئې د ژوند واقعیتونو ته راکوز کړ، د ابهام او اغماض په ځای ئې سلاست او وضاحت رایج کړ، درباري ژبه ئې په عامیانه ژبې بدله کړه، مدح او هجو ئې له ادب نه وایستل، ښېګڼو ته دعوت او بلنه ئې د هغوی ځای ناستې کړه، د کوم زوړ ادب بنسټونه چې قرآن ونړول متأسفانه ځینو بېرته هغه ته مخه کړه، په نهج البلاغه کې دغه شا ته تګ او تخلف ګورو. د سنیانو په مدرسو کې د عربي ادب د زده کړي لپاره د جاهلیت دور د شعراوو اشعار لوستل د همدې تخلف یوه بله بېلګه ده.

په نهج البلاغه کې ډېر داسې اقوال مومو چې د علي رضی الله عنه له لوړ شخصیت سره په هیڅ توګه نه ښايي، د ځان او خپلې کورنۍ ستاینه، د خپلو رقیبانو هجو، له مخکنیو خلفاوو نه شکایت او په دې اعتراض درلودل چې ولې دی د خلیفه په توګه غوره نشو او دا چې د مخکنیو خلفاوو په دوران کې ډېر غصه وو، د مجبوریت له مخې ئې څه نه ویل، حال ئې داسې وو لکه چې په ستوني کې ئې هډوکی نښتی وي!! آیا ممکنه ده چې د امیر المؤمنین علي رضی الله عنه په څېر شخصیت داسې کمزورې خبري وکړي؟!! آیا یوازې دغسې خبري کافي نه دي چې ووایو: نهج البلاغه د سید رضي د اقوالو مجموعه ده نه د علي رضی الله عنه د ویناوو؟!!

د نهج البلاغه روايات اکثراً يو راوي لري، کومه طريقه چي اهل سنت و جماعت د روايت په اړه لري، سعي کوي د هر روايت سند تر پيغمبر عليه السلام پوري ورسوي، د رواتو په اړه څېړنه کوي، ثقه او غير ثقه ئې په ګوته کوي او د روايت د اعتبار کچه ټاکي، له دغو نه هيڅ څه په نهج البلاغه کې نه مومو.

## د Q ټلويزيوني چينل په اړه:

ستا د ويناوو له اورېدو وروسته مي د Q چينل ځيني نوري برخي هم وليدې، په پای کې دې نتيجې ته ورسېدم چي دا چينل به يا ايران ټمويلوي يا انګريزان، په دې موخه چي د حقيقي اسلام او سني مذهب نوم بد کړي او د داسي دين او مذهب په توګه ئې معرفي کړي چي له خرافاتو ډک دئ، دښمنانو اسلام په دوو ډولونو وېشلی: راډيکال اسلام او ټرېډيشنل اسلام (يعني سياسي او انقلابي اسلام او د سياست او جهاد مخالف اسلام، يعني جهادي اسلام او صوفيانه اسلام)، يو خوښوي، وده ورکوي، مرسته ورسره کوي، تلويزيوني چينلونه ورته جوړوي، د اسلامي هېوادو حکام دې ته اړ کوي چي د دوی د خوښي اسلام وپالي، له بل اسلام نه سخته وېره لري، په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چي دا اسلام او پلويان ئې وځپي او د تروريستانو په تور ليست کې ئې ونيسي، دښمنان هغه اسلام نه خوښوي چي وايي: له طاغوت نه انکار وکړئ، له قيصر او کسری سره ډغري ووهئ، شيطاني نظامونه نسکور کړئ، د خدای پر زمکه بايد يوازي د الله تعالی دين حکومت وکړي، مظلومان د ظالمانو له منګولو وژغورئ، عدل او قسط قائم

کړئ... دوی هغه اسلام خوښوي چي خلکو ته ووايي: له دنيا لاس واخلئ، دنيا کافرانو ته پرېږدئ، تاسو آخرت خپل کړئ، خدای دنيا د کافرانو لپاره او جنت ستاسو لپاره ټاکلی، د چا په ښه او بد غرض مه کوئ، په اورادو او اذکارو سره هغه مقام ترلاسه کولی شئ چي مجاهدين ئې د خپل سر او مال په قربانولو نشي ترلاسه کولی ... د دښمنانو پرېکړه دا ده چي صوفيانه اسلام د جهادي اسلام په ضد وکاروي، انګرېزانو داسي ډېر ټلويزيوني چينلونه، راډيوګاني، مجلې، ورځپاڼي او ډلي جوړي کړې، پالي او ځمويلوي چي په همدې موخه ترې استفاده کوي، قاديانانو ته ئې هم داسي چينلونه جوړ کړي، ما دغه چينل داسي وموندو چي چلوونکي ئې غواړي له اسلام او سني مذهب نه يو کرکجن انځور وړاندي کړي، ما هغه برخه هم وليده چي يو ټګمار بل ټګمار د شيخ الحديث په نامه معرفي کوي، د دواړو له څېرو، ويناوو او حرکاتو معلومېږي چي په ټګمارۍ کي تخصص او مهارت لري، يو غمځپلی او مصيبت وهلی ناپوه انسان به په دې هيله ټيلفون ورته وکړي چي له ستونزو د وتلو لار وروښيي، دوی به ئې خپل نوم او د مور نوم وپوښتي، بيا به دا ټګمار شيخ الحديث د يوې پاڼي پر سر قلم وخوځوي، څه محاسبه به وکړي او هغه کس ته به دا ځواب ورکړي: حساب وايي چي ستا په کار کي څه خنډ شته، پېريان دربandي ناست دي، ستا کار کي ستونزي راولاړوي، کوډي درباندي شوې، بايد زموږ دفتر ته راشي چي تعويذ درکړو، تر هغه وخته دا اذکار او اوراد وايه، إن شاء اللّٰه تعالى مشکل به حل شي...!! کله چي انسان د دغو ټګمارانو دا مسخره لوبه ګوري او د RINKER له هغو غولوونکو تجارتي اعلاناتو سره ئې مقايسه

کوي چي د زرو روپیو توکی به په لومړي سر کې په ٤٩٩٩پلوري او ورو ورو به ئې قیمت ١٤٩٩ته راکوز کړي، نو یقیناً چي وبه وایي: دا غولوونکي اعلانات د هغو مذهبي ټګمارانو تر اعلاناتو ډېر ښه دي چي خلك د دین او مذهب په نامه غولوي او شکراني او نذراني ترلاسه کوي، دوی خو که په چل او دوکې سره له خلکو پیسې اخلي او ارزانه توکی په لوړه بیعه پلوري، خو دا ټګماران هم پیسې ترې اخلي او هم ئې دین او ایمان؛ او په بدل کې ئې په زېړ رنګ لیکل شوې یوه وړه پاڼه د تعویذ په نامه ورکوي. ما ته دغو ټګمارو رمالانو او فال نیوونکو د ایران یو آیت الله را په یاد کړ، هغه د خمیني ځای ناستی وو چي وروسته عزل شو، د ایران له انقلابه وروسته مي ملاقات ورسره درلود، د خبرو په دوران کې د ده سکرتر څو ځلي راغی او ورته وئې ویل چي همغه مېرمن ده، ده دوه ځلي ورته وویل چي اوس ئې پرېږده، خو سکرتر په درېیم ځل مجبور کړ چي ځواب ورکړي، نو جناب آیت الله خپلي خوا ته تاخچې ته لاس اوږد کړ او مصحف ئې راواخیست، هغه ئې پرانیست او بیا ئې سکرتر ته وویل: بګو بده: ورته ووایه چي بد دئ!! دا هغه قرآن وو چي په ایران کې چاپ شوی، په ځینو صفحو ئې خوب (ښه) او په ځېنو بد (بد) لیکل شوي، ایرانیان په دې او د حافظ شیرازي په کلیات فال نیسي، مصحف پرانېزي، که هغه صفحه پرانیستل شوه چي خوب پرې لیکلی نو فال ئې سم او بخت ورسره مل دئ او که هغه بله صفحه پرانیستل شوه نو بخت ورسره یاري نه کوي او کار ئې بد دئ!! له ځان سره مي ویل: که آیت الله ئې داسي وي نو آخوندان به ئې څنګه وي؟!! دا به څنګه په افغانستان کې د یوه واقعي اسلامي انقلاب

ملاتړ او تأیید کوي؟!! ومو لیدل چي ایران له افغان جهاد او مجاهدینو سره دومره جفا وکړه چي اسرائیل ورسره نه ده کړې، د افغانستان او عراق په نیولو کي دوی له صلیبي ځواکونو سره لاس یو کړ او ایران پلوه افغاني او عراقي شیعه ډلو ته ئې وویل چي د امریکایانو تر قومندې لاندي د سنیانو مقابله وکړي!! دا په داسي حال کي چي پیغمبر علیه السلام د هغه چا په اړه چي فال لیدونکي، نجومي او رمال ته ورځي او د هغه په خبري باور کوي داسي فرمایي چي په دې کار سره ئې هغه قرآن تکذیب کړی چي پر محمد (علیه السلام ) نازل شوی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّه -صلى الله عليه وسلم- :« مَنْ أَتَى عَرَّافًا أَوْ كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ

ما په دغو ورځو کي د دې چینل په خپرونو کي له هیچا وانه ورېدل چي د مسلمانانو په موجوده دردناك حالت او ستونزو ئې بحث کړی وي، د اسلام د دښمنانو جنایات ئې غندلي وي، د مسلمانانو په بې رحمانه وژلو ئې خفګان ښودلی وي، د افغانستان، عراق، فلسطین، کشمیر او د نړۍ له نورو مظلومو مسلمانانو سره ئې د خواخوږۍ څو کلمات په خوله راوړي وي او مسلمانان ئې جهاد ته هڅولي وي، برعکس دا مي تري اورېدلي چي جهاد في سبیل الله ئې جهاد اصغر او جهاد مع النفس، اوراد او ذکر ئې جهاد اکبر ګڼلی او په دې توګه ئې د هغو خلکو د جذباتو د سړولو هڅه کړې چي د مظلومو مسلمانانو د بدو ورځو په لیدو سره تحریك شوي او د جهاد عزم په کي راپارېدلی. باور مي دا دئ چي دا کار د یوې منصوبې لاندي ترسره کېږي، که نه نو هر په دین پوه انسان په دې پوهېږي چي د

جهاد اکبر او اصغر په نامه په قرآن کې کومه اصطلاح نشته، په کوم روایت کې چې دا خبره شوې د ټولو محققینو له نظره دا روایت بې بنسټه او د قرآن له صریح آیتونو سره متعارض دئ، په قرآن کې (جهاد بالنفس) راغلی چې تر ټولو اعظم او اکبر عبادت ګڼل کېږي چې هغه خپل سر د الله تعالی په لار کې قرباني کول دي، د قرآن په هیڅ آیت کې د (جهاد مع النفس) الفاظ نه دي راغلي، د ټولو محققینو او ائمه وو له نظره جهاد في سبیل الله یوازې قتال في سبیل الله دئ نه بل څه، او په قرآن کې تل له هجرت نه وروسته د هغه یادونه شوې، تبلیغ ته جهاد في سبیل الله ویل یا تعلیم، تدریس، د ذکر حلقو ته د جهاد في سبیل الله نوم ورکول یوه مغالطه او د قرآن په نسبت بې باکي ده، په قرآن د ایمان تقاضاء دا ده چې هره اصطلاح به ئې په خپل مورد او ځای کې کاروو، قرآن وایي چې د هدایت دروازې د مجاهد پر مخ پرانیستل کېږي، څوك چې له جهاده ډډه وکړي د هدایت ټولې دروازې به ئې پرمخ تړلې وي،

وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ * العنکبوت:٦٩

قرآن وایي چې په دین کې تفقه د الله په لار کې د نفیر له لارې ترلاسه کړئ

(...فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ * التوبة: ١٢٢

... ولې دې د دوی (مؤمنانو) له هرې ډلې یو ټولګی ونه وځي چې په دین کې پوهه ترلاسه کړي او هغه مهال چې خپل قوم ته بېرته ستنېږي انذار ئې کړی، ترڅو ځان ساتنه وکړي.

څوک چي (نفير) د علم د زده کړي لپاره وتل تعبيروي نه د جهاد في سبيل الله لپاره وتل؛ مغالطه کوي او د قرآن يوه مخصوصه جهادي اصطلاح ناسمه او غلطه تعبيروي.

## تتمه:

زه د الله تعالی په نامه تا ته بلنه درکوم چي راځه دا خرافي عقايد او افکار لري وغورځوه، د الله د لاري يو مخلص او مجاهد داعي جوړ شه، قرآن ته مخه کړه، قرآن د خپلي لاري مشعل او د دعوت موضوع وګرځوه، له اسلام او اسلامي امت نه د دفاع لپاره ملا وتړه، د اسلام د سترو دښمنانو په ضد داسي ملاوتړه لکه ابراهيم عليه السلام چي د نمرود په ضد، موسی عليه السلام د فرعون په ضد او محمد عليه السلام د ابوجهل په ضد جهاد وکړ، اسلام همدا دئ او د اسلام تقاضاء همدا. راشه له خپلو تبليغاتي امکاناتو نه په استفادې سره دا هڅه وکړه چي د خلکو توجه له مخلوق نه خالق ته واړوي، له مړي انسان نه ژوندي خدای ته، له قبرونو او قصرونو نه د عرش مالك ته، له زيارت نه جومات ته، له ساز، سرود او نعت نه د قرآن تلاوت ته، له رهبانيت نه جهاد ته او د خانقا له کونجه سنګر ته، باور وکړه د هغو کسانو چي په زيارتونو کي راغونډيږي، له قبر نه ئې ځان ته دکان جوړ کړی، شکرانو او نذرانو ته سترګي په لار وي، د دوی تر زرو کسانو هغه فلسطينی ماشوم هم غوره دئ چي د يهودانو ټانکونه په ډبر ولي، هغه هلك هم غوره دئ چي د خپل ايمان او عقيدې په حکم د لاهور

په سرکونو کې د امریکا او اسرائیل په ضد شعارونه ورکوي او له مظلومو مسلمانانو نه دفاع کوي.

زموږ صالح سلف، صحابه وو او تابعینو به له سنګر نه هغو کسانو ته چې په حرم کې به په عبادت لګیا وو داسې پیغامونه لېږل:

| | |
|---|---|
| يا عابد الحرمين لو أبصرتنا | لعلمت أنك في العبادة تلعب |
| من كان يخضب جيده بدموعه | فنحورنا بدمائنا تتخضب |

اې د حرمینو عابده! که زموږ حال وګورې؛ نو پوه به شې چې ته په عبادت کې هسې لوبې کوې!! که څوك خپله غاړه په اوښکو لمدوي نو زموږ مخونه په وینو سره دي.

په پای کې ستا د بیان د اسلوب په اړه څو مشورې درته لرم:

- ستا د بیان اسلوب د یوه داعي نه بلکې د یوه مجادله کوونکي دئ.
- د هوښیار او په دین پوه انسان د زړه او عقل دروازه نه ورته پرانیستل کېږي.
- لهجه دې ډېره تنده او غږ دې له ضرورته زیات لوړ وي، هغه هم په ډېرو وړو مسئلو د ترکیز په لړ کې.
- د خطاب په وخت کې ستا حرکات، د لاس تونډ تونډ خوځول، یوې بلې خوا ته تېز تېز کتل، په کرسۍ یوې خوا بلې خوا ته کېدل، ډېر نامناسب دي او له یوه درونډ خطیب او مؤمن داعي سره نه ښایي، حرکات دې داسې

دي لکه د سیاست والو او هغه هم د انتخاباتو په دوران کې، او په دې موخه چي د بې علمو عوامو توجه جلب او رأیه ئې ترلاسه کړي.

- ستا حرکات او لهجه مخاطب ته دا انتباه ورکوې چي ته فقط دا خوښوې چي خلك دي تحسین کړي.

- ستا اکثر دلایل، استدلال، تعبیر، تفسیر او تأویل مي له حقیقته ډېر لري او داسي وموندل چي د خپلي رأیي د اثبات لپاره دي په ډېر تکلف سره د دلایلو موندلو نه بلکي جوړولو هڅه کړې او دا هڅه ډېر ځلي په ښکاره ډول په تحریف منتج شوې. والسلام علی من اتبع الهدی

عبدالله

ستاسو یو افغان خواخوږی

## عائشه رضی الله عنها وايي:

که چا درته وويل چي محمد صلی الله عليه وسلم خپل رب ليدلی دئ نو پوه شه چي دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالی فرمايي: "سترګی ئې نشي ليدلی"، "او هيڅ انسان لره نه ښايي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا نه او يا کومه فرشته وليږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چي غوښتي ئې وي" او که چا درته وويل چي هغه علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه الله تعالی فرمايي: له الله پرته هيڅوک علم غيب نه لري.